Ketabona | کتابونه
WWW.KETABONA.COM



@Ketabona
DOWNLOADED
WWW.KETABONA.COM
info@ketabona.com

شپېلۍ

شاعر:
عبدالباري جهاني

جهاني خو دا ځل له "شپېلۍ" سره

"که د غلـــــــيم په وينو سره توره مي رانه وړله
مـــــوري د ورور په وينو سره لاســــــونه نه لرمه
که د ناموس د غليم خويندي مي سرتوري نه کړې
پر غليـــمانو مي د خويندو ســــــتر نه پلــورمه
که خپل مورچل مي په سرو وينو لمــبولی نه دی
ســـتا د پلو د دښـــمنانو سنـګر نه ســـاتمه"

ښاغلی شاعر عبدالباري جهاني د پښتو د نوي شاعرانه دوران، په هغو نومیالیو شاعرانو کې راځي چې پر خپلو شعرونو یې د غه شاعرانه بهیر ښکلی کړی، رنګین کړی او ځلولی دی. له دغې شعري ټولګي څخه وړاندي چې دا دی د "شپېلۍ" په نوم ستاسو په لاس کې ده د شاعر دري نورې ټولګې هم خپرې شوې دي : "ورکه مېنه"، "پایکوب" او "د سباوون په تمه" او هغه ټکي چې ښاغلی جهاني یې زما په نظر، زمونږ په معاصره شاعرۍ کې زیات ځلولی او د ده د شعر هنګامې یې هري خوا ته خپرې کړې دي، په دې ډول شمېرلی شو :

۱ _ د جهاني په شاعرۍ کې، د افغانستان د مقاومت د شاعرۍ ډېرې ستړې او لومړنۍ ببلګې خوندي دي. جهاني هغه شاعر دی چې پر

افغانستان د کمونېزم او سور یرغل په وړاندې د مقاومت د پیلامې هنګامې یې تودې کړې، دغه بېلګه یې له غمیزې مخکې زمزمه کړه خو لکه وروستیو حالاتو ته چې یې ویلې وي، داسې یې د مقاومت سندرېزه ډالۍ ترې جوړه کړه او د "ناشناس" خواږه غږ نور ښایست هم ورکړ :

دا د مستو پسرلی دی، دا د اور سبزه کوبي ده
هره پاڼه خماري ده، هر ګلاب مو شرابي سو
را ایستلې توره راغی، د ساقي د وینو تږی
زموږ مستي چې یې لیدله شیخ پخپله خماري سو
د ګناه په خُم کي رنګ سول د زاهد د پګړۍ ولونه
پر هډوکو یې لړزه ده، ټینګ ایمان یې شیطاني سو
صف ته راغی د رندانو، د اغیارو له ټولیه
موږ یې زهرو ته بللو، خپل سوما یې زقومي سو
په موج خېزه هیبت راغلې د فلک سېلابي کرږي
زموږ بېړۍ یې ډوبوله خپل توپان یې توپاني سو
د خزان له هر سر کوبه، سل پایکوبه پورته کیږي
هره ترخه نسترن دی، هر یو زوز مو ګلابي سو
اوروي صدفي څاڅکي، ښخوي د مستۍ تخم
هر نرګس ته یې جام ورکړ، هر یو بوټی یې یاغي سو
رېږدوي د زړو تارونه د ګناه شېرینه تنده
ړنګوي د تقوا غرونه هر کلنګ یې فرهادي سو

د روسي يرغلګرو او د هغو د برېښځو په وړاندي د جهاني د شعرونو هنګامې، د افغانانو د سپېځلي جهاد او مقاومت د ادبي سنګر په ډېرو ارزښتمنو تاريخي بېلګو کي د حسابولو وړ دي، لکه :

وايه شين آسمانه تا کوم بل چېرته ليدلي دي
داسي ارادې چې توپانونه خپلولای سي
داسي ولسونه چې سپلونه ابلولای سي
داسي کلک سوکونه چې ټانکونه اوبولای سي
دغسي سينې چې فلکي سپلاب راګرځوي
دغسي طغيان چې ياغي سوي سپلابونه خوري
دغسي ناره چې اسرافيل ورځخه وربږدي
دغسي قيامت چې دوږخونه خوري اورونه خوري

(ترپايه)

او يا لکه چې په "زما کندهاره" نومي مشهور شعر کي وايي :

زما کندهاره د زمرو وطنه
زما د سرکښبنو پښتنو وطنه
څونه ياغي يې صدقه دي سمه
د نافرمانو جنګيالو وطنه
بيا دي ترنک توپاني سوی وينم
بيا دي ارغند په مستبدو راغلی
بيا ارغسان دی بيا موجونه وهي
بيا دي هلمند په خروښبدو راغلی

بیا د زړې توري د خـــــرپ یادونه
بیا دي په ســترګــو کي اورونه وینم
بیا له ایوب ســره لښـــــکري راغلې
بیا د رښــدیو داســـتانـــونه وینم
لــکه چې بیا دي څــه یرغل نیت دی
لــکه چې بیا دي غــورېدو ته زړه سو
لکه چې بیا دي څه په زړه کي ګرځي
لــکه چې بیا دي خوځېدو ته زړه سو
زما کـــــندهاره د زمـــــرو وطنه
زما د سرکـــــښو پښـــــــتنو وطنه
څـونه یاغي ســـوې صدقه دي سمه
د نافــرمانو جنـــــګیالو وطـــــنه
ســـــتا د پایلوچــو ترپــګړیو واری
ســـــتا د تېرو تېغونو جنګ وګرځم
ســـــتا له غـــرور څخه کاږه تـــګونه
ســتا قهر وګرځم، ستا ننګ وګرځم

بیا د مـــلالي مـــــیوندی خرخښه
بیا تورپیکی د فـــرنګ خونه سوځي
بیا د بابا د پـــــاني پت هـــــنګامه
بیا شاه محـــمود اصفـهانونه سوځي

بیا د ګرګین پر کور مرګی مېلمه دی
بیا د مـــــیرویس په نامه وغورېدې
بیا د اشـــــرف د انتقام لـــــمبه ده
بیا دي د قـــــهر ویني وخـــوئېدې
بیا دي لـــــــمن له شـــهید انو ډکه
بیا د کـــــوچني غـــازي زانګو زنګوې
بیا دي په وریځو کي ســـېلونه ګرځي
بیا یې په غـــېږ کي زلـــزلې ویښوې
زما کـــــندهاره د زمـــــــرو وطنه
زما د ســـــرکښو پښتـــــــتنو وطنه
څـــونه یاغي یې صـدقه دي ســـمه
د نافرمـــــانو جنـــــګیالو وطنه

د ښاغلي باري جهاني د دغه ډول شعرونو ښلګي ښخي زیاتي دي چې د افغانستان د معاصرو ادبیاتو په څېړنه کي به د مقاومت د لومړنیو، لوړو او سترو ښلګو په توګه، د مقاومت په ادبي تاریخ کي مطالعه او څېړل کیږي.

۲- د ښاغلي عبدالباري جهاني د شاعرۍ د ګرانښت یو بل راز په دې کي پروت دی چې دغه شاعري له پیل څخه له یو ډول مستۍ، یاغي توب او "مستانه نافرمانۍ" سره ملګري ده، د همدغه ټکي په پام کي ساتلو سره، جهاني د افغانستان په معاصره شاعرۍ کي ځانګړی دریځ لري. زما په نظر دی د افغانستان د معاصر پښتو شعر د دوو نسلونو تر

منځ د ارتباط د کړۍ په توګه باید په پام کي ولرو، د معاصر پښتو شعر د منځنۍ دورې د پای او د نوي شاعرانه دوران تر منځ د پیوستون د کړۍ په توګه. د داوٰد خان د جمهوریت په دوره کي)چي د شعري سخت سانسور دوره هم وه(د ده د شعر هنګامې پیل شوې او شاعري یې له پیل څخه له نوښت او مستانه ولولو سره ملګرې وه. د جهاني په شاعرۍ کي دغه "مستانه نافرماني" د دوو کلیشو او چوکاټونو په وړاندي راڅرګنده شوه :

الف :- د وخت د سرکاري او حکومتي چوکاټونو او "سرکاري شاعرۍ" په وړاندي.

ب :- د ټولني د هغه وخت د یو شمېر عنعنوي چوکاټونو په وړاندي. جهاني په خپلو لومړنیو شعرونو کي هم د دغو دواړو چوکاټونو په وړاندي ودرېد او همدغه خبره ده چي فاضل استاد پوهاند رشاد یې "یاغي او مبتکر" شاعر بولي.

د شاعر د مستانه شاعرۍ بېلګي بېخي زیاتي دي، خو راځئ یو څو نمونې یې ولولئ :

موږ لېونو ته د حساب خبري مه یادوه
ستا تر دوږخ پوري پېړۍ دي، دلته شپې پاته دي
ته د ګناه بڅري مینځې د پرهېز په اوښکو
زاهده پټي دي په وینو کي لمبې پاته دي
د جهاني شونډو ته نه راځي توبه زاهده
چي د قسمت په میخانه کي پېمانې پاته دي

او يا دا چي :

دلـــته سرونه ببله کانړو بل څـــــــه نه پيژني
دغه واعظ او دا کـتاب په مـــدرسو کي ښه دي
ما لا تازه له خـــپل جانان سـره وعدې نوي کړې
زاهـــده ســـتا حوري غلمان په جنتو کي ښه دي
منزل ته لاري د خـــلوت په تاريـــکو کي نه وي
څوک چي د حق نارې وهي په غرغړو کي ښه دي

۳- لکه څنګه چي مخکي اشاره ورته وسوه، په افغانستان کي د ثور د غميزي او بيا د روس د يرغـل په وړاندي، د جهـاني شعر هـم، د افغانستان د مقاومـت په ادبـي تـاريخ کـي د يـادونې وړ ځـای لـري. پـه افغانستان کي د روسانو له ماتي او بيا تش په نوم د "جهادي او اسلامي" حکومت له جوړېدو او د شر او فساد له رامنځته کېدو او د ټوپکوالۍ له واکمنېدو وروسته، د افغانستان په خپل منځي جګړو کي چي څومره بدمرغۍ رامنځته شولې، دغو پېښو، د جهاني پر شاعرۍ هم خپل اغېز وکړ، له جګړې کرکه، له شعارونو کرکه، يو ډول ژوره ناهيلي، ويرا او ماتم د دغو شعرونو ببلابېلي ځانګړني جوړوي. هغه دا ځل هم شينکی آسمان مخاطب کوي دا ځل هم کندهار ته سرودونه او ترانې ليکي، خو د رزم د هغه مقاوم ارخ پر ځای د ويرا او هغه د ښاغلي محمد معصوم هوتک په وينا "قنوطيت" په کي راڅرګندوي :

ما خـــو دا نه ويل شينکی آسمانه
چي به د اورد پاســـــه اور راځي

زما د غيرت شمله به کښته ګوري
زما هـــديرې ته به پېـــغور راځي
آســـمانه ما خو داسي نه غوښتله
چې د ښـــارونو جـــنازې وژاړم
چې مې په کليو کې بلا لـــنګه سي
چې د ځـــوانيو هـــديرې وژاړم

آســـــمانه ما خو داسي نه ويله
چې د کابل ګـربوان ته اور توی که
زمـــا په جونـــګړه کې بلا وکړه
زما په لستونې کې ښامار لوی که

ما چې مـــيوند ميوند ناړې وهلې
ما يې په غـــېږه کې ګلونه غوښتل
ما چې هلـــــمند ته ترانې ليکلې
ما يې پر غـــــاړه اتڼونه غوښتل

ما چې ټانـــکونه په سوکونو وهل
هغه مې خـړ وطن سمسور غوښتی
ما چې ســکروټې په غابنو چيچلې
ما مې ســـړو وينو ته اور غوښتی

(شعر تر پایه)

هغه وخت که شاعر، د مورچل ځوان، د وطن د دفاع لپاره له پردیو او د پردیو له نانځکو سره جګړې ته هڅاوه، اوس د انتقام او جګړې پر ځای، ځولۍ ورته غوړوي چې له مورچله راکوز شي:

ځوانه دا څوک یې چې ګولۍ اوروې
د خپل نیکه او خپل ابا پر کلي
دې هدیره کې دي خپلوان پراته دي
څوک یې پرون څوک یې پخوا ویشتلي

د خدای دپاره ځوانه مه اوروه
د خپل ابا پر مېنه سره اورونه

۴- د جهاني د شعر په شهرت او محبوبیت کې د ټنګ ټکور او موسیقي ونډه هم د یادولو وړ ده. جهاني لکه چې خپله له موسیقي سره ځانګړې مینه لري، ځینې شعرونه یې د موسیقي یو خاص کیفیت لري. په تېره بیا د هیواد د نومیالي هنرمند سندرغاړي ډاکټر صادق فطرت (ناشناس) خواږه غږ د دغو شعرونو ښکلا نور هم زیاته کړې ده. ما د "جهاني او ناشناس" په اړه یو جلا مقاله هم کښلې او د خپلو خبرو په یو ځای کې مې کښلي دي: "یوه ورځ چا خبره راته وکړه: د جهاني شعرونه ځکه دومره شهرت ته رسېدلي دي چې د ناشناس له سندریز غږ او د ټنګ ټکور له څپو سره یو ځای شوي دي. بله ورځ یو بل چا راته وویل: د ناشناس د سندرو د ښایست او ارزښت یو اساسي علت دا دی چې هغه د

خپلو سندرو لپاره د شعرونو په انتخاب کې ډېر ژور او "سختګیر" دی. هغه د سندرو لپاره د نومیالیو شاعرانو د شعرونو غوراوی کوي لکه: خوشال بابا، حمید مومند، رحمان بابا، استاد حمزه، جهاني او ...

زما په نظر دغه داوړه خبري بې ځایه نه دي. د جهاني د شاعرۍ په شهرت کي به د ناشناس د سندریز هنر له اغېز څخه سترګي پټې نه کړو. دغه راز د ناشناس د سندریز هنر په ښایست او ځلونه کي هم د جهاني په څېر د شاعرانو د شعري پیاوړتیا له اغېز څخه سترګي نه شي پټېدای لکه دواړه چي یو د بل بشپړوونکي وي ...".

۵- د ښاغلي جهاني پر شعر د محتوا او هنر له هغې پیاوړتیا سره سره چي مخکي خبري پرې وشوې، تر یو وخته د فورم، وزن او چوکاټ له پلوه یوه داسي "کلیشه" غالبه وه چي د هغه شعري ښکلا ته یې د هنري تنوع پر ځای، یو رنګي وربخښله او "مونوټون" کاوه یې. دا په خپل وخت کي د پښتو په نوې شاعري کي یو نوی ګام و چي د یو ډول څلوریز ډوله نظم په چوکاټ کي وړاندي کېده او د ازادي شاعرۍ پر لور لومړني ګامونه وو چي په تېره بیا د حماسي شعر لپاره د وخت غوره انتخاب و، خو بیا بیا تکرار یې نوښت کماوه او پر تکراري چوکاټونو یې بدلاوه، داسي ښکاري چي شاعر وروسته بیا د دغه تکرار پر ځای د چوکاټونو رنګارنګۍ ته هم خپله پاملرنه اړولې ده. په را وروسته شاعرۍ کي یې د نوي غزل او آزاد شعر پر لور هم په زړه پوري ګامونه اخیستي دي.

د جهاني غزليزه شاعري، په پرله پسې توګه د ښکلا او پياوړتيا پر لور روانه ده او له يوې ټولګي څخه بلې ته د لا زيات ښايست لرونکې ده :

دا ميـــکده په نڅـــــېدلو ارزي
ساقي دا جام دي په څښلو ارزي
چي لېونتوب ته عقل وتخـــنوي
دا زولني په شـــــرنګېدلو ارزي
چي يې کيسې د مينې تخم کري
هغه وزر په سوځـــــېدلو ارزي

او :

خـــمار مي نه ماتېږي شرابونه بېګانه دي
ساقي راته اشنا دی خو جامونه بېګانه دي
سجدې ته يې د يار کوڅې ته نه يمه بللی
پردی قاصـــد راغلی پېغامونه بېګانه دي
دې ښار کي ربابونه د سنګسار په غږ کي غواړه
نغمې ګـــوتو کي ژاړي شـــهبازونه بېګانه دي
چي زما د لېونو چـــــغو جـــواب ورسره نسته
يا زه يم بدل ســـــوی يا دا غـــرونه بېګانه دي
ســـجدې د جـــهاني پرتندي مه غواړه زاهده !
په دې ســرکښه ښار کي محـــرابونه بېګانه دي

تر دې ځایه پوري نژدې ټولې خبرې د ګران شاعر عبدالباري جهاني د هغو پخوانیو شعري ټولګو د بېلګو پر بنسټ وشوې، چې مخکې خپرې شوي دي : "ورکه مېنه"، "پایکوب" او "د سباوون په تمه"، اوس خو دا دی شاعر "شپېلۍ" راته غږوي او دا ځل د شپېلۍ د سندریز غږ له ښایست سره د خپل شعر ښایست یو ځای کوي.

په دې توګه نو دغه "شپېلۍ" د شاعر څلورمه خپرېدونکې شعري ټولګه ده. سره له دې چې د "شپېلۍ" ټول شعرونه د سریزې د کښلو لپاره زما مخې ته نه دي پراته، خو زه باور لرم چې ټول او یا زیاتره به یې ما په جرمني، هالنډ، ډنمارک او سویډن کې د ښاغلي جهاني په ویاړ د افغاني بېلابېلو کلتوري ټولنو په غونډو کې د ګران شاعر په خپل غږ کې اوربدلي وي. له نېکه مرغه په دغو غونډو کې زه هم حاضر وم او د یو څو خو یې ویډیویي پټې (کیستې) هم لرم.

د "شپېلۍ" د شعرونو په اړه او یا خو غوره ده ووایم چې د جهاني د را وروسته شاعرۍ په هکله، څو ټکو ته په لومړي ګام کې پاملرنه پکار ده :

۱- لومړنۍ خبره دا ده چې په دغه مجموعه کې زموږ د ښاغلي شاعر، د شعري یون د پرمختګ ډېره غوره ننداره کولای شو. شاعر په دغو بېلګو کې د ښایست نوي نښې نښانې او نمونې زموږ مخې ته ږدي او د پښتو شعر بهیر ته یې ډالۍ کوي. د شاعرانه ژورتیاوو او لوړ تخیل نمونې د هغه په نوې شاعرۍ کې لا زیاتې شوي دي:

کلونه تېر ســـــوله کیسې د ښـاره نه راوزي
زېری به نه غـــــواړو ګیلې له ښاره نه راوزي
نه د زړې مینې داسـتان دی نه د نوي کړیکه
روییبار ګونګی دی خاطرې له ښاره نه راوزي
د پتنـګانو وزرونو سوځـــــــبدل هېر کړي
زمونږ ماښـامونو ته ډېوې له ښـاره نه راوزي
دا د عـــــمرونو جـــــنازه دلته چا وټومبله
بڼغ د رباب او د نغـــــمې له ښاره نه راوزي
کلابندي ده نور وتلای نه راوتلای سي څوک
مـــېړونه چیري دي شملې له ښاره نه راوزي

او یا لکه چې په یو بل غزل کې وایي :

دا څه جـــنون دی تر منزله رغړېدل چې نه وي
دا څه منزل دی په لمبو کې سوځېدل چې نه وي
زاهـــده خوله دي د دوښخ په کیسو ستړې کړله
دا څه خـلیل دی تر انګاره پورې تلل چې نه وي
پښـــــېمانه نه یم شـــــیخه مه رایاد وه قولونه
دا څـــه توبه ده په زرغـلـه ماتېدل چې نه وي
(ترپایه)

۲- د شاعر په نوې شاعرۍ کې د جولې او منځپانګې (فورم او مضمون) دواړو تنوع تر پخوا زیاته راځرګندېږي. دلته هم منظوم ډوله

شعرونه شته، هم د قصيدو بېلګې په کې وينو، د نښکليو او لوړو غزلو نندارە هم کولای شو او بې له شکه چې دغه غزلي د شاعر د پخوانيو دريو ټولګو له بېلګو زياتي، لوړې او نښکلي دي. د آزاد شعر بېلګې هم په کې وينو چې له هنري پلوه د لا زياتي پاملرنې وړ دي.

۳- څرنګه چې په دغو شعرونو کې د هيواد د حالاتو ژوره انځورګرې شوې ده او له بده مرغه د وطن حالات داسې دي چې د نښادۍ پر ځای يې د ويرې شېبې زياتي او درنې دي، شاعر هم زياتره د همداسې شېبو شاهد او انځورګر دی. ما چې مخکې د کومې "ناهيلۍ" يادونه کړې وه، په وروستيو بېلګو کې نه يوازې دا چې دوام کوي، دغه د نا اميدۍ درد لا ژور او غمګين دی. په دې لړ کې کېدای شي د :

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره؟

په نوم نظم او ځينو نورو شعرونو ته ځانګړې پاملرنه وشي.

۴- د شاعر په وروستيو شعري بېلګو کې د هغه منظوم داستاني او حکايتي شعرونه د لا زياتي پاملرنې وړ دي. زه د نښاغلي جهاني د شعر په بېلابېلو غونډو کې د دې شاهد يم چې دغه لنډ منظوم داستانونه دومره اغېزناک دي چې د ګران شاعر له نورو ډېرو خوږو شعرونو څخه هم، له زياتي بدرګې سره مخامخ شوي دي او بيا بيا يې د اورولو ټينګار شوی دی.

په دغو کيسو کې يې نظمونو کې د نمونې په توګه د "موږک شېر"، "د پيشو توبه"، "شيخ نصرالدين"، "چرګ او باز"، "مهارکړي

اوښان" او يو شمېر نورو يادونه کولی شو چې د کيسې په څنګ يې لنډ شاعرانه پيغام هم د غوړولو دی، چې په ډېر منطقي انجام کي راځي، لکه :

چې د بل په مـــتو غټ سي يا زمـــــري سي
په هغه ګـــړي له قـــــام ځـني پردي سي
چې يې عقل خدای موږک غوندي کوچنی کړي
يوه ورځ پر خـــپل باندار باندي غـورځی کړي

يا :

له ازله مو نصيب راغـــلی خواردی
چې لوبدلی مو د بل په لاس مهار دی

جهاني د پښتو د اوسني شعر له نومیالیو مخکښو شاعرانو څخه دی، جهاني د افغانستان د اولس د ژوند په ډېر غمګين پړاو کي، ډېر پرتمين شعرونه زمزمه کړي او لا يې زمزمه کوي، په دغو زمزمو کي به هماغه جهاني وګورئ خو دا ځل له "شپېلۍ" سره، او د سندريز غږ له ښايست سره. ورته غوږ شئ، وايې ورئ، ويې لولئ او خوند ترې واخلئ:

جهاني مه بوله ساحل ته لامبوزن لاسونه
د دې ياغي مالت وګـړي په بلا پسي ځي

په مينه

زرين انځور

۲۰۰۱/۹/۳ ع

۱۳۸۰/٦/۱۲لمریز

جرمني–د کولن بنار

غزلي او سندري

مناجات

کـور پـه اور کـي د اغيـار درځخـه غـواړم
د جانـان غليمـان خـوار درځخـه غـواړم
چـي غمـاز مـي د جانـان پـه کـور کـي بـولي
ژبـه ګونګـه د رويبـار درځخـه غـواړم
کـه تـر مرګـه پکـښي ځـان يـوازي ويـنم
د هينـدارو کـور سنګسار درځخـه غـواړم
چـي مـي سترګي بې جانانه بل څوک وينـي
ځان منصور غوندي پر دار درځخه غواړم
د سـبا پـه شـان بـې نومـه بـې رويبـاره
کـور پـر سترګو د دلـدار درځخـه غـواړم
چـي رقيب مـي د لحد لـه کيسو کـوږ سـي
ستا پـه نـوم کـي پټ مـزار درځخـه غـواړم
چـي نمرود مـي ستا د مينـي پـه تـور سوځي
ژونـد پـه غـبرګ کـي د انګـار درځخـه غـواړم
پـه شـبنم، پـه آيينـه، پـه ګرېوانـه کـي
مـخ، جلـوه، ذکـر د يـار درځخـه غـواړم
چـي بـورا رنګـه مـي مينـه افـسانه سـي

تل سينه ځيري په خار درځخه غواړم
چې پانوس غوندې په خپل اور کې رنګين يم
د کوګل وينه مې نار درځخه غواړم
يو يې نوم غواړم په وينو کې کرلی
يو په سترګو کې نګار درځخه غواړم
يو مې سوال جواب د قبر په پښتو کې
يو لحد پر کندهار درځخه غواړم
چې يوازې جهاني درځې درشل ته
د سکروټو پر سرلار درځخه غواړم

۸-۱۱-۲۰۰۰



زه لکه پرخه په لوبدلو کي چا نه ولیدم
لکه نسیم په تېرېدلو کي چا نه ولیدم

د ګل په غېږ کي مي یوه شپه په قسمت لیکلې
لکه شبنم په الوتلو کي چا نه ولیدم

پټ له پانوسه مي رنګین کړل د ساقي لاسونه
کرار کرار په سوځېدلو کي چا نه ولیدم

نه د شاعر نه د بورا ستر ګو ته ونځېدم
د غرونو ګل وم غورېدلو کي چا نه ولیدم

نه تر اوربل نه تر ګرېوانه نه تر شونډو ولاړم
پر آشیانه په رژېدلو کي چا نه ولیدم

خوارې خوبونه د ځوانۍ لکه سبلۍ تېرېدل
د خیال مانۍ وم نړېدلو کي چا نه ولیدم
لکه نفس چې د عمرونو له محبسه وزي

د زولنو په ماتولو کي چا نه ولیدم

لکه ببړۍ کوکل مي ډک له فریاد ونو وړمه
شپه د توپان وه ډوبېدلو کي چا نه ولیدم

د حق ناړې مي له زندانه تر یزدانه تللې
د افسانو په جوړولو کي چا نه ولیدم

د جهاني په شان مي شپې کړې د یارانو سپیني
په تورو ورځو ژړېدلو کي چا نه ولیدم

ویرجینیا
۱۹۹۹ ډسامبر

ستا د راتلو په انتظار کرار کرار زوړ سوم
روییاره کله به راځي په انتظار زوړ سوم

د مرغلرو سودا کړو مي تپوس ونه کړ
تر لونګینه چا یو نه وړم پر بازار زوړ سوم

ما خو ویل چې په لمبو کي تر منزله ورځم
لکه قدم پر مځکه ولوېدم پر لار زوړ سوم

د خزانو نو له هیبته یې خوله خلاصه نه کړه
د ګل په تمه د غوتې ځنګ ته پر خار زوړ سوم

یوه شېبه مي زولنو سندره غبرګه نه کړه
د لېونو سره په کلي کي هو ښیار زوړ سوم

چا مي له ستر ګو سره دوې او ښکي ملګري نه کړې
لکه خاټول په رنګ رنګین په زړه پرهار زوړ سوم
نور مي خیالونه په خوږو نکلونو مه بیدوه

زه لـه شـپو سـتړی يـم پـه هيلـه د سـهار زوړ سـوم

تـش د دوښ لـه بېـري وچـي شـونډي نـه ګرځمـه
يـــارانو خُـــم لـــره راغلـــی وم خُمـــار زوړ ســـوم

د جهـــاني پـــانوس کوڅلـــه لمبـــې مـــه ســـپموه
لکـــه پتنـــګ پـــه ارمـــانونو د انګـــار زوړ ســـوم

ويرجينيا
۱۹۹۸ اپريل



شپبې د انتظار دي په لېمو درته ساتو
اغزي نه دي دا لاري په بڼو درته ساتو

په شرنګ چې مو ټولې د غمازانو ویښنه نه سي
محرم به لېونتوب د زولنو درته ساتو

ازل مو نذرانه د سوځېدو منظوره کړې
هر پل دي تر درشله په لمبو درته ساتو

چې سترګې د رقیب دي په جلوه روښانې نه سي
جانانه رباتونه په تیارو درته ساتو

ستا شپې دي وي روښانې موږ دي سوځو لکه
شمعي
پېړۍ دي په پانوس کې په ګزمو درته ساتو

وعده مو له فریاد او له قسمته سره کړې
دردونه لکه ژبه د زخمو درته ساتو
یوه شپه یو راغلې بې اختیاره بې خبره

شبنم غوندي موکډي پرغونچو درته ساتو

نن جنګ ته يو راغلي جهاني ستنبده نسته
مورچل په ککريو په پښتو درته ساتو

ويرجينيا
۱۲-٦-۲۰۰۰

ځوانۍ ستا پر اوږو د جنازو پر کلي راغلو
د اوښکو په ګامونو د لېمو تر کلي راغلو

هر کانۍ مو جلا له ککرۍ سره اشنا دی
په شرنګ د زولنو د لېونو پر کلي راغلو

پتنګ غوندي نصیب راته منلې وه دا لاره
محفل ته دي جانانه د لمبو پر کلي راغلو

معذوریو که نن توان د الوتو راپکښې نسته
سوځلي ګلستان ته د اغزو پر کلي راغلو

پیدا چې درته تمه نه سي زموږ د رغېدلو
خولې د زکندن یو د سلګو پر کلي راغلو

زر ځله به سي بندي د جانان د دیدن لاري
د پرخي د لښکر غوندي د شپو پر کلي راغلو
ساحله د توپان کیسه یوه شېبه که هېره

مړۍواندي وزر ماتي د څپو پر کلي راغلو

يو ټک له سره باسو نګهبان له بدو سترګو
په چم د سپېلنيو د اورو پر کلي راغلو

له ژبي د فرياد سره مو ستونی پخلا نه کړ
د درد په شاني زړه ته د زخمو پر کلي راغلو

سجدې يې پر تندي د جهاني منظوري نه وې
زاهده له توبو د ميکدو پر کلي راغلو

واشنګټن
۲۰۰۰-۸-۲۸

په دې ټولې کي چې روان سي تر زندانه ورځي
اوښکو ته مه ورښيه لاري تر ګرېوانه ورځي

قاصده لاره مي پيدا کړه منت مه باروه
هره ناره چې نن وهمه تر جانانه ورځي

ما د کليم له کوره راوړله د نيل خيالونه
اوس مي په طور کي هر آواز تر لامکانه ورځي

دلته ساحل دی د څپو سندري مه شرنګوه
څوک لېوني په توره شپه کي تر توپانه ورځي

دې بلبلانو د صياد سره خپلوي کړې ده
نه يې قاصد نه يې ټولې تر ګلستانه ورځي

دلته سندرو په قفس کي پيوند ونه کړي
دا وزرو چې خدای خبر چې تر بوستانه ورځي
ما ويل زه به پاڅوم په چيغو چيغو مړي

دلته ژوندي پر خپلو پښو ترڅو رستانه ورځي

نه يې نو مونه په ربات نه په منزل کې آشنا
يو څو د سيوري غوندي پلونه تر کاروانه ورځي

د اسرافيل په بڼغ به پاڅي دا کاڼه غوږونه
چې د قيامت نارې له مځکې تر آسمانه ورځي

د جهاني سره کيسې د لمبو مه يادوه
چې د پتنګ وزر لري تر شبستانه ورځي

ويرجينيا
۲۹-۱-۲۰۰۰



پـر دې لاره بـه رويبـاره زمـا اشـنا کلـه راځـي
خدايه ړوند سومه په سترګو ديدن بيا کله راځي
زه پـه تمـه د سـرو مُلـو د ليـدلو د کـاکلو
موسم بيا تېر سو د ګلو نوبت زما کله راځي
دا نـصيب دی دا يـې لاره ازل نـه سـي بـدلولای
زر اغـزي پـر ګـل پيـره دي چـي بـورا کلـه راځـي
تـر لاهـوره مـي کرلـي پـه قـدم قـدم کـي سترګي
قلنـدر يـم د دې لاري چـي ميـرا کلـه راځـي
زه خليل يمه نمروده څه په زړه کي در تېر نه سي
چـي محـل تـه د سـکروټو تـر لـيلا کلـه راځـي
يـو ځـل وپوښـته نـسيمه د قـسمت لـه زنـدانونو
وزر مـاتي تـر چمنـه نيمـه خـوا کلـه راځـي
جهاني پرون يې ياد کړې رقيبانو په پېغور کي
ويـل بيـا بـه هـديرې تـه د بابـا کلـه راځـي

ويرجينيا
۲۲-۱-۲۰۰۰

د نیمو شپو په اوښکو مي درد ونه لمبوم
تنهاکي پر لمبو وړمه مزلونه لمبوم

سجدې ته د شپږيني مي تندی نه دی راوړی
يو بول مي دی وهلی کلنګونه لمبوم

د تورو زلفو تورته دي زيندی په غاړه ځمه
زندان ته دي راغلی يم تورونه لمبوم

بې ډغه بې رويباره د شبنم پر اوبو راغلم
جانانه نن دي کلي کي ګلونه لمبوم

چي بيا يې له شيطانو سترګو تښتي ديدنونه
له نوم د محتسبه ګودرونه لمبوم

چي تمه زما د مرګ درته پيدا نه سي زاهده
د خضر په چينه کي مي خيالونه لمبوم
پانوسه تماشې ته د محفل نه يم راغلی

لمبـــې درځخـــه وړمـــه وزرونـــه لمبـــوم

نـــصيبه پـــاکوم دي د آســـمان لـــه تـــورو ليکـــو
ازل تـــه يـــاغی ســـوی يـــم خطونـــه لمبـــوم

يـــو زه يـــم جهـــاني يـــوه ټـــولۍ د لپونيـــو
د کـــانړو پـــه مالـــت کـــي دي ســـرونه لمبـــوم

واشنګټن ډي سي
۲۰۰۱-۵-۱۳

پـر رقيـب چـي مـي اختـر دی لـه جانانـه مـي ګيلـه ده
خپـل جنـون پـه کـانو ولـم لـه آسـمانه مـي ګيلـه ده

د هوښيارو پـه ټولې کـي نـصيب ځـای نـه و راکړی
زولنـې نـه رارسـيږي لـه زندانـه مـي ګيلـه ده

نـه سـاحل تـه سـومه څپرمـه نـه لـه موجـه سـره ولاړم
د څپـو سـره پـاتيږم لـه توپانـه مـي ګيلـه ده

نـه د چا د پيکـي يـاريـم نـه د چا پـه تـور سنګسـاريـم
نـه بـې لاري نـه پـر لاريـم لـه خپـل ځانـه مـي ګيلـه ده

اوس بـه څرنګـه خبـر سـم پـه اسـرار د لېونيـو
چي لـه پښو مي اغـزي تښتي لـه بيابانـه مي ګيلـه ده

نه مي ځان مورې پـه ديدار کی نه مي ځان د غاړي هار
کـــــــ

نه شبنم مي راغی خوا ته له باغبانه مي ګيله ده

په ربات کي مي کړې سپيني ځوانيمرګي شپې د عمر
بې جرسه تر ما تپر سو له کاروانه مي ګيله ده

جهاني رنګه راځمه د سلګيو په ګامونو
زکندن مي هر نفس دی له درمانه مي ګيله ده

ويرجينيا
۲۷-۱۲-۲۰۰۰

ساقي هوښيار يمه خُمار او مستان دواړه وينم
ستا په محفل کي غمازان او رندان دواړه وينم

چي مي تندي کي ورلږلې مسافري سجدې
هغه مسجد کي مي رقيب او جانان دواړه وينم

ګورئ تخمونه د ريا کري په غبرګو لاسو
نن په محراب کي خلکو شيخ او شيطان دواړه وينم

داسي به زر ځله غوسه سي لېونی محتسب
زه دي ګودر باندي امپل او ګرېوان دواړه وينم

څو به مي سترګي درلږم د سپلنيو سره
تر سره سالو لاندي دي تيک او پېزوان دواړه وينم

ما ته کلونه زولنې پر لمن ولي ليکي
د زلېخا په تور کي خوب او زندان دواړه وينم
مرګيه پرېږده له قسمت سره ګوندي مه کره

زه داسي ګل يم چې بهار او خزان دواړه وينم

ملګرو بڼ د قافلې دی سترګې پټې نه کئ
پر دې ربات باندې جرس او کاروان دواړه وينم

هسې په نوم د جهاني تاريکي شپې ليکلي
کنه موجونو کې ساحل او توپان دواړه وينم

ويرجينيا
۲۰۰۱-۳-۱۹



دا اغزي اغزي ژوندون مي درواری سه نذرانه سم
په کوڅو کي دي جنون سم ستا د کلي افسانه سم

هغه شپه مي پاتا اخله د پردې سوارمانونو
چې هم دلته بېګانه یم او هم هلته بېګانه سم

چې د خیال پر اوږو درسم او یوه شېبه دي خپل کړم
په لمن کي دي جانانه لکه هار دانه دانه سم

رقیب لاري وې فرش کړي په سکروټو په اغزیو
زما په دوه مذهبه خپل سې هم پټنې هم پروانه سم

لکه موج د دې توپانه ستا ترپښو پوري ساحل ته
د څپې په رسم درسم پر تندي سجده سجده سم

په یوه چیغه کم خلاصي زر کیسې د پرهارونو
له رقیبه او بنکي او بنکي ستا جفا ګیله ګیله سم
ته مي غېږي ته نیژدې کې زه دي ساه پر سینه ورکم

په بېلتون کې لېونی وم په وصال کې شکرانه سم

جهاني رنګه درجار سم په نامه مي خبر نه سې
په محفل کې د هوښيارو کله ياد په دې پوانه سم

ويرجينيا
۲۰۰۰-۱۱-۲۵

چې تللي و د تشو پيمانو سره راځو
په اوښکو لمبېدلي له سلګو سره راځو

څه حکم د زمان څه به يې زور څه به ځنځير وي
درشل ته دي اشنا له زولنو سره راځو

سزا مو ده قبوله د خوبونو د ليدلو
کنعانه يوه ورځ د تعبيرو سره راځو

يوازي وزر ماتی له چمنه څخه ولاړم
دا زېری مي دربانديد سپلو سره راځو

چې بيا دي تر قيامته په کوڅ کي سړې نه سي
پانوسه ځان تيار که د لمبو سره راځو

درځو چې زلزله سي د ريا پر خلوتونو
محرابه نن د شيخ له جنازو سره راځو
چې پل د رقيبانو دي په ښار کي پاته نه سي

یـــو زه یـــم یـــو قلـــم دی د ګزمـــو ســـره رائـــو

نـــن بیـــا لکـــه شـــبنم د جهـــاني ســـره د روزو
د شـــپو پـــر زړه اور بـــل کـــه د ډبـــوو ســـره رائـــو

ویرجینیا
۲۹-۱-۲۰۰۰

چي دي خپور د مخ پر شمع تور اوربل سي
په وطن د پتنګانو کي اوربل سي

ستا پر لوري سجده کفر ده پوهيږم
د محراب لوری دي مخي ته مايل سي

چي درشل ته په اغزو کي درتلای نه سي
په سکروټو کي به څوک راسره مل سي

راته مه رابنکاره ډلي د اغيارو
پر زمري به د ګيدړو څه يرغل سي

چي شړې مي په ټونګه د رقيبانو
عاقبت به دي غماز د مېنې غل سي

هغه ورځ به مي پردې پس کفن ته ژاړې
جنازه چي مي د کښته پر کابل سي
مسيحا د رغېدلو وار مي تېر دی

په دوا مي دي رنځونه يو په سل سي

جهاني د هغي شمعي د کاله دی
چي پلمه يې په پانوس کي سوځېدل سي

ویرجینیا
۹-۶-۱۹۹۹

چې له تندي يې د نصيب توري شړلي نه دي
دا لېونې د بل وطن دي زموږ د کلي نه دي
د توري شپې پر تندي مه ګوره ړانده فالونه
چې له کنعانه تعبيرونه اوربدلي نه دي
له راز و نيازه سره ډېري کيسې ستړي سولې
دې کوه طور ته لاتر اوسه څوک ختلي نه دي
په اشارو لکه قدم د لاري حال وايمه
پر دغه لاره چې څوک تللي دي راغلي نه دي
جلاد به نه وايي د توري ژبه نکل کوي
چې دې مقتل ته څوک راغلي دي وتلي نه دي
ډيري به اوښکې تر ګربوانه پوري ورغړوي
شهيدي شناختي يې لا شمعي پېژندلي نه دي
په هر منزل کې به کفن د جهاني يادوې
لا مې پردې پس خوبونه شپو ته در لېږلي نه دي

ويرجينيا
۲۸-۱۲-۲۰۰۰



دا څه جنون دی تر منزله رغړېدل چې نه وي
دا څه منزل دی په لمبو کې رسېدل چې نه وي

زاهده خوله دي د دوزخ په کیسو ستړې کړله
دا څه خلیل دی تر انګاره پورې تلل چې نه وي

پښېمانه نه یم شیخه مه رایاد وه قولونه
دا څه توبه ده په زرغله ماتېدل چې نه وي

رقیبه څه مې ببروړ له تومتونو څخه
دا څه ګودر دا څه دیدن دی تورېدل چې نه وي

په تعبیرونو کې مې نه وه قسمتي تورونه
څه زلېخا ده له لمنې رانیول چې نه وي

لاخو زلمی یم چې تر خُم پورې نسکور ورځمه
دا څه مستي ده پرېوتل پورته کېدل چې نه وي
دا سرکښي مې له ازله په قسمت راوړې

دا څه تندی دی له سجدې یاغي کېدل چې نه وي

لمبې به ولي د پتنګ په سینه نه سولوي
دا څه پانوس دی سوځېدل او سوځول چې نه وي

د حق نامه ته جلادانو دي کوڅې نیولي
دا څه منصور دی غر غړو ته ورختل چې نه وي

جهاني ولي سیاه پوش خیالونه وینې ژاړي
دا څه کعبه ده قرباني پکښې کرل چې نه وي

۱۹۹۹-٦-٥

اور د نن یا د پرون دی د پخوا خبري نه دي
په هر شور کي یو جنون دی د لیلا خبري نه دي

د وصال په نوم ایره سي سوځېدل یوه پلمه ده
د اوږدې بقا کیسه ده د فنا خبري نه دي

د غونچو پر پانه، پانه آیینې د جانان اوري
دا رائي له کومه لوري زما او ستا خبري نه دي

په هر ګل په هره شمع هره مینه کي جانان دی
د پتنګ د سوځېدلو د بورا خبري نه دي

د محفل پر پانوس ګرځي وزرونه دي سوځیږي
د جمال جلوه بلبږي د هر چا خبري نه دي

پر خوله لاس نیسه ناصحه نن پخپله دی ساقي دی
د دوږخ سره رخصت یې د ګناه خبري نه دي
له کعبي ترسو مناته د وحدت بزم کړلی

شیخه دلته نامحرم یې دا رسوا خبري نه دي

زما او ستا په نوم ختمېږي هنګامه له بله ځایه
په خلوت کي یې نوم ستایه د بېدیا خبري نه دي

چې خاموشه ترانه یې نغمه سازه د سجدې ده
دا مُرلی د بلي خولې ده د کریشنا خبري نه دي

چې زاهد پکښې حیران دی چې کونګی پکښې
لقمان دی
سرګردان پکښې آسمان دی د ملا خبري نه دي

کله یار کله اغیار سي کله هو کله انکار سي
د تیارې د سینې راز دی د رښا خبري نه دي

دې بازار ته چې څوک راسي واک د سود او د زیان
نه ستە
سره او سپین په خوب کي وینو د سودا خبري نه
دي

چا ته اور سي جنتونه چا ته ګل سي انګارونه
الستي یې دي قولونه څه د غلا خبري نه دي

په پرېکړي سر چې خاندي لکه شمع په محفل کې
د اختيار ژبه ګونګې ده د رضا خبرې نه دي

چې تندي مي کړلې هېري د سجدې د مځکې ننبې
د مغروري مينې زور دی د ريا خبرې نه دي

جهاني پاس په حجاب کې يو تصوير د لمبې وينم
دا په طور کې ننداره ده د موسی خبرې نه دي

واشنګټن ډي سي
۲۰۰۰-۱۱-۱۶



که د ازل د خزانونو کیسه ختمه نه ده
لا پسرلیه د ګلونو کیسه ختمه نه ده

ګوره چي راغلې له پردېس خزانه ستړي ستړي
د توتکیو د سېلونو کیسه ختمه نه ده

بیا به ګلونه د کوچۍ پېغلي پاپۍ مچوي
لا د کېږدېو د اورونو کیسه ختمه نه ده

د دې دښتو یې، له مستۍ سره قلم وهلی
لا د زلمیو اتڼونو کیسه ختمه نه ده

بیا به په ګلو کي اغزي پلو د پېغلو نیسي
د ښکلو نجونو د ټالونو کیسه ختمه نه ده

بیا به جنډۍ پر مزارونو ځوانۍ ونڅوي
د ګل سرخ د پایکوبونو کیسه ختمه نه ده
مینې به نه ډاري له سترګو د مکار محتسب

د نیمو شپو د دیدنونو کیسه ختمه نه ده

لا به تنها کو ته لښکري د اغزیو راځي
ستا تر درشله د مزلونو کیسه ختمه نه ده

ساحله مه پرانیزه غږ وزګار سوي نه یو
لا د نصیب د توپانونو کیسه ختمه نه ده

لا به پوښتني ته راځي په شپه کي سل دردونه
زموږ د قسمت د پرهارونو کیسه ختمه نه ده

په هره لارکي دي پیرې د غمازانو سترګي
د تومتونو د تورونو کیسه ختمه نه ده

داسي به زر ځله نیمګړی سي د شمعي بزم
لا د محفل د مابنامونو کیسه ختمه نه ده
څوک به تاجونه خپلوي څوک به تر داره ورځي
زموږ د زندان د تعبیرونو کیسه ختمه نه ده
شپه د نشې او د خُمار په اجاره ختلې
ساقي د خُم او د جامونو کیسه ختمه نه ده

لا د مطرب ګوتو کي ويني مستي سوي نه دي
لا په شهباز کي د رنګونو کيسه ختمه نه ده

لا خو مي شيخ په شنه قبا کي نځولی نه دی
د جهاني د غزلونو کيسه ختمه نه ده

۳۰-۳-۲۰۰۱

د انتظار ستړګي مي سړي وې ما دي لار څارله
د هيلو ورځي مي تيارې وې ما دي لار څارله
درته خيرات مي وزرونه نذرانه ايښې وه
ستا به په کوم پانوس کي شپې وې ما دي لار
څارله

ژبي ګونګۍ وې اشارو د تورو نکل کاوه
پاته نسکوري پيمانې وې ما دي لار څارله
کلونه تېر وه لارو نه وايه تصوير د پلونو
هيري د شپو څخه کيسې وې ما دي لار څارله
لکه يعقوب د کاروانو لاري مي ستړي کړلې
نصيب د مصر زولنې وې ما دي لار څارله
زما د شهيدو ارمانونو جنډۍ ونړېده
ستا پر مزار شناختي ويدې وې ما دي لار څارله
د جهاني قسمت رنځور انتظار ورسېدی
د سترګو تور مي هديرې وې ما دي لار څارله

ويرجينيا
۸-۵-۲۰۰۰



دا شمع دا لمبې دا پتنګان سره جوړيږي
دا مې دغه ساقي او دا رندان سره جوړيږي
بېړۍ دي له ساحله تمه وشلوي يارانو
دا تندر دا آسمان او دا توپان سره جوړيږي
سنګسارۍ دی د حق د لپونو په نوم ليکلی
دا کانې دا منصور او دا باران سره جوړيږي
ترڅو مي بېروې د تورو زلفو له تورونو
دا زه دا زولنې او دا زندان سره جوړيږي
زاهد به تر قيامته د ريا پر منبر ناڅي
دا جام هغه خلوت او دا شيطان سره جوړيږي
قسمت مي د لمبو پر ګودر لاري دي ايستلي
دا پښې دغه تنهاکي دا پيمان سره جوړيږي
ما پرېږده جهاني چې پرهارونه درته ژاړم
دا اوښکي دغه ستر ګي دا ګرېوان سره جوړيږي

واشنګټن ډي سي
۱۵-۱۱-۲۰۰۰



د شمعي په څېر سوځو له خپل ځانه سره ځو
که وصل که هجران دی له جانانه سره ځو

د ستورو په حساب دي ورکي لاري د تروږمیو
منزل چاته معلوم دی له آسمانه سره ځو

تش نوم د ساحل اورو یو تصویر د ببرې وینو
د څاڅکو په ګامونو له توپانه سره ځو

سپرابي نه کړې شونډي سل کلونو سرابونو
له چیغو سره راغلو له ارمانه سره ځو

شبنم غوندي مو لاري له ګلونو سولې ورکي
د اوښکو په ځولۍ کي له ګرېوانه سره ځو

د غله دیدن شپېې یې لکه خوب هسي پناه سوې
په نیمه شپه کي راغلو له آذانه سره ځو
توبنه مو په تندي کي د صنم سجدې اخیستې
احرام تړو پر لاري له مُغانه سره ځو

اغـــزي دي کـــه ګلونـــه تـــصور دی د بلبلـــو
پـه ستر ګو کـي هـستي ده لـه بوستانه سـره ځـو

زاهـــده پـــه تيـــارو کـــي د تـــسپو ږغونـــه اورم
کـوثر تـه دي روان کـړو لـه شـيطانه سـره ځـو

قاصـــده زمـــا ســـلام دی پـــر ټـــولې د رقيبـــانو
مـوږ داسـي مېلمانـه يـو لـه مېزبانـه سـره ځـو

آغاز دی که انجام دی راز په سل پردو کي نغښتی
هوښـيار کـه لېـوني يـو لـه زندانـه سـره ځـو

د ژونـد پـه راز پـوه نـه سـوو جهـاني سـبا بـه نـه يـو
يـو څـو بـې نومـه سـيوري لـه کاروانـه سـره ځـو

ويرجينيا
۱-۵-۲۰۰۰



د تاک لاس يې پرې کړی دی جامونه نه راځي
سوځلو پسرلیو ته ګلونه نه راځي

کیسه د آدم خان ده مینه تولو ته رسوا ده
درخو ورته راوزي ربابونه نه راځي

احسان دي د مرهم او له پټیو سره یوسه
زخمونه پښتانه سوله دردونه نه راځي

چې کله به یاد پرو د جنون سره ملګري
زندان ته یو راغلي ځنځیرونه نه راځي

خبر په نور څه نه یو د جلاد لاسونه سره وه
څو شپې سوې له محبسه فریادونه نه راځي

د شیخ په کتابونو کې پانوس بت پرستي سوه
د شمعي ترمزار پوري رنګونه نه راځي
د پیغلو هوسونو په مالت کې بلا ګرځي
اختر ته په نیکریزو سره لاسونه نه راځي

د چـالـه خـولې بـه اورو جهـاني ږغ د يـارانو
کلونـه دي لـه بنـاره پيغامونـه نـه رائـي

۲۰۰۰- ۱۲- ۵

د تندي لیکلي توري پاکول دي بل څه نه دي
څو سجدې یې تر قدمه ورلېږل دي بل څه نه دي

هلته سرې سترګي زاهد دی دلته مسته ځواني
ګرځي
چې په زور تو به ایستل دي ماتېدل دي بل څه نه
دي

نه د ستورو په رڼا ځو نه جرس د کاروان اورو
لاري ورکي دي تیارې دي پرزېدل دي بل څه نه
دي

نه یې زېری دی راوړی نه څېره یې ده د خپلو
دا رویبار نه دی اغیار دی تېر ایستل دي بل څه نه
دي

نه د سیند غاړې ته وزي نه کوثر ته ځي دا لاري
دې سُراب کي تباهي ده ورکېدل دي بل څه نه دي

نه یاران غاړه په غاړه نه ډبوې کړلې چا بلي
په محفل کي لحد ونه ټوکېدل دي بل څه نه دي
د ساقي ګوتي يې پرې کړې د میخور زاهد په توره
قصاصونه له تقدیره اخیستل دي بل څه نه دي

جنازې دي چې را اوري کنډوالې دي چې ژړېږي
بې صاحبه کور لوټل دي سوځول دي بل څه نه دي

جهاني یاران یې یووړل په ډلګیو په ټولیو
څو د تورو سیوري تېر سول قتلول دي بل څه نه دي

ویرجینیا
۱۵-۵-۲۰۰۰



دې سړو شپو لره کیسې د شاپیرۍ نه راځي
د ملوک ستوني ته سندري د بدرۍ نه راځي

د نامحرمو په ولات کې یې پلو نیولی
اوس ترغازي میوند ده بڼغ د ملالۍ نه راځي

راته د خضر پرچینه حوالې مه راکوه
زموږ د رنځور زکندن خوني ته سلګۍ نه راځي

آسمانه اوس کله د تاج دپاره سر پاته دی
موږ لپونیو پښې راوړي دي بېړۍ نه راځي

د درد په ژبه له پرهاره په خندا راوزو
تر دې محله د شهید زخم پټۍ نه راځي

موږ خو په زرځله سجدې پرتندي ولیکلې
تر تیتپدلو مو مغروري ککرۍ نه راځي
ستا د ریا خرقې ته بنایي جنتونه دواړه

مـوږ ګناهکـارو تـه د حـورو غـاړګی نـه رائـي

پـه دې ربـات کـي دي ازل درتـه پيـښی ليکلـي
جهـاني ستا د قـسمت نـاوي تـه ډولـی نـه رائـي

واشنګټن ډي سي
۲۰۰۰- ۱۱- ۳۰



کـوڅې بـه دي خلـوت سـي غلبلـې درڅخـه وړم
د زړه د پرهـــــارونو جنـــــازې درڅخـــــه وړم

کلونـــه مـــي ژړلـــي د ناســـور د تـــورو ورځـــو
آسمانه په کچکول کي مي نن شپې درڅخه وړم

پـــردی نـــه يـــم راغلـــی تـــر محفـــل پـــوري پانوســـه
پـــتنې يـــم پـــه وزر کـــي مـــي لمبـــې درڅخـــه وړم

چـــي بيـــا دي لـــه وعـــدو ســـره وانـــه ړوې کلونـــه
لـــه ســـرو نـــازکو شـــونډو دي پلمـــې درڅـــه وړم

د تـــورو زلفـــو تـــورتـــه مـــي تنـــدی درتـــه راوړی
ځنځيـــر درڅخـــه غـــواړم زولنـــې درڅخـــه وړم

نـــن ځـــو د حـــق په کـــور کـــي د زاهـــد فاتحـــه اخلـــو
منـــصور يمـــه راغلـــی غرغـــرې درڅخـــه وړم
پـــه غـــرو کـــي بـــه دي پورتـــه نـــه ســـي ږغ د لېونيـــو

کلنګ مي ماتومه افساني درځخه وړم

چي نوم د جهاني دي له خوبونو سره هېر سي
له شپو څخه دي وزمه کيسې درځخه وړم

ويرجينيا
۲۰-۳-۲۰۰۱



ګونګی جنون مي د پردې مینې په تور مه نیسه
زما په محراب کې بېګانه سجدې په زور مه نیسه

ما ته نصیب د مینې قبر پېښور ته اکلی
زه قلندر یم راته لاري د لاهور مه نیسه

یوه ځواني وه لکه ګل پر څانګه ورځپده
د پسرلي په هدیره کې راته کور مه نیسه

د لمر شغلې مې له وزره سره واودلې
د خیال هُمای مي د تاریکو شپو په تور مه نیسه

لکه لښکر د پتنګانو بې فریاده سوځو
مورِ د مجنون د سوو چیغو په پیغور مه نیسه

اوس که راځې د محتسب له سترګو پټه راځه
د دیدن لاري د بنګړو په شرنګ او شور مه نیسه
شپې د لېوانو د لښکر په توره څو تېروې

د مار بچی دی ورته خپل لستونې نور مه نیسه

په اشارو سره پوهیږو جادوګر طبیبه
لا خو هوښیار یم پرهارونو ته مي اور مه نیسه

د جهاني شپو ته لا خپل حبیب راغلی نه دی
دردونه مه راویښوه ورته ټکور مه نیسه

واشنګټن ډي سي
۱۵-۱-۲۰۰۱

لکه پتې وزر مي ورمه د سره اور ترکلي
خالقه ژوند مي نصیب مه کړې د پیغور ترکلي
دونه لا نه یم لپونی هوښیارو مي ولي
د تندي کربنو راوستلی یم د تور ترکلي
د وصل شپې مي د هر خوب سره پیوند وهلی
د جلادانو له تېغونو بیا د ګور ترکلي
ما ته مي شناختو د شهید پلټن کیسه کړې ده
چې ګیدړان راځي د شنه زمري د کور ترکلي
زه قلندر یم په یوه قبله باور لرمه
هره ټپه مي ځي میرا ته د لاهور ترکلي
اوس دي تنها کو ته پرلاري دي د مالګي غرونه
دردونه څنګه خطا باسې د ټکور ترکلي
نن جهاني په ستړو منډو رباتونه وهي
د تهمتونو سنګسارونو شور ماشور ترکلي

۹-۱۰-۲۰۰۱



د عمر په خزان کې اند ببنبنې دي د ځوانۍ
لا ويښې مي په زړه کې ولولې دي د ځوانۍ

له شونډو توبه تښتي له تندي څخه سجدې
ساقي راته راوړي څو پيالې دي د ځوانۍ

يو پټ غوندي بخرى تودوي سارې رګونه
د زړه په تل کې پټې مرکې دي د ځوانۍ

نن شپه مي د ازل په فيصله سوځه پانوسه
وزر کې رپېدلي سرې لمبې دي د ځوانۍ

بوډۍ ګوتي مي غواړي نوى سور له زاړه تاره
رباب ته مي راغلې ترانې دي د ځوانۍ

زندانه هتکړۍ دي د تقدير تندي ته وړم
جنون مي ماتي کړي زولنې دي د ځوانۍ
هينداري مخ دي تور سه سپين وښته مخ ته
راوړې

پـه زړه کـي مـي لا مـستي ولـولې دي د ځـوانۍ

سـاقي نـن جهـاني دی پـه نوبـت کـي د زلمـو
خيـام ورسـره کـړي زمزمـې دي د ځـوانۍ

ويرجينيا
۸-۱۱-۲۰۰۱

وچې سولې اوښکې ګرېوانونو ته به څه وایو
درد راسره خپل سو پرهارونو ته به څه وایو

شپې مو په ساحل کې د څپو له وهمه وتښتي
وخت که لېونی سو توپانونو ته به څه وایو

موږ خو نه د دار نه د سنګسار میدان ته ووتو
اوس د رقیبانو پېغورونو ته به څه وایو

زموږ له شونډو مه غواړه زاهده د خلوت کیسه
مستي مو توبې کړې تقدیرونو ته به څه وایو

ما مې په سکروتو کې خیالونه ورلېږلي وه
والوتل خوبونه تعبیرونو ته به څه وایو

دلته چې راتلو شپې مو د اور سره منلي وې
روغ دي وزرونه پانسونو ته به څه وایو
سل وعدې مو هسې د اوبو پر سر کرلي وې

ووايــه رويبــاره پيغــامونو تــه بــه څــه وايــو

ولــي پــردې مينــي تــه لېــږو د جهــاني غــزل
کــور تــه د صــنم ځــو تــصويرونو تــه بــه څــه وايــو

ويرجينيا
۲۰۰۱- ۸- ۲۹



کلونه تېر سوله کیسې د ښاره نه راوزي
زېری به نه غواړو ګیلې له ښاره نه راوزي

نه د زړې مینې داستان دی نه د نوي کړیکه
روییږي ګونګی دی خاطرې له ښاره نه راوزي

ناري کراري دي تروړمې ده بلاګاني ګرځي
کوچي نکلونو ته لمبې له ښاره نه راوزي

د پتنګانو وزرونو سوځېدل هېر کړي
زموږ ما ښامونو ته ډېوې له ښاره نه راوزي

په دې کوڅو کې هدیرو لکه چې کور کړی دی
ښادي خونسته غلبلې د ښاره نه راوزي

دا د عمرونو جنازه دلته چاوتومبله
ږغ د رباب او د نغمې د ښاره نه راوزي
پر ګودرونو پیره دار محتسب ودرېدی

نـــور د منګيـــو سلـــسلې د ښـــاره نـــه راوزي

کلابنـدي ده نـه ورتـلای نـه راوتـلای سـي څـوک
مېړونـــه چيـــري دي شـــملې د ښـــاره نـــه راوزي

تـــه وا خـــزان پـــه مېلـــه والـــو زلمـــو کـــوډي کـــړي
ســـيل د ګلونـــو تـــه خپمـــې د ښـــاره نـــه راوزي

جهـــاني نـــور دي د مـــستۍ خريـــدار مـــه لټـــوه
مـــوږ لېونـــو تـــه زولنـــې د ښـــاره نـــه راوزي

واشنګټن ډي سي
۲۰۰۰-۱-۱۷

خدایه چې بیا به کله اورو کوچانۍ سندري
د جګو غرونو شنو لمنو غرځنۍ سندري

په شپه کې ګرځي محتسب د بلاګانو سره
اوس د مطرب ستوني کي نسته پرونۍ سندري

له بې هنرو ګوتو پورته سي بې سوره نغمې
لکه پاتا ته وي راغلي پخوانۍ سندري

د غرو لمنو کي اغزیو پیرې وکړې
له کوچۍ پېغلي سره نه ځي د کبرۍ سندري

اوس به د چا منتر ته ناڅي سره او ژړ ګلونه
شپونکی چې نه سي ږغولای له شپېلۍ سندري

د شپې شیطان د دیدنونو مانښام وتو راوه
اوس د ګودر پر لوري نه راځي زلمۍ سندري
خالقه ستر ګي د رقیب مي سپلني کې ورته

چا له نظره کړې د بنکلیو د مستۍ سندري

نه له کلا نه له ګودر نه له کېږدیه راځي
کوچي نکلونه د آدم او درخانۍ سندري

کلونه کېږي له زندانه او از نه راوزي
پرزولنو یې دي لیکلي لپونۍ سندري

جهاني څه ویل رویبار، په ماته ماته ژبه
نن د جانان په بنار کي ګډي دي پردۍ سندري

۸-۱۰-۲۰۰۰



کلـــه رائـــي پـــر دغـــه لاره تاتـــه نـــه وايمـــه
د زړه خبـــره ده اغيـــاره تـــا تـــه نـــه وايمـــه

څوک تر سنګسارہ پر تندي باندي تورونه کري
نـــامرده مـــه تـــښته لـــه داره تـــا تـــه نـــه وايمـــه

څـه کړېـدل څـه بلېـدل څـه تـرې تـرې تـرې اوښـکي
څـه سـوځېدل وه تـر سـهاره تـا تـه نـه وايمـه

زه لکـه اوښـکه زر کيـسې پـر ګـونګې ژبـه وړمـه
راز مـي رسـوا نـه کـړې اغيـاره تـا تـه نـه وايمـه

زمـا پـه تنـدي کـي فـال ختلـی د جانـان د ليـدو
پـــر کمـــه تـــړه ځـــم تـــر يـــاره تـــا تـــه نـــه وايمـــه

لـــه تعبيرونـــو مـــي د پلونـــو نـــښي وشـــمېرلې
تـــر جنـــازې کـــه تـــر مـــزاره تـــا تـــه نـــه وايمـــه
وايـي کـوڅې يـې د رقيـب لـه کـانو تـشي کړلـې

زېـرى رائـي لـه كنـدهاره تـا تـه نـه وايمـه

د جهـاني لـه شـپو يـې وشـړل پـرد پس خوبونـه
نـن يـې خبـر راغـى لـه بنـاره تـا تـه نـه وايمـه

واشنګټن ډي سي
۲۰۰۰-۱-۱۶

خیال او تصویر یې له کوکل څخه شړمه ځمه
پر هدیره باندې یې شمعي لګومه ځمه

نور پر یوسف د تعبیرونو کچکول نه ګرځوم
د زړه ځولې مې له خوبونو تشومه ځمه

ما ته قسمت او د نصیب زولنې مه یادوه
د ازل نښې په تندي کې ورانومه ځمه

نه پروانه یم نه خبر یم په مذهب د شمعي
بله لمبه یې په پانوس کې سړومه ځمه

نه هنرمند یم نه د رنګ په کور کې زړه ایږدمه
په لاس ایستلي تصویرونه سوځومه ځمه

چې مې په زړه کې د سجدې او ګناه زنې سوځي
هغه منتر او کوډ ګردواړه ویښومه ځمه
چې مې یوه شببه په خوښه ګرځېدلای نه سي

يـــوه يـــاغي چيغـــه آســـمان تـــه ورلږمـــه ځمـــه

نـــه لـــه رقيـــب ســـره غلـــيم نـــه يـــې د وينـــو تـــږی
نـــه د روييـــار ســـره د زړه خوالـــه لرمـــه ځمـــه

نـــه افـــساني شـــيرينو مه د فرهـــاد پـــه کيـــسو
نـــه کلنګونـــه پـــر تنـــدي باونـــدي ليکمـــه ځمـــه

نـــه جهـــاني د چـــا لـــه مينـــي ســـره زړه تړلـــی
نـــه لـــه جانـــان ســـره پيمـــان تـــازه کومـــه ځمـــه

ويرجينيا
۲۰۰۰- ۵- ۲

خیال دي مېلمه و هنګامه یې له مشامه نه ځي
د زلفو بوی دي د خیالونو له مابنامه نه ځي

د زلفو تورته یې د خیال دانه ور ننه ایسته
بلبل په خلاصو وزرونو اوس له دامه نه ځي

چا له آسمانه په محراب کي ورته ځای ټاکلی
کنه هندو ولي له ملکه د اسلامه نه ځي

پر پښتنه مینه مي ولي باروې تورونه
په سره سالو کي راختلې ده له بامه نه ځي

څه د یوې مینې کیسه نه ده چې ختمه به سي
دا له ازل سره پیل سوې ناتمامه نه ځي

دلته محرم دي په نقاب کي سجدې مه راوله
له دې خلوته حجابونه تر مقامه نه ځي
زاهده پلار دي د تیارې په ارمان ګورته تللی

د دې رندانو د محفل شمعي له شامه نه ځي

تل به ژوندی وي د منصور د انا الحق سندري
چې ستا د مینې توریې واخیستی بې نامه نه ځي

ملګرو نن پیر مُغان پسله سلامه ویل
آغاز یې مه بولئ هغه چې تر انجامه نه ځي

د کساتو نو په انګار کې لمبې مه سړوه
توره چې ووته له تپکي بیا نهامه نه ځي

جهاني څه جادوګري دي په کلام کړې ده
شرنګ د غزلو دي له سیمې د باګرامه نه ځي

ویرجینیا
۲-۳-۲۰۰۰



په لويه لار کې ناست يم تصويرونه جوړوم
د مرګ له سودا اګر سره فالونه جوړوم

امپل د مرغلرو د بېلتون په شپه درنيسه
د اوښکو په دانو کې دي خيالونه جوړوم

دا څو ورځې جنون دی راپېرزو يې چې آسمانه
تندي ته مې نصيبه کلنګونه جوړوم

چې ستا کعبې ته نه ځي نن د پښو د پاره ځمه
د عمر په محبس کې ځنځيرونه جوړوم

يوازي چې مې ستا څېره تندي وي پېژندلې
د خيال په سومنات کې محرابونه جوړوم

ترهم دي په اغزيو په لمبو د کوڅې لاري
رقيب ته مې د غشيو رباتونه جوړوم
زګېروی چې مي اختر نه سي پر کور د غليمانو

دننـــه پـــه کوکـــل کـــي فريادونـــه جـــوړوم

چي وړي مـي جهـاني يـوه شـپبه د يـار کـوڅې تـه
د ټـــول عمـــر پـــه بيـــه دوه خوبونـــه جـــوړوم

ويرجينيا
۸-۳-۲۰۰۱

کیسې ګونګۍ دي وايي ژبي غوڅېدلې پرون
د شپې له زړه شهيدي ويني تويېدلې پرون

په خونبها پسي وتلي وې قاتلي سترګي
څو لېونۍ بې سترګو توري چلېدلې پرون

هره کيسه يې لکه زخم له دردونو ډکه
د قاصد شونډو کي خبري ژړېدلې پرون

په سرو لاسو يې جنازه د هابيل پورته کړله
خوني قابيل پر لحد اوښکي تويولې پرون

لا خو يې ساه له زکندنه جلا سوې نه ده
له هغه کور څخه نرۍ ساندي راتللې پرون

خود به مغول نن د خټک پر قبر سيوری کوي
چي د اغيارو مرکې مو رابللې پرون
بېشکه سره ده لېونۍ لمن په خپلو وينو

لـه خپـل اسـتينه مـو پـردی، چـړې وتلـې پـرون

جهـانې تـا چـې يـې پلـو کـې ميوندونـه ليـدل
هغـه ملالـي دي سـرتوري ګرځېـدلې پـرون

ويرجينيا
۱۲-۳-۲۰۰۰



کلونه کېږي له دې ښاره کیسو کوچ کړی دی
د آدم خان له شهبازونو درخو کوچ کړی دی

په هغه دښت کي د مجنون غرغړې وچي سولې
د لېونیو له مزلونو اغزو کوچ کړی دی

نه په محفل کي بلبل نه سوځېدل یاد ږي
د پتنګانو له مذهبه لمبو کوچ کړی دی

څنګه به ستون سي له خزانه تورېدلی بلبل
چي له چمنه د ګډیو وږمو کوچ کړی دی

اوس یې شرنګی د نیمو شپو سندري نه تخنوي
له سپینو لېچو سرو لاسونو بنګړو کوچ کړی دی

د زلېخا مینه د چا لمنې نه توروي
اوس له خوبونو د یوسف قافلو کوچ کړی دی
د تور جادو افسون وهلي دي د غرو لمنې

نن د شپېلې له منترونو نغمو کوچ کړی دی

جهاني څوک به پرلنډیو غزلونه لیکي
چې له ګودر څخه د پېغلو نارو کوچ کړی دی

ویرجینیا
۱۲-۸-۲۰۰۰

بيا يې په محفل کې نن له پامځخه لوېدلي يو
ګوره د ساقي تر نظر څنګه ورغلي يو

هره شپېه موږ ته زنداني خوبونه مه راوړه
شرنګ د زولنو ته له کنعان څخه راغلي يو

نن دي عبر تونه له هوښيارو سره وخاندي
موږ د لېونيو په اتڼ ورکښې پوتلي يو

پل چې مو د پله پر سر ايږدې رقيبه پښه نيسه
موږ چې له ازل څخه راغلي يو نباغلي يو

مه رائځه ساحله چيرې موږ چيرې دا ستا سکون
موږ يې سمندر ته د توپان په شپه لېږلي يو

نور مو تماشه کوي که خپله ننداره کوو
پوه نه سوو شبنم غوندې يې څو شېبې بللي يو
هره ورځ د ستورو په حساب لمبې په خوله کې وړو

مـوږ لـه خپلـي ژبـي لکـه شـمعي سـوځېدلي يـو

مـوږ خـو بـې اختيـاره د نعمـت پـر خـوان ور پرېوتـو
ګـوره چـي سـخي کـور بـه لا ثـو ورځـي منلـي يـو

پرېـــږده جهـــاني لـــه دې وزره د پـــرواز تمـــه
غـشي د نـصيب چـي پـر شـهپر بانـدي ويـشتلي يـو

ويرجينيا
۲۰۰۰- ۱۰- ۱۲

لا بـــه تـــر څـــو وينـــو ملګـــرو دا د غـــم خوبونـــه
د جنـــازو ســـره ملګـــري د مـــاتم خوبونـــه

ځـــئ لـــه آســـمان ســـره يـــوه کـــو دا زړه خبـــره
يـــا دي اختيـــار وي يـــا دي ځغلـــوي قلـــم خوبونـــه

نـــور بـــه پخپلـــه د خوبونـــو تعبيرونـــه کـــوو
پـــردي لا ولـــي ګـــوري مـــوږ تـــه ســـم نـــا ســـم خوبونـــه

بـــوډي آســـمان تـــه نـــوري مـــه نيســـئ د خيـــر لمنـــي
پـــه دې کـــږه مـــلا يـــې د ډيـــرو کـــړل بـــرهم خوبونـــه

پيـــر مُغـــان ويلـــه خپلـــي آيينـــې ســـپيني کـــړئ
کنـــه حـــرام دي د ســـکندر او جـــام جـــم خوبونـــه

يـــوه منـــزل تـــه نـــه رســـيږي ببلـــي ببلـــي کـــوڅې
دې ســـرابونو ډيـــرو وخـــوړل د يـــم خوبونـــه
نـــن د شـــيطان پـــه لمســـه غـــاړه د هابيـــل غوڅـــوي

سبا به وینې وینې ژاړئ د ستم خوبونه

جهاني نور نو د قسمت په خوښه نه یو روان
راویښوو په لویه لار کې هر قدم خوبونه

ویرجینیا
۸-۱۲-۲۰۰۰



یو څو رنځوري شپې دي په لېمو یې زنګوو
شېبې د انتظار دي په کلو یې تېروو

دا ښار د نازولو دی چا درد نه دی لیدلی
ترڅو به په زګېروي ورته زخمونه ویښوو

کلونه د سبا د جنګ په هیله خاوري کیږي
نن وزو له توپان سره خبره سپینوو

عمرونه له مطرب سره بې سوره نغمې ژاړي
ساقي په دې رباب کې نوی شرنګ پیدا کوو

چې ستا سره ښخېږي د هغې ګناه په ګوتو
قسمته له تندي څخه سجدې دي پاکوو

راپرېږده د ساقي سپینو لاسو کې سره شراب
واعظه ته رخصت یې موږ او رونه قبلوو
چې لوېږي مي زلمی ساقي په غېږ کې له مستۍ
جنت زاهده ستا سو موږ خمونه تشوو

ځوانۍ چې ګمراه نه کړ د خلوت په تاریکو کې
دا شپې راځخه تښتي ځو تو بې به ماتوو

هستي مو جهاني د عزراییل په غېږ کې غواړه
مستي لا په سلګیو کې د سره پاڅوو

ویرجینیا
۱۵-۸-۲۰۰۰

پیاله نیمه دي ولوېږي نظر په ماتوم
نن داسي مستي غواړمه ساغر په ماتوم

ژړ مخی به در نه سم په کوڅه کي لېونتوبه
څوکانې مي راوړي دي خپل سر په ماتوم

چي تمه د پرواز مي پاته نه سي په سينه کي
په غشيو کي در الوزم وزر په ماتوم

ستا شپې ته مي جانانه سره لمبه په خوله کي راوړه
د شمعي په څېر ژبه ده منتر په ماتوم

که سيوری غوندي ورک يم له تروېرمی سره پر
لارو
معلوم په هر قدم يمه سفر په ماتوم

شهيدي کربلا ته په جنګ نه يم در وتلی
غازي زور مي راوړی دی لښکر په ماتوم
شپې د انتظار دي تر لحده پوري وړمه

دا شپه مي سبا نه کې زه سحر په ما توم

نفس د زکندن يمه په ستوني کي ګنډلی
يو جام د اجل غواړم مه کوثر په ما توم

قسمته نن په خپله خوښه ستا له غېږي ځمه
قلم پر تندي کاږم مه دفتر په ما توم

په نوم د جهاني چې دي ليکلي دي آسمانه
توپان درځخه غواړم سمندر په ما توم

ويرجينيا
۲۰۰۰-۹-۱۲

نور به له رقیب سره د کور خبري نه کوو
وینې به سړې کو د پېغور خبري نه کوو
څله د پردیو د خوښۍ دپاره وسوځو
نور به وزر وساتو د اور خبري نه کوو
ولي خپلي څانګي د جنون تېشې ته ونیسو
ځان چې تر بور سوی دی د زور خبري نه کوو
ځئ چې د قسمت پر تندي خپلي کرښې ولیکو
پرېږدئ له قاتل سره د ورور خبري نه کوو
ډېر مو له فریاده د رقیب کیسې شریني سوې
درد غوندي به پټ وزو د شور خبري نه کوو
زمونږ لا په شهپر کې د آسمان خوبونه پاته دي
مرګه ځوانیمرګه لا د ګور خبري نه کوو
نن به جهاني بې وزرونو پرواز ونه وي
پرځه غوندي الوزو د لور خبري نه کوو

واشنګټن ډي سي
۲۰۰۲-۲-۱۹

لکه ماشوم چې بې هدفه په رنا پسې ځي
داسې مې زړه له واکه تللی دی په تا پسې ځي

د زلفو تور دي د سپین مخ پر ډبوه مه غوړوه
د حُسن غله دي په تروږمیو کې په غلا پسې ځي

نن خو جانانه د تقدیر لاره یوه غوندي ده
چې هر قدم پورته کوم هغه په تا پسې ځي

لېونې ډبر دي کانو ډیرې ککړې ویشتلي
مینه یوه ده هره چیغه په لیلا پسې ځي

وېشونه پټ دي هنګامه له بله ځایه څخه
تش د نومونو سلسله په ما او تا پسې ځي

تصویر بدل دی د پردې تر شا خبرې نورې
ساقي محراب ته شیخ روان دی په مینا پسې ځي
ظالمه ولې غوڅوې د انځورګرو ګوتې
په آیینه کې تصویر نسته په هر چا پسې ځي

رنځور نصیب مي د زخمونو ژبه ګونګه کړله
ګوره تر کومه به مي درد په مسیحا پسي ځي

د اخترونو د پاتا کمبله مه ټولوئ
نن په نکریزو سره لاسونه په دعا پسي ځي

ماشوم رقیب ته د کرم په نظر نه ګوري څوک
د لېوه زوی دی عاقبت به په بابا پسي ځي

جهاني مه بوله ساحل ته لامبوزن لاسونه
د دې یاغي مالت وګړي په بلا پسي ځي

واشنګټن ډي سي
۲-۷-۲۰۰۰

لکه د سیند اوبه په عمر کي بهېږي ورځي
د حُبابونو په څېر سر پر سر ماتېږي ورځي

بوډی زمان پر ګوتو وایي د پېړیو تسپې
د ځوانۍ مخ ته مي په هره شپه تېرېږي ورځي

لکه وږمه چې د خزان ور رسېدلې نه وي
لا مي د هیلو باغ کي وار په وار غوړېږي ورځي

هغه سبا چې د ژوند ون په وینو نه اوبېږي
لا ورته ولي په هر نن کي هوسېږي ورځي

چې مي په وچ کوکل کي غواړي شرنګا شرنګ د
نغمو
خبري نه دي پر تابوت باندي بوڼېږي ورځي

په دې ناپایه هنګامه کي بې حسابه پلونه
د هر قدم سره ښخېږي پناه کېږي ورځي
موږ لېونو له رونو شپو سره پیوند کړی دی

تـر دې محفلـه هـره شـپه رائـي سـوځېږي ورځـي

لا بـــه تـــر څـــو وي جهـــاني د الوتـــو پـــه تمـــه
چـي ګـام پـه ګـام لـه زولنـو سـره پـاتېږي ورځـي

ویرجینیا
۸-۷-۲۰۰۰

آسمانه په نصیب راته تیاري مه راوله
دا عمر مي دي ستا وي نوري شپې مه راوله

د لمر له تصوره چې مي ویښ نه کې خوبونه
د خیال تر شیش محله مي سایې مه راوله

د پلونو په حساب دي وعدې ماتي کړې ظالمي
بس پوه یمه تر شونډو دي پلمې مه راوله

د ژوند هره شپه مي ده سکروټو ازمیښلې
نن شپه مي تر وزر پوري لمبې مه راوله

ځواني مي لکه شمع ستا تر پښو په اوښکو راوړه
دا یو تندی راپاته دی سجدې مه راوله

خزانه د غونچې په څېر مي مخ درته نیولی
پښتو ده ارادې ته مي ګزمې مه راوله
ازل مي وزرونه په قفس کې دي لیکلي

جنـــون تـــه مـــي قـــسمته زولنـــې مـــه راولـــه

يـــوه نـــاره د حـــق راتـــه خـــالق منظـــوره کـــړې
د چيغـــي تـــر مقامـــه غرغـــړې مـــه راولـــه

مـــستي يـــې نيـــښتېځلې ده چپـــاو د رقيبـــانو
محفـــل تـــه دي ســـاقي تـــشي پيـــالې مـــه راولـــه

نـــن ســـوځم جهـــاني رنګـــه بـــې نومـــه بـــې فريـــاده
کلنـــګ تـــه مـــي شـــيريني افـــسانې مـــه راولـــه

ويرجينيا
۲۰۰۱- ۵- ۲۳

مـه وايـه قاصـده چـي بهـار خـزان وهلـی دی
سـبل مـي د بلبلـو لـه چمنـه کوچپـدلی دی

يـار مـي د اغيـار پـه خولـه لـښکر د زاغ بللـی دی
شـوريې د رباب لـه تـش کوګـل څخـه ايستلی دی

زه پـه دې سـراب کـي د قـسمت پـه حکـم ګرځمـه
مـا تـه مـي منـزل دانـو د اوښـکو رابنـودلی دی

زه لا د څپـو غيـږي تـه نـوی ور وتلـی يـم
مـه رائـه سـاحله مـا توپـان کلـه ليـدلی دی

کلـه زمـا تـر سـپينه لمـن تـور د زلپخـا رائـي
مـا تعبيـر د مينـي پـه کنعـان کـي ازمېيلـی دی

څـو بـه راتـه لـولې د فـردوس د ميخـانو کيـسې
مـا لـه دې کـوثره لا پخـوا نـصيب شـړلی دی
هـره شـيبه اورمـه جـرس د کـوچ نـارې وهـي

کـور مـي د حُبـاب لـه آشـيانې سـره تـاکلی دی

مـه لېـږه تقـدير مـي د سـکندر پـه آيينـه پـسې
فـال مـي د قسمت پـه خپـل اورغـوي کـي کتلی دی

نـن لکـه غنـي پـه تعبيرونـو پـسي ورک يمـه
سـر مـي د جانـان پـر زنګانـه پـه خـوب ليـدلی دی

چيـري جهـاني چيـري ديـدن چيـري د يـار کوڅـه
زمـا يـې د لحـد سـره پـردې پس کفـن ليکلـی دی

ويرجينيا
۱۹۹۹-۵-۱۴

ځنګه دعا ته پورته کيږي دا خيرن لاسونه
دا د ګناه په تار پيلي کرغيړن لاسونه

کلونه کيږي د ړندو وګړو بنار ته ورځي
د ملايکو په جامو کي مختورن لاسونه

نن به شهيدي جنډۍ چا ته وينې وينې ژاړي
ترخپل کميس چي مو راوزي د دښمن لاسونه

ترهديرو به جنازې په اوښکو څوک چلوي
چرته رژوندیو غاړو تاو دي د کفن لاسونه

موږ يې په تمه توري شپې د ځوانۍ سپيني کړلې
نن پر هغه کوثر پيره دي اهريمن لاسونه

اوس د يارانو له مستيه نه لړزېږي مځکه
غوڅ کړي غورځي پر ميدان د انجمن لاسونه
نور له پرديسو شونډو مه غواړئ زخمي سندري

چې يې تر ستوني غځولي زکندن لاسونه

دې قتلګاه ته هره ورځ راځي پرې کړې ژبې
هغه قاتل دی څوک يې نه ږدي پر لمن لاسونه

نور له منګيو سره سرې منګولي نه راوزي
اوس له تنها کو سره ژاړي د وطن لاسونه

پښې تر منزله جهاني لا رسېدلي نه وې
چې په تيارو کې سول تر سترګو قبر کن لاسونه

ويرجينيا
۲۰۰۰-۸-۲۵

چې بې اختیاره یو راغلي بې اختیاره به ځو
یارانو ننوي که سبا پرده غلاره به ځو

دیدن وړیا دی خزانې د زمانې پرا وړو
لکه راغلي وو تش لاسي له بازاره به ځو

په دې هیندارې کي چا مخ د ځان لیدلی نه دی
هم بیخبره له خپل ځان هم له اغیاره به ځو

کیسه نیمګړې لا جانان ته رسېدلې نه ده
لکه تصویر په ګونګه ژبه له دې نظاره به ځو

ګوره چې ځان دی، که صنم، که بې اختیاره چیغې
لکه منصور په پردې مینه کي تر داره به ځو

دې نغمه زار کي سور او تال د پېژندلو نه دی
د تار پرولي شرنګېدلي یو تر تاره به ځو
څه به له او بنکو سره سرې ستر ګي تر مرګه وینو

د خپـــل ازل جنـــازه نيـــسو تـــر مـــزاره بـــه ځـــو

نـــه مـــو پـــه ژبـــه نـــه زګېرويـــو ســـره وپېژنـــدل
شـــوندې ګنـــدلي پـــه اغزيـــو بـــې رويبـــاره بـــه ځـــو

دلتـــه د غـــم پـــه شـــپه خوښـــي لـــه مرګـــه وزېږېـــده
د دې مـــاتم کيـــسه اوږده ده تـــر ســـهاره بـــه ځـــو

دلتـــه مزلونـــه جهـــاني لکـــه تنهـــاکي چـــوي
ژونـــد د دردونـــو افـــسانه ده تـــر پرهـــاره بـــه ځـــو

ويرجينيا
۲۰۰۱- ۵- ۲۵

نـن بيـا لکـه خوبونـه نيمـو شـپو لـره درځـو
بـې وختـه مېلمانـه يـو پـښتنو لـره درځـو

د عقـل پـه کتـاب مـو حسـاب کلـه برابـر دی
بېـشکه لېـوني يـو چـي جرګـو لـره درځـو

بـلا کلونـه کېږي چـي بـې سـره تنـې ګرځـي
درځـو د سـرو لاسـونو ننـدارو لـره درځـو

رويبـار کيـسې راوړي دي لـه رازه خبـر نـه يـو
د څـو پرېکـړو ژبـو اوږدو لـره درځـو

چـي شـخول مـو لېـوني کـي بنـد پوان او زندانونـه
لاسـونه مـو راوړي زولنـو لـره درځـو

خبـريـو چـي خـزان د غـوتې تخـم رژولـی
سـينې مـو پـه خـارونو سـولېدو لـره درځـو
قاصـد وايـي مطـرب او سـاقي دواړه قـصاصېږي

د څـو محرمـو اوښـکو تويپـدو لـره درځـو

پـوهيږو جهـاني چـي دا تيـاري نـه رښـا کيـږي
پـه لار کـي دي جانانـه سـوځيدو لـره درځـو

ويرجينيا
۲۰۰۰-۱۱-۲۳

نسیم هغه دی د جانان د کور خبر نه لري
په ګرېوانونو کي د چا اوښکي اثر نه لري

کیسې د شمعي له محفله سره بنخي سولې
د پتنګانو په ټولۍ کي څوک وزر نه لري

اوس دیدنونه د خوبونو په محل کي غواړه
زمونږ په ګودر کي پېغلي نسته مازیګر نه لري

دلته که شوندې لندوئ ملګرو نه به راځئ
په دې روژې پسي روژه راځي اختر نه لري

واعظ ګونګی دی شیخ لمنه د خیرات نیولې
د دې جومات حجرې ډېري دي منبر نه لري

څه بې سالاره قافله څه بې هدفه مزل
په دې تیارو کي لاري بندي دي رهبر نه لري
چا له آسمانه جادو ګرته معجزه راوړې

ملکونه نیسي وطن لاندي کي لښکر نه لري

نه د قدم نه د ربات پته يې ولګېده
تنو له پښو سره خپلوی کړي دي سر نه لري

لکه شیطان چي د تروږمی تخمونه وشیندله
زمونږ له آسمان څخه نور کډه وکړه لمر نه لري

جهاني ځو چپرته به څرک د ډېوې ولګوو
دا وطن شپو اجاره کړی دی سحر نه لري

ویرجینیا
۱۹-۱-۲۰۰۰

زړه مي ويل چي تعبيرونه به ناکام تېرېږي
په دې آغاز کي تصويرونه د انجام تېرېږي

د شپو له غېږي يې لمبې او ډېوې وشړلې
خدايه چي څه به د کيږ ديو پر ما بنام تېرېږي

په ديدنونو د سنګسار پابندي ولګېده
په دې مالت کي د ګودر پېغلي په پام تېرېږي

د وصل شپې يې لکه خوب له رونو سترګو ځغلي
لکه کلونه د ځواني په يوه ګام تېرېږي

پردې پس دردونه ويدومه د درمل په تمه
له هر نسيم سره يادونه د باګرام تېرېږي

زاهده ولي دي له سرو سترګو بخري غورځي
د تاک وږمه ده په کوڅه کي د خيام تېرېږي
شيخ تر حجاب لاندي په غلا په غټو سترګو ګوري

لکه چې بیا یې بوی د بنکلیو تر مشام تېرېږي

جهـانې نـن پیـر مُغـان خلکـو تـه بنـه ویلـه
څوک چې د بل په سایه ځي هغه بدنام تېرېږي

ویرجینیا
۲۰-۵-۲۰۰۰

زه درته راغلم د قدم نښې دي وې ته نه وې
د ښار پر شونډو دي سندري ګرځېدې ته نه وې

په کور، په کلي، په محل کې بس يوه کيسه وه
په هر محفل کې لکه شمع بلېدې ته نه وې

لکه له غبرې د ماشوم څخه الوتې کيسه
د خاطرو پر پانه پانه اوربېدې ته نه وې

خدای دي کرلی و د سترګو په محل کې تصوير
په هره اوښکه کې له ورايه ځلېدې ته نه وې

د سرو لمبو له کروندو څخه دي کوچ کړی و
په هر پانوس هره مينا کې سوځېدې ته نه وې

د ربابونو په کوڅو کې دي آواز کرلی
په هر شهباز هره نغمه کې شرنګېدې ته نه وې
څه هنګامه دي د بلبلو په سهار ګډه کړه

لکه نسیم د ګل پر سیمه تېرېدې ته نه وې

د جهاني د خیال وطن دي په یرغل نیولی
هره غزل، هره مصرع کي مي راتلې ته وې

ویرجینیا
۲۰۰۰-۷-۲۲



يـوه ورځ بـه دا جهـان وي نـه بـه تـه يـې نـه بـه زه يـم
هـم بـه مځکـه هـم آسـمان وي نـه بـه تـه يـې نـه بـه زه يـم

سـپين لاسـونه د سـاقي بـه ګرځـوي پيـالې د مُلـو
سـره جمـع بـه يـاران وي نـه بـه تـه يـې نـه بـه زه يـم

د پـانوس لمبـې بـه سـوځي بـې فريـاده وزرونـه
بـل محفـل نـور بـه رنـدان وي نـه بـه تـه يـې نـه بـه زه يـم

تـور لـښکر بـه د اغيـارو څـوک پـه تـور د مينـي وژنـي
بـل منـصور بـل بـه ايمـان وي نـه بـه تـه يـې نـه بـه زه يـم

د باطـل نمـرود بـه اور وي د حـق چيغـي شورمـا شـور وي
څـوک خليـل بـه ور روان وي نـه بـه تـه يـې نـه بـه زه يـم

لا چـښې بـه پـه خلـوت کـې غلـي غلـي شـرابونه
ريـاکـار بـه زاهـدان وي نـه بـه تـه يـې نـه بـه زه يـم
څوک به ناڅي څوک به خاندي څوک به مات وي ترغم لاندي

هم ساحل هم به توپان وي نه به ته يې نه به زه يم

بازاري مينې به پلوري اشارې د بورو سترګو
ګناهکار به عاشقان وي نه به ته يې نه به زه يم

له شهبازه به را اوري جهاني ستا غزلونه
ستا د مينې به داستان وي نه به ته يې نه به زه يم

ويرجينيا
۲۰۰۰- ۷- ۲۶

چې يې جرس د سباوون را ويښولای نه سي
هغه ړانده له شبستانه راوتلای نه سي

سوالګري سترګي له کچکوله سره مه ګرځوئ
له شنه آسمانه د کرم تمه کېدلای نه سي

شپه ده څپې دي د ګودر او ساحل لاري ورکې
په تشو چيغو دا توپان کرار ېدلای نه سي

لا به تر څو د اميدونو سره ځان غولوو
هغه حُباب دی تر منزله رسېدلای نه سي

چې په خوبونو کې لا ځان او جانان دواړه وينې
له هغه ستوني د منصور ناره وتلای نه سي

چې غرونه غرونه د قسمت کيسې شېرينې نه کې
په کلنګونو په تندي کې نوم ليکلای نه سي
هغه به ولي د رندانو تر محفله ورځې

چي لکه شمع خپلو اوښکو ته خندلای نه سي

هغه لېمه جهاني څرنګه صنم پېژني
چي منترونه د هيندارو ماتولای نه سي

۲۰۰۰- ۱۱- ۲۵
ويرجينيا



اوښکي تر ګربوانه په تلو سترې سوې
ساندي تر آسمانه په تلو سترې سوې

ولي د فلک تر غوږه نه ورځي
چيغي تر يزدانه په تلو سترې سوې

ورځي مو لمبو ته چي ساتلي وې
نن تر ګلستانه په تلو سترې سوې

رنګي ترانې په زړو زخمي زخمي
ستا تر شبستانه په تلو سترې سوې

څونه ککړې وې خبر نه سوه څوک
توري تر ميدانه په تلو سترې سوې

نه ډکېږي ولي لا ځولې د مرګ
پښې تر ګورستانه په تلو سترې سوې
ورځي سرابي کلونو وخوړې

شپې مې ترجانانه په تلو ستړي سوې

کله به د عمر بېړۍ ماتي سي
شمعي تر زندانه په تلو ستړي سوې

کوم سفر لیکلی جهاني نصیب
کډي تر کاروانه په تلو ستړي سوې

واشنګټن ډي سي
۱۹۹۹- ۵- ۲۷

تیاره خلوت کي ړندې ستر ګي جهان څه پېژني
شیخ د مستانو په محفل کي رندان څه پېژني

شرنګ د ځنځیر او زولنو یې تر غوږ مه تېروه
دا له جنونه بې نصیبه زندان څه پېژني

لا به سجدې د جلادانو په درشل کي کوي
د دې مالت وګړي خپل قاتلان څه پېژني

ساحل ته مه راوړه د موج او نهنګانو کیسې
دا نازولي به څپې او توپان څه پېژني

نه یې سیلۍ نه چاوونه د خزان لیدلي
کوچی مرغه دی دا به زمور ګلستان څه پېژني

د کوچي حُسن هنګامه له خیاله وتښتېده
پردی وطن دی دلته شونډې پېزوان څه پېژني
په واک یې نه ده چي بلبل پردۍ سندري وایي

په پنجرو کې وزر وچې آسمان څه پېژنې

پر ککرۍ باندې لمبې وړې چې وزر سوځوي
دوړې خې شمع د پانوس پتنګان څه پېژنې

ډېرې به ستړې کې کیسې د ژړېدلو وینو
د دې بېدرده خلکو سترګې ګرېوان څه پېژنې

جهاني مه بولـه سجدې ته نامحرم سرونه
مین چې نه وي نو قبله د جانان څه پېژنې

۵-۶-۲۰۰۰
ویرجینیا

ستا سره سبا نوم د يار کله سته
زېری دي پر خوله د رويبار کله سته

څوک به درته غوږ نيسي ناصحه نن
زمور په بناريه کي وزګار کله سته

واک مو الستي وعدو ترلی دی
نور مو په اختيار کي انکار کله سته

غاړي د زګپروي تېغونو غوڅي کړې
اوس په دې وطن کي بيمار کله سته

مينه وه ياغي سوله رسوا سوله
مه ځېره رازونه اسرار کله سته

هېري زماني شهيدي وينې کړې
ليري که دا شمع مزار کله سته
پوه سومه پردی سوې خو په زړه کي مي

مينه بې له تا د اغيار کله سته

واخله نذرانه د جهاني جنون
بل دي زولنو ته تيار کله سته

ويرجينيا
۱۹۹۹-۵-۳۰

شپې ته مي د هجر سبا نه رائي
خولې ته مي خبره اشنا نه رائي
دومره پوهېدلی يم نصيبه نن
ولاړه مروره پخلا نه رائي
پرېږده له آسمانه د ډېوې تمه
شپه سوه په دې ښار کي رڼا نه رائي
څه وايي د ژوند د مسافرو لار
تېرو رباندي پلونه سول بيا نه رائي
مينه د مجنون سره سنګسار سوله
نور د نکل شپې ته ليلا نه رائي
خوشي دي اغزي کړي د قسمت لمن
دې کاغذي ګل ته بورا نه رائي
مه ماتوه نور د جهاني غرور
بيا درته سبا او بېګاه نه رائي

واشنګټن ډي سي
۱-۲۷-۲۰۰۰



د پردې مینې په تهمت کې چې رسوا را نه سې
د غمازانو په جرګه کې ترلیلا رانه سې

ستا د وزر لمبې یې نه دي په کوکل کې بلې
پتنګه نور چې پر پانوس باندې شیدا رانه سې

ستا د قسمت پرخه یې توی کړه د اغزو پر کلي
بلبله بیا چې شنه آسمان ته په ژړا رانه سې

د چا یې ژبې غوڅې کړې دي څوک سر نه لري
د حق له نوم سره منصور غوندې تنها رانه سې

دلته تور بخت و له تیارو سره عادت نیولی
د ړندو ښار ته له ډبوې سره بینا رانه سې

زما پسرلیه د خزان پر کوردي واړوله
زه پوهېدم چې پردې لار به بیرته بیا رانه سې
چې په تندي کې مې خطونه د سجدې لټوي
ځه مرور ګرځه نصیبه چې پخلا رانه سې

جهـــاني لاري د دپوانـــو پـــر کوڅـــو تللـــي دي
د شـــاپيريو تـــر وطنـــه پـــه رڼـــا رانـــه ســـې

ويرجينيا

۲۰۰۰-۸-۱۲



رویبار پس له عمرونو له سلام سره راځي
قاصد مي ورلېږلی له پیغام سره راځي

تیارې مي رڼا کیږي ورا د اوښکو راته وایي
ډېوې ته مي د وصل له ماښام سره راځي

په شپو د انتظار کي زېری اورم د خیالونو
پر زړه باندي را اوري د الهام سره راځي

ساقي تر مینو شانو د کوثر اوبه راوړي
خُمار کلونه تېر سوله له جامه سره راځي

زاهد په دریو طلاقو له توبې څخه بېل سوی
محفل ته د رندانو له کلام سره راځي

په سپینه ورځ روان دی د مُغان د پیر پر لوري
کعبه یې خطا کړې له احرام سره راځي
له شیخ، له محتسبه، له قاضي دي لاري ورکي

په ډله تر محرابه د خیام سره رائي

راووزه جهاني د عمر شپې دي سبا سوي
ناکامه چې وتلي وه له کام سره رائي
۲-٦-۲۰۰۰

په دې محفل کې ساقي نسته چې رندان تږي دي
د خُم له څنګه وچې شوندې حریفان تږي دي

نور د غوټې د سپرېدلو تمه وزمولېده
اوس د خارونو د زخمونو بوراګان تږي دي

د دې ساحل په نصیب نه دي د سکون خوبونه
چې سمندر کې لا موجونه د توپان تږي دي

د دیدنونو جنازې پرګودر بخي سولې
کلونه کیږي پېغلي شوندې د پېزوان تږي دي

د درخانې اوښکو ته نه ژاړي د شپې نکلونه
رباب ته نه ورځې نغمې د آدم خان تږي دي

د حُسن ښار دي د پردي هند و یرغل نیولی
دا محرابونه بلال غواړي د آذان تږي دي
د زلېخا په تور مي ونیسه معصوم خیالونه

چـــي د خوبونـــو تعبيرونـــه د زنـــدان تـــرې دي

جهـــاني لاري د پردې پـــسو اوښـــکو مـــه بنـــدوه
زمـوږ پـه وطـن کـي خـړي مځکـي د بـاران تـرې دي

واشنګټن
۲۰۰۰- ۱۱- ۱۶

ربابه ولي دي له پامه د نغمو پربوتم
ته وا تر مرګه له نوبته د پيالو پربوتم

رنځوري سترګي له پرده پس ديدنه تږي درومي
د زکندن غوندي له شونډو د سلګو پربوتم

بې سره تن به مي د چا له تېغه څنګه ځغلي
لکه لمبه و خپلو پښو ته په ورو، ورو پربوتم

څوک لېوني نور په زندان کي درته پاته نه دي
زه مسته چيغه يم له شرنګ د زولنو پربوتم

جانانه مينه له غروره سره نه جوړېږي
يوه سجده يم له آسمانه دي پر پښو پربوتم

نه په راتلو کي مي اختيار و نه په تللو خبر
لکه شبنم پر پانه پانه د غونچو پربوتم
څوک به مي څه پوښتي په قبر کي چي څوک وم
پخوا

د نـــا اشـــنا وګـــړي پـــل وم پـــه تيـــارو پرېـــوتم

لا مـــي تنـــدي تـــه جهـــاني مځکـــه مينـــدلې نـــه ده
پـــه دې معبـــد کـــي لـــه ازلـــه تـــر قرنـــو پرېـــوتم

واشنګټن
۲۰۰۰-۸-۲۲

نه يې ګرم طبيبه لا رنځونه چې يې پاته دي
واړي د نصيب دي پرهارونه چې يې پاته دي

وخته له اغياره پټ په غوږ کې راته ووايه
هغه لاروي څه سوله پلونه چې يې پاته دي

ډېر به کلنګونه د زمان پر تندي وليکي
دلته يو فرهاد و داستانونه چې يې پاته دي

نه لمبې د شمعي نه محفل کې راته ښکاري څوک
سر پر سر سوځلي وزرونه چې يې پاته دي

ګوره چې د چا د خوب تعبير به سم ختلی وي
دلته لېونې وه ځنځيرونه چې يې پاته دي

ټوله شپه د ښار له سترګو وينې بهېدلي دي
توري چلبدلي دي سرونه چې يې پاته دي
کوم ربات به وپوښتو د تللیو له کيسو څخه

هغه سيالان څه سول محلونه چې يې پاته دي

تللی به يم، غواړې به مي، ژاړې به او وايې به
هغه شاعر چيرې دی شعرونه چې يې پاته دي

ښه وايي فالونه جهاني د لاس خطونه دي
سپل رائي د ښکليو ګودرونه چې يې پاته دي

ويرجينيا
٢٠٠٠-٦-٦



ما ته به نه وایې چې مه راځه اشنا درځمه
زه لکه زېری ناخبره دي پر خوا درځمه
غازي فطرت مي د رقیب له تورو مه بېروه
زه د شهید و ارمانو پر کربلا درځمه
د یزید غشي به مي څو د پلونو نښي ولي
ما د حُسین جامې اغوستي دي تنها درځمه
جانانه پښتو ته دي یوه شپبه سجده لګوم
یوه څپه یم تر ساحله خامخا درځمه
د تاریکیو له تومته دي تور مخي ځغلي
تور پرتندي تازه کومه په سبا درځمه
کبر غرور مي جهاني رنګه ځنځیر ته درومړم
کچکول په غاړه ګرځوم لکه ګدا درځمه

ویرجینیا
۱۹۹۹-۵-۱۴

"اوربل يې ما په خوب کې پرېشان ليدلی دی"
قسمت مې د يارانو دغه شان ليدلی دی

په تور د انتخاب له جنتونو آدم باسي
د عرش په کنګرو کې مې شيطان ليدلی دی

ټولې د قاييلانو د هابيل پر وطن ګرځي
دې خلکو ته په قهر مې آسمان ليدلی دی

د نوح په تدبيرونو چې يې زړونه نرم نه سول
په برخه د دې مځکې مې توپان ليدلی دی

ازل مې پر لمبو د وصل لاره ده ليکلې
خليل يم په انګار کې مې يزدان ليدلی دی

د خپلو له شامته د کنعان کوهي ته لوېږو
تعبير مې د خوبونو بند پوان ليدلی دی
د عمر په سينا کې هر قدم د صنم کور دی

د طور په سره لمبه کي مي مُغان ليدلی دی

سنګسار ته يې راوړي دي له بل وطنه کانې
ما چيغو د منصور لره ميدان ليدلی دی

نصيبه له دې موجه خلاصېده لکه چې نسته
دا ليک مي پر تندي د جاله وان ليدلی دی

ترڅو به مي رقيب راته د سيوري په نوم ښيې
لښکر مي په وطن کي د جانان ليدلی دی

رائحه جهاني ويښ کړو د الفت په ناره زړونه
له ليري مي يو سيوری د کاروان ليدلی دی

ويرجينيا

خدایه د سترګو د ویالو مي په ګرېوان کي شپه ده
د فریادونو مي د اوښکو په توپان کي شپه ده

د خیال هُمای ته مي لا ولي جوړوې تورونه
زما د پرواز د قلندر په لامکان کي شپه ده

نن مي د عقل زولنې تر نظر مه تېروه
زما د جنون د افسانې په نیستان کي شپه ده

محتسب شمع د شهباز په ګناه ونیوله
چې د رندانو د محفل په شبستان کي شپه ده

له کوم پرهاره مي پوښتې د زمانې طبیبه
زما د نصیب یې د هر غشي په نښان کي شپه ده

لکه شبنم د ژخه الوزم سبا به نه یم
نن مي د عمر د قسمت په ګلستان کي شپه ده
نه مي نسیم نه مي سبا پرژبه زېری لري

د هر ګل بوټي هر ګلاب مي په خزان کي شپه ده

د جهاني قلم ته نه ځي د مستۍ سندري
د هر غزل يې د زخمونو په دېوان کي شپه ده

ويرجينيا
۸-۳-۲۰۰۱

د دې وطن په نصیب نه دي رسېدلي خلک
چې یې مینډلي دي په کانو یې ویشتلي خلک

د ړندو ښار دی له ډبوې سره خپلوي نه لري
د ستر ګورو ډلې ډلې دي وتلي خلک

د هرو ګړي په څېره کې بلا ګاني وینې
دلته هیندارو ته لا نه دي درېدلي خلک

نه یې د زخم نه د درد په علاج پوه سو طبیب
پرون له ساندو سره ووتل راغلي خلک

چې افسانې یې د پېړۍ پر لېمه شپې زنګوي
د سنګسارونو تر میدانه ځي ښاغلي خلک

ترشنه آسمانه ګیله منې چیغې مه استوه
داسې یې ډبرد بل په تور دلته وژلي خلک
دلته چې راغلې نو د رحم تمه مه ترې کوه

د دې قصاب تېغونو وينې ژړولي خلک

جهاني تمه د مردۍ د لېونتوب کيسه ده
په هر ولات کي چې بنا غلي وي ناولي خلک

ويرجينيا
۲۰۰۱-۸-۲۹

له تورو شپو مي د سرو اوښکو رڼا وتښتېده
خدايه تر سترګو مي راغلې ژړا وتښتېده
لکه چې سترګي تر قدمه نذراني نه مني
رويبارە څنګه دي له شوندو خندا وتښتېده
زه په ورغوي کي تقدير د غونچو نه لټوم
زما له تنها کو غوږ بدلې بيديا وتښتېده
اوس به مي څنګه له پرهار سره خواله کومه
دردونه يو په يو راتلل په سلا وتښتېده
نور د خيالونو تر مزاره شمعي نه راولي
هغه چې شپې يې سپينولې بېګاه وتښتېده
هغې له نازه ما له شرمه ورکتلای نه سو
چې مروره سوه ستنه که پخلا وتښتېده
د جهاني له تور قسمته رڼا نه راوزي
د شپو له خوني مي جلوه د سبا وتښتېده

ويرجينيا
۸-۱۱-۲۰۰۱



کشکي ستا د تورو زلفو اسیر نه وای
په نصیب مي رسېدلی شبګیر نه وای

څه به په پروت وای بېګناه په زندانو کي
که مي تورد زلپخا دامنګیر نه وای

شپو مي ولي زولنې وړلې په پښو کي
که په برخه مي د ستورو تعبیر نه وای

ما لمبو ته ځان ساتلی و درتلمه
که قسمت مي له ازله ځنځیر نه وای

ستا تر خاله به مي ولي سجدې وړلې
که په کفر کي ناړې د تکبیر نه وای

لا یې ولي افسانې په وینو سرې دي
د شېرینې د جنون که تاثیر نه وای
ما به سترګي نذرانه دیدن ته وړلې
که جانان مي د غماز په جاګیر نه وای

جهـــاني بـــه دي ملنـــګ واى پـــه محـــراب کـــي
مـــلا جانـــه کـــه خيـــرن دي ضـــمير نـــه واى

ويرجينيا
۸-۲-۲۰۰۱

نن د قسمت په سیالي بیا راوزو
لکه هیندارې بې ریا راوزو
د ژوند پرلور لکه ماشومي ستړګي
د اوښکو ډکې په خندا راوزو
اوس ملا جان سوځېدل کفر ګڼي
د محفل شمعي ته په غلا راوزو
دا بېدردان دي زګېروی نه خوښوي
د زخم خولې ته نیمه خوا راوزو
دوی به معذور وي چې ډېوې نه وینې
موږ د رڼا دو ښار ته بینا راوزو
چې د منصور څېره په کانو ولي
نن د آسمان جنګ ته تنها راوزو
جهاني نن به د شبنم په قدم
د نصیب کورته پرهوا راوزو

ویرجینیا
۸-۱۱-۲۰۰۱

ستا لمبو چې ازمیبلی ښه دی زه یم
په دې اور کې چې سوځلی ښه دی زه یم

هر کلي ته چې یې کانې ځي په ډلو
په دې ښار کې چې ښاغلی ښه دی زه یم

چې آسمان یې د منصور په دود رقیب وي
چې د دار سر ته ختلی ښه دی زه یم

د شبنم په څېر مې بار پر اوږو نه وي
یوه شپه چې ژوند منلی ښه دی زه یم

په نوبت کې جهاني درنه هېر نه سي
بورو ستر کو چې وژلی ښه دی زه یم

ویرجینیا
۸-۱۱-۲۰۰۱

زمونږ يې د خيال په تنسته کي دي او دلي وينې
ځکه مو اوښکو ته له سرو سترګو راغلي وينې

درته به ځو د يوې شپې د خونړې نکل کوو
پر دې واټونو داسې ډيرې بهېدلي وينې

هسې آسمان ته د باران لمنې مه ګرځئ
ړانده نصيب درته په برخه دي ليکلي وينې

د کوثرونو سرابونه راته مه ځلوه
زمونږ په تندي کي د ازل باغوان ليکلي وينې

اوس چې راغلي يو د رحم تمه مه ترې کوئ
د دې قصاب تېغونو ډيرې دي ليدلي وينې

اوس يې د ردونه د انار غوندې خندانه وزي
د دې زخمونو په کوڅ کي ايشېدلي وينې
هلته جلاد له عزرايیل سره خپلوي کړې ده
د هغه ښار په هره خونه کي پاشلي وينې

جهـاني څنګـه مـو رقيـب لـه دې قبلـې ګرځـوي
پـــه هـــر منـــزل کـــي مـــو تنهـــا کي ژړېـــدلي وينـــي

ويرجينيا

۱۵-۷-۲۰۰۱

د خپل پرهار تازه کولو ته له ځانه مه ځه
د اوښکو سېله بېهوده مي ترڅرپوانه مه ځه

پر دغه لاره چي څوک تللي دي راغلي نه دي
فريياده عمر به دي لنډ سي تر آسمانه مه ځه

هري هينداري له جانان څخه تصوير راوړی
په لڅو پښو د کوه طور تر لامکانه مه ځه

هغه پانوس ته بې لحده قسمتونه ورځي
که دي وزر درباندي ګران دی تر جانانه مه ځه

هغه حساب له بې حسابو سره نه جوړېږي
د هوښيارانو خلوتونو ته نادانه مه ځه

تا ته يو څاڅکی د ازل او د اجل کيسه ده
لکه حُباب ځان پرسولی تر توپانه مه ځه
له خپلي مينې بېګانه کومه ليلا لټوې

پـــردي جنـــون تـــه پـــر تنهـــا کو تـــر بيابانـــه مـــه ځـــه

د شـــنه آســـمان پـــر ســـينه طلـــسم د هـــستۍ کرلـــی
لکـــه شـــبنم دا يـــوه شـــپه تـــر ګلـــستانه مـــه ځـــه

ســـتا لـــه شـــپېلۍ څخـــه زګېـــروی د جهـــاني اورمـــه
نغمـې چې هر وطن تـه وړې نـو بـې لـه مـا نـه مـه ځـه

ويرجينيا
۸-۳-۲۰۰۱

یـــوه ورځ بـــه مـــرور جانـــان پخـــلا ســـي
د ســـلګیو زکنـــدن تـــه بـــه مـــي راســـي

هـــره شـــپه چـــي د ببلتـــون پـــه زګپـــروي پـــايم
دا رنځـــوري اوږدې شـــپې بـــه مـــي ســـبا ســـي

بيـــا بـــه نـــاڅي د رويبـــار پـــر شـــونډو زبـــری
د قـــسمت پـــه شـــپه خوبونـــه بـــه ريـــشتيا ســـي

لـــه ســـينې بـــه مـــي رخـــصت واخلـــي دردونـــه
هـــره ســـاه بـــه مـــي دارو د مـــسيحا ســـي

پـــه کوڅـــه کـــي بـــه يـــې نـــه وي د پلـــو نـــښي
د رقيـــب ســـيوری بـــه شـــپو تـــه ورپـــه شـــا ســـي

محتـــسب بـــه د تيـــارو پـــه کـــور کـــي ښـــخ وي
د رنـــدانو د محفـــل شـــپې بـــه رڼـــا ســـي
د خُـــم څنـــګ تـــه بـــه دانـــه دانـــه مـــاتېږي

د تـــوبې او د روژې هـــڅه بـــه روا ســـي

د زاهـــد او د واعـــظ پـــر لحـــدونو
د ربـــاب د شـــرنګا شـــرنګ دور بـــه بيـــا ســـي

جهـــاني بـــه يـــې د هـــر شـــهباز آغـــازوي
پـــه نغمـــو کـــي بـــه يـــې نـــوی ســـور پيـــدا ســـي

ويرجينيا
۸-۳-۲۰۰۱

سندره

لاندي باندي بريان په انګار کي مي کوردی
د نصیب د کاتب لا را پاته په پیغور دی
د ځوانۍ په مانۍ کي خاموشه تالان دی
عزرایيل د مستۍ سر جلاد را روان دی
د تقدیر پرامیر مي لا یو دیدن پور دی
مرګه راکه مهلت چي جانان ته ستنیږم
دا وروستۍ لمبه وړم په محفل کي بلیږم
د بې دردو په کور کي ژوندون راته اور دی
چي تصویر دي سي مات زما د اوښکو په سیل کي
د یادونو اغزي چي مي سترګي غلبیل کي
لا فلک لا رقیب لپوتنو ته بې لا نور دی
چي سبا جهاني د یارانو ببلیږي
چي یې پل د جانان په کوڅو کي ورکیږي
نن یې سر پر افلاک ستا د مینې په تور دی

ویرجینیا
۱۹۹۸-۷-۷

سندره

نـــن بيـــا د غمـــازانو پـــه کـــور اور ولګېـــدی
چـي زمـا پـر تنـدي سـتا د مينـي تـور ولګېـدی

خـالق مـي پـه نامـه و سـتا د مينـي تـور ليکلـی
د مينـــي پـــه نامـــه دي يـــم نـــړۍ لـــره راغلـــی
بـل څوک بـه زمـا پـه رنګ وي چا نـه غلی زېږولی

داستان مـي پـه وطـن کـي کـور پـه کـور ولګېـدی
چـي زمـا پـر تنـدي سـتا د مينـي تـور ولګېـدی

رقيبـه زمـا لـه نومـه بـه دي اوس ورځـي تـورېږي
نصيب ته به دي زما رنځوري او ښکي در رسېږي
پـه عمـر بـه دي نـن وي کـه سـبا لمبـې ګـډېږي

کـرار بـه لګېـدی ښـه سـو پـه زور ولګېـدی
چـي زمـا پـر تنـدي سـتا د مينـي تـور ولګېـدی
رويبـاره زه لا نـه يـم د ببلتـون لـه شـپو وتلـی
پـر زړه مـي لا پيغـام د راتلـو نـه دی اوربـدلی

يـو تـور مـي دی د عمـر لـه انګـار سـره منلـی

هغـه لمبـې لا بلـي وې چـي نـور ولګېـدی
چـي زمـا پـر تنـدي سـتا د مينـي تـور ولګېـدی

سـاقي نـن بـه د رڼمـه تـر محفلـه د رنـدانو
پـه سـتر ګو کـي اورونـه تويومـه د شـيخانو
پـه چيغـو لړزومـه کلـی کـور د رقيبـانو

شـاهد بـه محتـسب وي دا څـه شـور ولګېـدی
چـي زمـا پـر تنـدي سـتا د مينـي تـور ولګېـدی

رائـه چـي سره نـوش کـو سـل جامونـه لـه خُمونـو
رائـه بڅـري ګـډ کـو د زاهـد پـه جنتونـو
رائـه لـه جهـاني سـره ورګـډ سـو پـه اورونـو
پـر بنـار د غليمـانو دي پېغـور ولګېـدی
چـي زمـا پـر تنـدي سـتا د مينـي تـور ولګېـدی

ويرجينيا
۸-۳-۲۰۰۱

منظوم او آزاد شعرونه

زما کندهاره

زمـــا کنـــدهاره د زمـــرو وطنـــه
زمـــا د سرکـــښو پـــښتنو وطنـــه
د اتلانـــــو د کيـــــسو وطنـــــه
د ميـــــدانونو خرخـــــښو وطنـــــه
داسي مي نه غوښتې چي نن دي وينم
پـه تـن زخمـي پـه سـره کفـن دي وينم

نـــه دي هلمنـــد هغـــه موجونـــه راوړي
نـه لـه مـستۍ پـه خولـه ځګونـه راوړي
نـــه د ارغنـــد غـــاړي ګلونـــه راوړي
نـــه دي ترنـــک زاړه ســـپلونه راوړي
نـــه دي د ښـــتو کـــي قـــافلې وينمـــه
نـــه دي کبړ ديـــو کـــي ډبـــوې وينمـــه

نـه د رابيـا لـه مينـي مـست فـتح خـان
لـــــه کلاُبـــــسته قهرېـــــدلی روان
نـــه ورســـره دي د برېښـــو يـــاران

نه د مغولو په پوځ کې دی تالان
نه يې شپېلۍ دي په برېتو اغوستي
نه يې سرونه په نېزو اغوستي

نه چا ته کور نه چا ته بام پاته دی
نه د کيسو د شپو ارام پاته دی
نه د ببو د خولې پيغام پاته دی
نه ښادي خان نه دلارام پاته دی
نه په زلمې مينه کې شور خوځېږي
نه په رګو کې د چا اور بلېږي

نه د احمد د توري شرنګ وينمه
نه يې لښکري نه يې جنګ وينمه
نه پاني پت په وينو رنګ وينمه
نه سينې څيري په خدنګ وينمه
نه مرهټيانې مينډي بوري ژاړي
نه پښتنې په تبرو تورو ويړي
اوس دي پر کليو جنازې را اوري
له پېغلو سترګو اوښکې سرې را اوري
له خپل قسمته درته شپې را اوري
پر سپينو ورځو دي تيارې را اوري
اوس هديره د افسانو يې زمور

ګورد زلميو ارمانو يې زمونږ

اوس له آمو تر اباسينه خاوره
له وينو مسته سره رنګينه خاوره
هغه درنه هغه سنګينه خاوره
هغه تر خپل نيارګ شپرينه خاوره
وربانديې ګرځي د اورنګ آسونه
د پردې سولې پردې جنګ آسونه

اوس دې په لار کې رقيبان پراته دي
اوس دې په عرش کې شيطانان پراته دي
پر خزانو دې نيامارانپراته دي
په کوه قاف کې دې ديوان پراته دي
لاري کوڅې دې د اغزو ډکې دي
ياغي درې دې له لمبو ډکې دي
ما خو به ستا په نوم فالونه کتل
ما له قسمت سره سوکونه وهل
ما دې په غبرګه کې ګلونه ليدل
ما دې تندې کې جنتونه ويل
اوس مې په زړه کې ستا يادونه ژاړي

هـــره غـــزل کـــي مـــي بيتونـــه ژاړي

لا مـــي د وران قـــسمت خوبونـــه ويـــنم
لا دي پـــــه برخـــــه توپانونـــــه ويـــــنم
لا پـــه غـــضب د آســـمان خونـــه ويـــنم
لا د ډبـــــــرو بارانونـــــــه ويـــــــنم
لا بـــه د دوســـت پـــه نـــوم درځـــي غليمـــان
لا بـــــه دي وژنـــــي د لـــــستونې مـــــاران

راســـه چـــي وينـــي تـــه دي اور درکمـــه
زاړه جنـــون تـــه بـــه دي شـــور درکمـــه
څـــو لېـــونۍ چيغـــي پـــه پـــور درکمـــه
زخمـــي لمبـــو تـــه بـــه دي زور درکمـــه
راځـــه يـــو مســـته پيالـــه بنګ پورتـــه کـــو
يـــو ځل بـــه بيـــا د تـــوري شرنګ پورتـــه کـــو
راځـــه چـــي بيـــا د افـــسانو پـــه ژبـــه
د ملالـــــۍ او د عينـــــو پـــــه ژبـــــه
د ميونـــــدونو د کيـــــسو پـــــه ژبـــــه
څـــه د توپـــک څـــه د جرګـــو پـــه ژبـــه
د وطـــن شـــپو تـــه مـــشالونه راوړو
د تيـــارو بنـــار تـــه څراغونـــه راوړو

زمـــا کنـــدهاره د زمـــرو وطنـــه
زمـــا د سرکـــښو پـــښتنو وطنـــه
د اتلانـــــو د کیـــــسو وطنـــــه
د میـــــدانونو خرخـــــښو وطنـــــه
داسي مي نه غوښتې چي نن دي وینم
پـه تـن زخمـي پـه سـره کفـن دي وینم

ویرجینیا
۲۰۰۱- ۵- ۱۵

اوس به څه ليکې شاعره

هغه ستا د ابا مينه تالاسوې
چې تندي کې دې سجدې ورته ساتلې
د ګلونو پر غونډۍ اورونه اوري
وږمه ځي تر ارغوانه پښه نيولې
په کوڅو کې يې ژوندۍ جنازې ګرځي
پر کورونو د بلا ساه ده ختلې
له بانو تر ګرېوانه د اوښکو کوردی
له زلمو شونډو موسکا ده کوچېدلې
پر اوږو د اوښکو ووته له ښاره
د خندا جنازه ولاړه غم لرلې

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه
راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

اوس په ساندو کيسې وزي له کابله
چې کوڅې يې وې ښايستې په پېغلو حورو
سور سالو يې د لمبو رنګ دی اخيستی
چې په ښکلي وه باغونه د انګورو
پر انګړ يې د پاتا کمبلي ژاړي

پـــر تپـــر ســـوی دی نـــاورین د زورورو
ماشومان يې بلاګاني په خوب وينې
افـــــسانې د برېتـــــورو، ږيـــــرورو
د هر پلار کيسه د زوی په وينو سره ده
هـــره مـــورده پرهارونـــه د ناصـــورو

اوس بـه څـه ليکـې شـاعره راتـه وايـه
راتـه وايـه اوس بـه څـه ليکـې شـاعره

کډې کـوم وطـن تـه وړې دا کـور خرابـي
اوس بـه څـوک اوري آواز د پردې پـسانو
کـوم ولات کـي يـې درمـل ورتـه ليکلـي
څـوک بـه اوري فريادونـه د زخميـانو
څوک به غوږ نيسي نارو ته د بې پلارو
څـوک بـه وژاړي سـلګۍ د يتيمـانو
څوک به بيرته لوټه د خور پر سر کي
څـوک بـه نيـسي ګرېوانونـه د غازيـانو
د نـښترونـي جنـډۍ سـوې د قبرونـو
لا روانـــي دي جـــوپې د شـــهيدانو
اوس بـه څـه ليکـې شـاعره راتـه وايـه
راتـه وايـه اوس بـه څـه ليکـې شـاعره

اوس به څوک له قلندره سره ژاړي
اوس به څوک لږي ميرا ته غزلونه
څوک به اوښکي تويوي پر مينانو
څوک به ژاړي په کږدیوکي نکلونه
کوم حميد به خط و خال کاغذ ته يوسي
يادوي به ديارانو سفرونه
څوک به اوري کرامت د دروېشانو
څوک به ګوري پر رحمان باندي فالونه
څوک به نيسي د ديدن د ګودرلاري
له سالو سره به څوک ستايي اورونه

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه
راته وايه اوس به څه ليکې شاعره
اوس به څوک د هندوکش سندري بولي
اوس به څوک ځي په اتڼ تر خيبرونو
اوس به څوک د ارغسان پر څپو ګرځي
څوک به ليکي قصيدې د کونړونو
څوک به بولي له آمو تر اباسينه
غږ او سمه د سرکښو اولسونو
څوک به بولي له اټکه تر مالانه
قلاګاني د بابا له ميراثونو
اوس به څوک د جلالا ګودر ته يوسي

د هلمنـــد څخـــه شـــرنګی د امپلونـــو

اوس بـه څـه لیکـې شـاعره راتـه وایـه
راتـه وایـه اوس بـه څـه لیکـې شـاعره

اوس بـه څـوک رایـاد وي تپـري خبـري
اوس بـه څـوک راویـښوي زاړه نکلونـه
اوس بـه څنګـه نکلچـي غـاړه تـازه کـي
اوس بـه څـه وایـي زامنـو تـه پلرونـه
اوس به څوک د پاني پت په توره ویاړي
اوس بـه څـوک تـسلیموي اصـفهانونه
کوم شېرشاه توره ایستلې ځي سسرام ته
کـوم اکبـر بـه ورانـوي د فرنـګ خونـه
کوم اورنګ به خپل زخمونه وینې ژاړي
کوم خوشال به لړزوي په کټ کي زړونه
اوس بـه څـه لیکـې شـاعره راتـه وایـه
راتـه وایـه اوس بـه څـه لیکـې شـاعره

کومـه پېغلـه بـه غرمـه د میونـد سره کـي
د خپل یار لـه وینـو څوک ایږدي خالونـه
اوس به کومه تورپېکۍ پر بولدک ورسي
کومـه چیغـه بـه کـي سـره سـاړه رګونـه

کـوم لاسـونه بـه مـرې د قاتـل نيـسي
څـوک بـه اخلـي د پېړيـو کـساتونه
څـوک بـه راسـي د ايـوب سـره ملګـري
څـوک بـه واچـوي سـندرو تـه نومونـه
څوک بـه تـاوکړي د بابا بګړې له سره
څـوک بـه وران کـي د ازل کـښلي خطونـه

اوس بـه څـه ليکـې شـاعره راتـه وايـه
راتـه وايـه اوس بـه څـه ليکـې شـاعره
نـن هغـه ماشـه د ورور پـر لـور کـشېږي
چـي يـې غـړي تـښتول د رسـتمانو
نـن هغـه غـشي د خـور ټيکـري پېيلـي
چـي يـې زړونـه سـوري کـول د سرکـښانو
نـن هغـه اور د ابـا پـر مېنـه بـل دی
چـي کرلـې يـې لمبـې پـر ګرګينـانو
نـن هغـه تـوره د ورور پـه وينـو سـره ده
چـي څيرلـې يـې سـينې د غليمـانو
نن هغه سالار د بل په پښو کي پروت دی
ککـرې چـي يـې وهلـې د بتـانو

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه
راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

اوس له ګوتو د مطرب وينې را اوري
ژبې سل ځايه زخمي د شهباز ونو
د سندرو سره غبرګي وايي ساندي
د رنځورو زګېروي ځي له ربابونو
اوس به چيري د زلميو څونې غورځي
ګنهکاره سوه سورنا بڼ غ د ډولونو
شپې ته راغله انګولا د بلاګانو
شمع کوچ سوه د محفل له مابنامونو
د تيارو اجاره دار محتسب راغی
خپروي زړې تيارې پر ځوانو زړونو
اوس به څه ليکې شاعره راته وايه
راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

پر ګودر دي مېلمنې د بلا سترګي
نه شرنګی سته د پاولیو نه پايلو
پر نغمو پر زمزمو چپاو راغلی
زاغ نيولي ځالګی دي د بلبلو
نه محفل کي ګناهونه ياغي کېږي
نه خيام سته د توبو د ماتولو

سپين لاسونه د ساقي به چيري وېشي
پريارانو شنې پيالې ډکي له مُلو
اوس به څوک رنګونه تش کي په قلم کي
څوک به ليکي د ډوانونه د غزلو

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه
راته وايه اوس به څه ليکې شاعره
اوس نسيم راوړي خبر د تورو ورځو
اوس له شپو سره راځي اغزن خوبونه
آفتونو پکښې کړي ځالګۍ دي
جنازو پکښې اوډلي دي کورونه
وايي نسته کجاوې شا ليلا ورو ورو
پېغلي نه نيسي د اوښو پېزوانونه
اوس يې نه راوړي رويبارد ديدن زېرى
له قاصده سره نسته سلامونه
په کوڅو کي يې زمونږ پلونه بېګانه دي
له اغيار سره يې کړي پيوندونه

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه
راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

ويرجينيا
٢٠٠٠-٣-٦

د ثريا پر مزار

زما د ګران دوست او ځوان شاعر هادي هادي د هغه شعر په جواب کي ليکل سوی دی چي، ستا به باور نه راځي، تر عنوان لاندي يې په جلال آباد کي د ملکي ثريا پر مزار باندي ليکلی دی. ثريا ته يې ويلي دي چي ستا به باور نه راځي چي ستا په وطن کي پر ښځو څه تېريږي.

واه زوروره څه په لوړ آواز سندري وايي
ستا په سندرو کي ږغونه د پېړۍ اورمه
لکه له منځه د وحشي او توپاني سمندر
زه ستا آواز د بې وزلانو له بېړۍ اورمه
د غرونو منځ کي له درو له ګړنګونو څخه
يوه خوږه يوه اشنا غوندي شپېلۍ اورمه

څومره زړه وريې چي لا نوم د ملالۍ يادوې
د ثريا د قبر سر ته يې لنډۍ يادوې

لا دي د زړه خوالـــه راوړې د نـــازو لونـــو تـــه
لا پـــه دښـــتونو کـــي ســـندري د کـــوچۍ يـــادوې
لا دي ژونـدۍ ده پـه سـينه کـي سـوځېدلې مينـه
لا مابنـــامونه لا اورونـــه د کيـــږدۍ يـــادوې
لا دي خوبونـو تـه راوزي خپلـي دنګـي نجـوني
لا د ګـــودر ســـره پـــاولي او غـــارګۍ يـــادوې
اوس دي هغـه ښکلي پېغلـوتې بې پـاولیو ګرځـي
اوس بـې پـوړني ببـر سـر بـې غـارګیو ګرځـي
اوس يې سندري په دښتونو کي شپې نه ويښوي
چې د شيطان محتسب سترګي پر کيږدیو ګرځي
هغـه ښايـستې د غزلونـو د شـعرونو سـترګي
لـه اوښکو سرې دي شوړېدلي پـه زاريـو ګرځـي
اوس د دېوانـــو د شـــامته ښـــکلا وتورېـــده
د ترابـان پـه کـور کـي پـوځ د شـاپېريو ګرځـي
اوس يـې پـه مېنـه کـي د تـوري بـلا مـور لنګـه ده
پـه پېښور کـي پـه کوڅـو کـي د پردیـو ګرځـي
هغـه ښايـستې پـه تورلېنګیـو کـي پلـو ګرځـوي
د ګيـــدړانو کـــره لـــونې د زمريـــو ګرځـــي
د ثريـــا د خوينـــدو مينـــدو هـــديره ورکـــه ده
د ښـکليو لونـو يـې کـلا ورکـه دېـره ورکـه ده
اوس د زلخـوږي ابوجهـل د لـښکر لـه جـوره
پـه مابنـامونو کـي لمبـه ورکـه خېمـه ورکـه ده

څوک د تورونو څوک سنګسار د پاره جوړي
نجونې
پر سورکی شوند و یې د ژوند بله کیسه ورکه ده
اوس نه په ورا نه په اتن نه په مبله راوزي
د ژوند له خوني یې رنا ورکه ډبوه ورکه ده
په دې تورتم کې به له چا سره غمونه ژاړو
اوس به د کومو ځوانیمرګو لحدونه ژاړو
د کومو کوند و کومو بورو کومو ورارو سره
د چا کیسې او د چا شناختي او قبرونه ژاړو
د بې عزته محتسب دُره عزت لوټوي
د چا پرولي پرناموس باندي زخمونه ژاړو
دلته به څرنګه ګرېوان د زورورو نیسو
دلته به چا سره دردونه پرهارونه ژاړو
دلته مو وژني د نصیب د فیصلو په حکم
وایه له چا سره دا تور عدالتونه ژاړو
اوس د بابا پر مینه حکم د اورنګ چلېږي
د پردی تورې به موږ چا ته ګوزارونه ژاړو

ګوره هادي ! نن دي پر خویندو بدي شپې راغلې
د رنا ګانو په وطن کې دي تیارې راغلې
چې پایزبونو به یې شپې له کبړدی وشړلې

هغـــو پـــاپيو تـــه نـــن تـــوري زولنـــې راغلـــې

خـو کـه دا مېنـه پـه ريـشتيا د ملالـی مېنـه وه
کـــه د نـــازو او ثريـــا او تـــورپېکی مېنـــه وه
کـه پـه ريـشتيا زمريـو مينـدو وه راوړې بچـي
کـه پـه ريـشتيا د عُقابـانو د ځـالی مېنـه وه
کـه د شـهيد مـين پـه وينـو چـا خالونـه وهـل
کـه د ګوليـو پـه بـاران کـي د سـيالی مېنـه وه
کـه چـا دې خـاوري تـه د وينـو اوبـه خـور ورکړی
کـه د اتـڼ کـه د پـايکوب کـه د مـستی مېنـه وه

نـو پـر دې خـاوري داسـي ډيـري زلزلـې راغلـي
دې هـسکو څوکـو داسـي ډيـري حـادثې ليـدلي
دلتـه مرګـي مـوږ تـه پـه زر ځلـه خېمـې وهلـي
د بـورو ورارو سـترګو ډيـري جنـازې ليـدلي
مـوږ لـه ازلـه د توپـان پـه شـپه کـي وزېږېـدو
دې سـمندر کـي لـه پېړيـو مـو څپـې سـهلي

که ژوند بـاقي و يـوه ورځ بـه مـو بيـا ښکلي نجـوني
لکـه د غرونـو غرڅـه مـستي نـازولي نجـوني
بيـا پـر واټونـو ډلـي ډلـي پـه سـپلونو ګرځـي
زمـا د کابـل هغـه ښايـستې هغـه ښـاغلي نجـوني

بيا به په سرو منګلو زړونه له کوڅله کاږي
په شرنګا شرنګ به را روانې وي منلي نجونې
بيا به د ستړګو ترکونجو ګوري مکار محتسب
موږ به پرنويو پانو نوي حسابونه ليکو
بيا به د شعر پر مځکه وکړو د مينې فصل
بيا به له سره نوي نوي غزلونه ليکو

واشنګټن ډي سي
۹-۹-۲۰۰۱

زنداني خيالونه

ما ويل زه به يوه ورځ د پسرلي په سهار
چي مځکه سره او شنه وي
چي د بوډۍ په ټال کي
غزلي ناڅي ترې نظمونه اوري
چي د توبې پر لغوړنو پر چاودلو شونډو
کيسه د ذکر زنګ وهلې نيمه خوا ويده وي
چي له محرابه سجدې نه راپاڅي
چي شيخ د خپل قهر په اور کي سوځېدلی پروت وي
چي په جومات کي غځېدلی پروت وي
چي د نشې او د خُمار سندري
چي د جانان او د نګار سندري
چي د ساقي او د خپل يار سندري
هم له شبنمه هم له ګلو خوځي
هم له نرګس هم له سنبلو خوځي
هم له اوربل هم له کاکلو خوځي
له شونډو خوځي له سرو مُلو خوځي
زه به راځم پر هغه لاره باندي
چي تا په مياشتو په کلو ځارله
چي تا په اونيکو په سلګو ځارله

تا په دعا، تا په تعویذ، تا په فالو څارله
زه به راځم لکه د تللیو مرغکیو په څېر
د پسرلي د توتکیو په څېر
او راسره به وي د سپینو مرغلرو امېل
زه به کیسې د پردېسیو کوم
ته به کیسې د شوګیریو کوې
زه به له ګل څخه فراق ژاړمه
ته به نکلونه د اغزیو کوې
زه به دي غېږ کي نیسم
ته به مي غېږ کي نیسې
یوه شپېه به شوګیرونه هېر کو
د خیال په تاو به خزانونه هېر کو
او ښکي به هیري کو غمونه هېر کو
خو ګراني کله د زمان بند پوان
دا د عمرونو د زندان بند پوان
په زړه ظالم د شنه آسمان بند پوان
زما د خیالونو زولنې ماتوي
یا ستا د اوښکو سلسلې ماتوي
دا په زړه سخته زمانه
کله ارام ته پرېږدي
د پردېسي ستړي خپاره خیالونه
د بې وسۍ زخمي زخمي خوبونه

واشنګټن ډي سي
۲۰۰۰-۱۱-۱

د عمر سودا

ځوانيمرګي ځواني څه سوې
سپيني ږيري مخ دي تور سه
مروريم تر قيامته
ځه کلونه دي په ګور سه

ځواني چيري مي کړې ورکه
چيري ولاړې ښکلي نجوني
چي ښايستې ونې يې ګورم
رانه ليري ځغلي نجوني

خدايه نغده مي راوړې
پورته نه يمه راغلی
پنځه ورځي مي زلمی که
ژوند مي تهوله دربخښلی

چي بيا زه يم بيا ياران وي
بيا سبزه وي بيا ګلان وي
چي بيا مي وي بيا مستان وي

د شـــــــــــرابو رود روان وي

پيـالې ســر پـر ســر تـشـېږي
ښاخـــلې بنـــد پـر بنـد ماتـــېږي
وينـــي وار پـــه وار تـــو دېږي
مـــرګ او ژونـد دواړه هـــېريږي

شـــرنګ ســـي پـورته لـه ربابـه
لـــمبه خـــېژي لـــه دريـــابه
شـــيخ توبـه کـــي لـه کـــتابه
پرهـــېز مـات کـــي لـه شـــرابه

لـــــه پايـــــکوبه د يـــــارانو
شـــپې ســـي اور د رقـــيبانو
ورځـــي تـــوري د شـــيخانو
ژونـــد اغـــزي د غلـــيمانو

يـــو د بـل پـه سترګـــو پـايو
زه او يـار مـــي لاس تـر غـــاړه
يـو پـه بـل کـــي ســره ورک سـو
پـه يـــوه هـســتي کـــي دواړه

هم ډکېږي هم تشېږي
صُراحي او ګیلاسونه
له مستانو نسکورېږي
د سرو مُلو ډک جامونه

نازولې ساقي ګرځي
لکه څانګه د ګلونو
چي خمار مستي یې څاڅي
له سرو سترګو له لاسونو

خدایه سپین وېښته مي واخله
په رګو مي کړه اورونه
بس پنځه شپې مي زلمی که
نور درونیسه کلونه

چي توبه وي له حسابه
زه هغسي مستي غواړم
چي پرهېز وي له کتابه
زه هغه کلونه ژاړم
او که دا نه وي خالقه

بې اجـــــله درنـــــه ولاړم

ویرجینیا

۱۳-۳-۲۰۰۲

ته ښايسته يې

ته لکه ستوری د آسمان پر لمن

ته لکه سترګه د سبا ښايسته يې
په آسمانونو کې تنها ښايسته يې
ته له ازله له پخوا ښايسته يې
ته د مستۍ ته د خمار په شپه کې
لکه ساقي لکه مينا ښايسته يې
لکه پانوس لکه رڼا ښايسته يې
لکه جلوه لکه بربښنا ښايسته يې
لکه شبنم لکه ځلا ښايسته يې
لکه ګلاب لکه بورا ښايسته يې
لکه لاله په سره لمن کې د بېديا ښايسته يې
لکه غزل ټوله ښکلا ټوله له رنګه ډکه
لکه خيالونه د شاعر د هرې خوا ښايسته يې

ته لکه زېری پر غوږو لکه نغمه پر پوزې
له سر تر نوکه په رګو لکه لمبه کښېوزې
ته لکه شمع لګېدل دي زده دي
په توره شپه کې بلېدل دي زده دي

هـــم ســـو ځېدل هـــم ســـو ځول دي زده دي
هـــم ويلـــول هـــم ويلپـــدل دي زده دي
لکـــــه خيالونـــــه الوتـــــل دي زده دي
پـــــردي خوبونـــــه تـــــښتول دي زده دي
زخمـــــي کـــــول کـــــارول دي زده دي

تـه لکـه زرکـه لـه اوازه دي درپ ښکلي دي
لکه شپېلۍ له مازيګره دي رمپ ښکلي دي
لکه لمبه له مابنامونو دي خپمپ ښکلي دي
ته لکه وړانګه له سهاره دي څپپ ښکلي دي

ته لکه ګل د نسترن له تا بهار ښايسته دی
لکه نسيم لکه وږمه له تا سهار ښايسته دی
لکه سپوږمۍ له تا آسمان له تا سينګار
ښايـــــــــــــــــسته دی
ســـتا لـــه تـــصويره مـــي خوبونـــه ښـــکلي
پـــه تـــصور مـــي دي خيالونـــه ښـــکلي
ســـتا لـــه خيـــالونو مـــي نظمونـــه ښـــکلي
ســـتا پـــه هـــستۍ مـــي غزلونـــه ښـــکلي
تر څو ژوندی يم ستا په نوم به غزلونه ليکم
تر څو چي يونم څو چي وينم څو چي سترګي لرم
ســـتا پـــر تـــصوير بانـــدي بـــه اوښـــکي کـــرم

ستا په خوبونو به مې شپې بيدوم

ويرجينيا

۱۳-۳-۲۰۰۲

چې شپېلۍ بنده نه کې

شپانه دا خپله شپېلۍ بنده نه کې
په دې دښتونو کې یوازې دا یوه نغمه ده
چې موږ ته نکل د پېړیو کوي
یوازې دغه آواز
اوس د آشنا دښتونو
د جګو جګو غرونو
زموږ د زهیرو چپاو سویو زړونو
د نړېدلو سوځېدلو خونو
د ځوانیمرګو نیمه خوا قبرونو
یوه یوه کیسه پر ژبه لري
یوازې دغه آواز
یوازې ستا د شپېلۍ مستي او آزادي نغمې
د لوړو غرونو تر کمرونو ورځې
لا د کیږدۍ تر مانښامونو ورځې
لا په دښتو کې تر اورونو ورځې
لا د زلمیو مینانو تر نکلونو ورځې
لا د بلبلو چنچنیو تر غوږونو ورځې
شپانه دا خپله شپېلۍ بنده نه کې
چې زموږ د غرونو دا ژور لانبونه

چې دا زخمي ګلونه
دا سوځېدلي او دا وچ ډاګونه
دا نیمه خوا ښارونه
دا بې صاحبه دا میرات کورونه
دا د مرګي له ساندو ډکه خونه
یوازي تا پېژني
شپانه کلونه کېږي
چې وطن رنګ د لېونتوب اخیستی
جنګونو باج له سړیتوب اخیستی
د څو قاتلو لوټمارانو ټولې
د بېګانه دارې مارانو غدې
زلمي سرونه په لمنو کي وړي
شهیدي وینې په خُمونو کي وړي
پردي تېغونه په لاسونو کي وړي
نه یې په شپو کي دي کیسې پرې ایښي
نه په کیږدیو کي لمبې پرې ایښي
نه یې پر شوندو ترانې پرې ایښي
نه یې شهباز نه یې نغمې پرې ایښي
نه یې لنډې نه یې ناري پرې ایښي
ستا له شپېلې به هم نغمې تللي وي
ستا له نغمو به هم کیسې تللي وي
ستا له کیسو به هم مزې تللي وي

تا ته به هم سورونه نه وي پاته
ستا له آوازه به هم ويني څاڅي
ستا له سورونو به هم اوښکي پاڅي
تا ته به کله دونه شور پاته وي
ستا د نغمې به کله زور پاته وي
ستا به د وينو چپرته اور پاته وي
خو ته دا خپله شپېلۍ بنده نه کې
ستا له شپېلۍ واری سم
که سبا بيا مو ګودرونه خپل سول
که مو دا غرونه دا دښتونه خپل سول
که په کيږدیو کي اورونه بل سول
او بيا کيسې د اورېدلو سولې
بيا غاړګۍ د اچولو سولې
پېغلي ګودرته د ورتللو سولې
د پايزېبونو د پاولیو شرنګولو سولې
د محتسب سترګي ړندې سوې د ايستلو سولې
بيا به دا ستا په نغمو
بيا به دا ستا په آواز
دا ستا په مسته شپېلۍ
راوينبوو د نيمو شپو نکلونه
له شپو به باسو شيطاني خوبونه
بيا به را ياد کو پخواني وختونه

بیا به رباب ته شهباز ونه راسي
بیا به نغمو لره سورونه راسي
بیا به نڅا ته پایزپبونه راسي
بیا به محفل ته پانوسونه راسي
د ساقي لاس کي به جامونه راسي
ته به شپېلۍ ږغوې
یاغي سندري به دي
راپاڅوي د رګو وچي وینې
ژوندۍ کوي به زمولېدلي مینې
راویښوي به ډکي ډکي پینې
دا شپېلۍ بنده نه کې
په دې شپېلۍ کي زه خوبونه وینم
پکښې خیالونه وینم
درته خوبونه زنګوم پکښې ټالونه وینم
د ننۍ اورونه هېرومه جنتونه وینم
شپانه دا خپله شپېلۍ بنده نه کې
ستا له شپېلۍ واری سم
په دې دښتونو کي یوازي دا یوه نغمه ده
چې موږ ته نکل د پېړیو کوي

ویرجینیا
۱۲-۸-۲۰۰۰

سترګي

پرون مي نابېره
پس له کلونو ستا پر لور سترګي در وا وښتلې
او د عينکو شاته
يو ازي ستا د خمارو سترګو کيسه پاته وه
نه له اوبو ډکي وې
نه له رمزو ډکي وې
نه له نخرو ډکي وې
پکښې مي ونه ليدل
د مستۍ ډک سره او نري رګونه
نه يې رازونه ويل
نه يې نازونه کول
نه يې بانډو پيره دار
نه يې وارونه کول
نه يې ښکارونه کول
نه يې د زړونو امپلونه پېيل
نه يې وعدې د سباوون کولې
نه يې کيسې د مستو شپو نه د پرون کولې
نه يې کارډه بانډو حملې د شواخون کولې

نه يې پر زړونو اورول نوي تازه وارونه
نه يې له سترګو تښتوله د ځوانۍ خوبونه
پرون مي نابېره
پس له کلونو ستا پر لور سترګي درواوښتلې
درته کتل مي چې ښايستې سترګي دي
هغه د ميو پيمانې سترګي دي
له بېخوبيه له مستيه تکي سرې سترګي دي
د غزلونو افسانې سترګي دي
بنګ د ځوانۍ او د مستۍ نه لري
نازد ورېښمينې ناوکۍ نه لري
تمه د عمر د نازونو د پېړۍ نه لري
او له کونجونو څخه غلي غلي
د بلي مستي غنم رنګي نازولي نجلۍ
ها د ښکلا له تارو پوه ده د اودلې نجلۍ
د غټو بورو سترګو
په نندارې پسې کرار کرار مزلونه وهي
چې خپلي شپې به يې يادېږي کنه
چې خاطرې به يې پاربېږي کنه
پټې له ځان سره ژړېږي کنه

ویرجینیا
۲۰۰۱-۳-۱۷

سوګند

چې لا تر څو مې په رباب کې وې تارونه پاته
چې مې لا ګوتو کې شهباز خوځېږي
چې يې لا توان د شرنګولو لرم
چې لا نغمه د ږغولو لرم
او لا يو څوک د اورېدلو لرم
او لا مې پاته په نغمه کې وې وروستي سورونه
زه به رباب وهمه
ما د جنون په سر قسم کړی دی
چې د تيارو او د سکوت شيطانان
زما پرتندي سجدې ليدلای نه سي
ياغي ناړې مې ابلولای نه سي
شمع په لاس به په کوڅو کې د رندانو ګرځم
زه به پر کورد ميخوارانو ګرځم
تشي پيالې کړنګوم
ځانته زاهد قهروم
اورد دوږخ پاروم
کورد ريا سوځوم
که نشې نه وي که مستي که شرابونه نه وي

که ساقي نه وي سپين لاسونه ډک جامونه نه وي
که محفل نه وي که نڅا که پايکوبونه نه وي
يوه خماره چيغه
څه لېونۍ او څه هوښياره چيغه
پورته کومه دا سکوت ماتوم
ژوندي قبرونه په نارو ويښوم
ځانته زاهد قهروم
ما د جنون په سر قسم کړی دی
چې د تيارو او د سکوت شيطانان
زما پر تندي سجدې ليدلای نه سي
ياغي نارې مي اېلولای نه سي
که د تور مخو زاهدانو پيره دارو سترګو
د محتسب او د قاضي دواړو مکارو سترګو
له خلوتونو راوتلو رياکارو سترګو
په رنجو تورو دوو غدارو سترګو
له ګودرونو د پېغلانو نارې وشړلې
له پايزېبونو يې د شرنګ سلسلې وشلولې
له مانبامونو يې کيسې او لمبې وايستلې
زه به ګودر ګودر نارې وهمه
زه به پر سپينو مرغلينو اوږو
زه به پر سپينو پرورېښمينو لېچو
د منګوتيو سلسلې يادوم

زه به کيږدی ته ورځم
زه به لمبې بلوم
زه به کيسې ويښوم
ځانته زاهده قهروم
ما د جنون په سر قسم کړی دی
چې د تيارو او د سکوت شيطانان
زما پر تندي سجدې ليدلای نه سي
ياغي نارې مي اېلولای نه سي
لا خو ژوندی يم لا له ستوني مي اواز راوزي
لا خو بينا يم سپين له توره بېلولای سمه
لا يوه چيغه مستانه پورته کولای سمه
لا خو په وينو کي بڅرې ګډولای سمه
لا خو غزلې مستولای سمه
لا مي سينه کي ناويلي ترانې پاته دي
لا ترانو کي څو زخمي زخمې نارې پاته دي
لا له شهبازه سره غبرګي زمزمې پاته دي
لا په رګونو کي څو څاڅکي وينې سرې پاته دي
لا مي په وينو کي څو ګرمي هنګامې پاته دي
لا به زه اوس د انځورګرو په کوڅو ګرځمه
په قلاګانو په حجرو ګرځمه
د ورکي مېنې به پوښتنې کوم
کوډې کتنې کوم

څو سوځېدلي تصويرونه ايږدم
څو پانې پانې کتابونه اوډم
پکښې څېره د خپل جانان لټوم
له ماتو ماتو قلمونو سره
پر سپين کاغذ باندې خطونه ليکم
يوه څېره رسموم
بيا له تصويره سره لوبې کوم
تر ښه انځور جوړوم
د زړه په وينو يې خالونه ايږدم
ځانته زاهد قهروم
ما د جنون په سر قسم کړی دی
چې د تيارو او د سکوت شيطانان
زما پر تندې سجدې ليدلای نه سي
يا غې نارې مي اېلولای نه سي

ويرجينيا ۲۰۰۰- ۱۲- ۱۹

او لا اورونه بل دي

د پوهاند عبدالشکور رشاد د شعر په اقتفاء

هـا چـي پـه وينـو يـې لړلـي دي د غـرو لانبـونه
چـي يـې لمـن کـي رغړېـدلي دي مغـرور سـرونه
چـي يـې د تـوري لـه هيبتـه لړزېـدل پـه کـټ کـي
د غليمـانو د تورزنـو جنګيـاليو زړونـه
چـي يـې کيسو تـه لـه باګرامـه تـر سـرامه پـوري
يـو پـه يـو وښـودل د شـپږ او د سـکندر نومونـه (۱)
چـي يـې راپـاڅي افـساني د اصـفهان لـه کيسو
چـي يـې لـه ډاره رپېدلـه قزلبـاش پوځونـه (۲)
چـي پـاني پـت تـه يـې ور وښـودی ايمـان د تـوري
چـي د تـاريخ سـينې تـه ولاړل دُرانـي تېغونـه
چـي لـه پـامیره تـر سـپين غـره تـر خيبـره پـوري
پکـښې ايـرې سـول يرغلګـر او د دښـمن هډونـه
چـي لـه سـکندره لـه چنګېـزه يـې کـړې لاري ورکـي
چـي د فرنـګ پـر زړه يـې کښېـښود له تـور داغونـه
چـي سـره تبـې يـې کړلـه مځکـه د فرنـګ او تـزار
چـي يـې پـه غـاړه کـي ور وټومبـل د اور لاړونـه
چـي سـرو لـښکرو پکـښې زرځلـه ټکـري وکـړې

چې خپل تاریخ ته یې سوغات یوولې ژړ مخونه
چې یې د کونډو، بورو، ورارو حسابونه ورک دي
چې یې د شمېر په ژبه نه راځي ناصور زخمونه
چې یې ترننه تر سبا او تر پېړیو پورې
په ښار او کلیو کې ور و کړله سره اورونه
چې دې انګړ ته د کور به بې اجازته راځي
کوم بختور به وړې ترکوره مات ژوندي بندونه
دلته سینې دي له ازله له پولادو جوړې
دلته له تانک سره ډغري وهي کلک سوکونه

او یوه ورځ د دې وطن په کړلېچو کې مات سول
د تزارانو په ګناه ککړ خیرن لاسونه
او یوه ورځ سود پېړیو طلسم درې وړې
او یوه ورځ له هسکه راغلل د بري ډغونه
ویل یې سپک سول د درانه پښتون انګړ ته چې تلل
د کبر جنو داړه مارونارو اتانکونه

پر مځکه جوړې زلزلې سوې د اتن له زوره
میدان ته ووتل د تېرو افسانو ډولونه
ولاړې د غرو شاته نیهام سو تښتېدلی ښامار
په میدانونو کې یې پرېښود له مات غابنونه
د کنډوالو ناره یې واورېدل په عرش کې خالق

د کونډې نا وي په نیکریزو سرو لاسو عرضونه
غرونو سیندونو یوه بل ته پیغامونه لیږل
د شهیدانو له جنډیو اوږدل رنګونه
چا ویل بیا ګوندي سمسور سي سوځېدلي کلي
ګوندي دا شاړي مځکې بیا وسپړي سره ګلونه
بیا له سورنا او له ربابه نغمې پورته سولې
نڅا ته ووتل د نجونو او زلمو فوجونه
مبارکۍ وې یو د بل غوږ کې ویله خلکو
نن که سبا وي پردي کیږي بېګانه کمپونه
نور به ستنېږي سترې کډې له پردیو خاورو
نور به خالي وي د پردي ملکو پردي کورونه
نور به شملې د شمله ورو چا ته ټیټې نه وي
زموږ د زلمو غیرت به نه څټې پردي دېګونه
خپل به قاضي خپل به ملک خپل به وي مشر د قام
بیا به پر خپلو مځکو یون کوي آزاد قومونه
بیا به د زرکو په ګامونو وي روانې نجونې
بیا به سینګار وي په کوچیانو زرغونه دښتونه
بیا به د تالندي د زوره غرا او سمه ږدي
بیا به غورېږي د ترنک او ارغسان موجونه (۳)

خو يو ناڅاپه سره ورغلې خوني لښکري
بل سول په ښار او په باندې وکي د نفرت اورونه
لکه چې چا ته د پېړيو دښمني وي پاته
لکه بدۍ ته پاڅېدلي وي غليم تربرونه
لمبې له کليو له ښارونو له کوڅو پورته سوې
سره سول د ورور او خور په وينو د غازي لاسونه
د خورې پورې د ابا شمله يې ولوټله
له زړونو ووتل د مينې او غيرت نومونه
يا زموږ بچي په کور کي تل دغه ناخوالي کوي
يا په پردي کور کي بدل سول زموږ ياغي مېړونه
چې په نومونو يې سندري جوړولې نجونو
هغو غازيانو يې پر کليو اورول مرګونه
او لا تر ننه دا بدمرغه هنګامه جوړه ده
او لا تر ننه کيندل کيږي د زلمو قبرونه

لا د ابۍ په غېږ کي نه دی کرار سوی ماشوم
لا هره شپه په خوب کي وينې د قاتل برېتونه
لا يوه بل ته سره اړوي اوتري سترګي
لا يې په کور کي مېلمانه دي د مرګي يادونه
چا ورته کړي دي کيسې د هغې بري کوڅې
چې د ژوندي انسان په سر کي چا وهل مېخونه
چا ماشومانو ته ويلي دي چې تل به وينې

د افغانانو په ازل کي نوشته جنګونه
دې افسانو د کور او کلي ارامي وړې ده
له ماشومانو يې غلا کړي دي خواږه خوبونه

هسي نه بيا پردي راغلي وي د سيوري په څېر
له يوه بله مرور کړي د قومونو زړونه
هسي نه بيا يو څو تور مخي په جرګو ورګډ سي
هسي نه يو له بله وجنګوي لوی ښارونه
هسي نه سپکه سي شمله د باتورانو د کور
هسي نه بيا په وير اخته سي دا زوی مړې خونه
بيا خو به نه وي د قلا په مخ کي غل پيره دار
شريک خو نه دي له رقيب سره د زړه رازونه

نيکه ويل چي خپل مو خپل دي بېګانه مغول دي
هېر خو به نه وي د بابا او د نيکه پندونه
بيا په لوی لاس خو به بلا چا رابللې نه وي
هېر خو به نه وي پروني او پخواني نکلونه
چي غمازان مو مرکې کوي د وروڼو تر منځ
تر هغې ورځي به د وينو وي روان سيندونه
لا به را اوري د آسمانه څخه سره اورونه
لا به غړو مبېږي ډک له اوره دوږخي توپونه

ويرجينيا

(۱) په هند کي د پښتنو دوو مشهورو شاهانو، شېرشاه سوري او سکندر لودي، ته اشاره ده.

(۲) قزلباش (سور سري، يا د سرو خوليو خاوندان) د اېران د صفوي شاهانو پوځيان وه، چې هم يې په کندهار کي د ميرويس نيکه له لاسه ماتي وخوړې، او هم يې په اصفهان کي د شاه محمود هوتک د انتقام مزه وڅکله.

(۳) ترنک او ارغسان د کندهار دوه لوی سيندونه دي، چې پر غاړه يې ډېر لوی غلجي او درانې قبايل آباد دي.

چې رانه سې پسرليه

د خوشحال خان خټک د بهاريه قصيدې په پيروي

هـې افـسوس چـې بيـا بـه رانـه سـې بهـار
نـــه ځـــولۍ ځـــولۍ ګلونـــه نـــه ګلـــزار
نـه ښايـسته بـه سـې ټالونـه پـه پيغلانـو
نـــه ولاړ بـــه وي زلمـــي کتـــار کتـــار
نـــه روان بـــه وي همزولـــي لاس تـــر غـــاړه
نـــه نـــوروز نـــه ګـــل ســـرخ نـــه شـــالمار
نـــه بـــه ښـــکلي وي د ښـــتونه پـــه زلميـــو
نـــه بـــه پورتـــه لـــه بـــاغونو وي چغـــار
نـه بـه بيـا خوشـال ايـستلې تـوره راسـې
نـه بـه بـاز غونـدي منګـل سـر کـي پـه ښـکار

نـــه بـــه ســـره تبـــۍ کـــي مځکـــه د مغولـــو
نـــه لـــښکر بـــه د غلـــيم کـــي تـــار پـــه تـــار
نـــه مرغـــان بـــه د رحمـــان پـــر غـــزل ژاړي
نـه بـې ګـوري څـوک فالونـه پـر ګفتـار
نـه بـه څـوک د قناعـت پـه اطلـس ويـاړي
نـــه بـــه ګرځـــي پـــه خرقـــه کـــي شـــهريار

نه به کړنګ و شنو پیالو ته حمید ورکي
نه به شوندې پکښې وینې د خپل یار
نه به اوښکي تویوي پر مسافرو
نه به فرش کي په لېمو دلبرتلار
مهاجري سولې ورځي شبستان ته
د تورتم لښکر نیولی د لمر بنار

نه د زرکو په نارو دي غرونه بنکلي
نه بازان خوني منګول تپره منقار
نه ناري دي د چنچنو د قمریو
نه شاهین پسي وتلی دی په بنکار
په ګزمو د شیطانانو سترګي ګرځي
منګي نسته پر ګودر باندي کتار
پاولي نه کوي شرنګی پر ګودرونو
پېغلي نه لري خالونه د سینګار

نه غوتې دي د سوما له اوبو مستي
نه لښکري د بورا ګرځي خمار
نه وږمې ګرځي په شپو کي د ګلونو
نه شبنم له غونچو الوزي سهار
هره خوا ګرځي لښکر د صیادانو

اوس بلبل ترانې نه وايي په جار

د نارنجو ګل به څوک ګرېوان ته يوسي
محتسب چې وي وهلی ننګرهار
څوک به وليکي خاتول ته غزلونه
د مرګي لښکر چې پروت وي پر مزار
ګناه کاري سوې جنډۍ د زيارتونو
نه سخي سته نه لمن د لالهزار
جنازې دي چې را اوري پر کورونو
مستي نه لري کوڅې د کندهار
ستا په نوم چې ورانوي د وطن څلي
ربه ته يې په لعنت کهګرفتار
د احمد پر مېنه مه وای زېرېدلی
مه يې مورد دې وطن وای مه يې پلار

نن يې اورد جنازو پر وطن بل کړ
هم لښکرو د غلام هم د بادار
خدايه يو زخم خونه دی چې به جوړ سي
کال په کار دي پرهارونه وار په وار
چې به ويښې په نارو وې د نکلونو
له هغو کيږدیو پورته دی کوکار
چې د بنتونه يې وه بنکلي په اورونو

لـــه هغـــو خپمـــو کچکـــول باســـي مالـــدار
نـــه شـــپانه ســـته نـــه کيـــږدی نـــه رمـــې ګرځـــي
نـــه پـــه دښـــت کـــي د لېوانـــو پـــروت دی ډار

خدايـــه ورکـــي ســـوې شـــملې د شـــملورو
نـــه ســـرونه ســـول راپاتـــه نـــه دســـتار
لـــه قاصـــده ســـره نـــسته پيغامونـــه
بدشـــګون دی ســـترګي ســـرې دي د رويبـــار

رباتونـــه نابلـــده راتـــه بنـــکاري
قافلـــه پـــر کومـــه ځـــي کـــرار کـــرار
تـــوره شـــپه ده کنډووونـــه کږلېچونـــه
يـــا بـــه ړونـــد وي يـــا جاهـــل کـــاروان ســـالار
لـــه خزانـــه تـــر خـــزان پـــوري ژونـــدون دی
نـــه يـــوه لحظـــه ســـکون ســـته نـــه قـــرار
هـــره ورځ يـــې لـــه دوږخ څخـــه راوزي
پـــر تنـــدي د هـــري شـــپې ليکلـــی نـــار
هـــر ســـاعت يـــې قيـــامتي اورونـــه اوري
زخمـــي کـــډي بـــاروي زړونـــه افګـــار
کـــور او کلـــي د ســـکروټو کرونـــدې دي
ورور لـــه وروره زوی لـــه پـــلار څخـــه بېـــزار
لا ټـــولی د لېـــوني محتـــسب ګرځـــي

نه پرسدیې دی پرې ایښی نه هوښیار
د مطرب له شهباز و نو اوښکي اوري
نه په سورکي یې رباب دی نه سیتار
نه په غلا نه په ښکاره یې دیدن کړي
د جانان کوڅې نیولي دي اغیار
نه ساقي ډکي پیالې راوړي محفل ته
نه یاران دي په مستیو کي سرشار
نه د ګل په نصیب سرې شوندې د پېغلو
نه بورا سینه څیرلې ده په خار
ځه په مخه دي ګلونه پسرلیه
درته نور به وي ملکونه انتظار
دا یتیمي څنې نه غورځي اتڼ ته
دا زوی مړي تا ته نه دي د روزګار
ته د کونډو اوښکو نه یې د پوښتني
د زهیرو زړونو مه اخله آزار
جهاني د خوشحال خان له برکته
د سکروټو په قلم لیکي اشعار

ویرجینیا
۲۰۰۱-۱-۳

د بنګلو نجلۍ
(بيلي جويل)

دا په لوړو بنګلو کي د ښار اوسي
زما په شان غريب يې هيڅ نه دی ليدلی
نه يې مور کله کيسه ده ورته کړې
نه يې خيال ته داسي ژوک دی ورغلی
دا نجلۍ ده نازولې د قصرونو
ورته نسته لار د پلونو د خوارانو
نن يې زړه ته ده زما مينه ورغلې
نن د بخت په ازمېينه ځم يارانو
نن يې کړې فيصله د ژوندانه ده
نن سپاري چا ته جلو د خپلي مينې
نن به زړه د چا له زړه سره پيوند کړي
تودوي د چا په وينه خپلي مينې
نن يې زړه غواړي چې ځان لره پيدا کړي
يو غښتلی په زړه کلک له غريبانو
خو له ما څخه اختيار دی مينې وړی
زه له دغې ډلې نه يمه يارانو
دا په لوړو بنګلو کي د ښار اوسي
ما د دې نړۍ هرګز نه ده ليدلې

زه د دې دنیا ته نه یم ورغلی
ما لا خپله طالع نه ده ازمېیلي
ستړې سوې ده په سپینو بنګلو کي
زړه یې شین دی له هغه ژوندونه ژاړي
د غټانو له زامنو ده ببزاره
نن یې زړه د غریبانو سره غواړي
نن که نه سمه ور وړلای مرغلري
یوه ورځ به مي راخیژي د بخت ستوری
پرې به جوړ کمه باران د سرو او سپینو
په ټولې کي د سیالانو به مي ګوري
هغه ورځ به دا زما په مینه ویاړي
راسره به وي پر څنګ باندي روانه
په ورو ورو به اخلي بنکلي قدمونه
لکه زرکه لکه سروَ خرامانه
نن یې زړه غواړي چې ځان لره پیدا کړي
یو غښتلی په زړه کلک له غریبانو
خو له ما څخه اختیار دی مینې وړی
زه له دغې ډلې نه یمه یارانو
نن یې زړه ته زما مینه ورغلې
ما هم زړه په بنګلو کي دی بایللی
ور روان یمه د بخت په ازمېینه
نازولي ته مي واک دی ورسپارلی

ويرجينيا

١٩٩٩- ٥- ٣١

کیسې او نکلونه

موږک شپر

د لـــوی ښـــار څخـــه دبانـــدي يـــو دره وه
جـــوړه کـــړې يـــوه شـــيخ پکـــښې دپـــره وه
پر سجدو به خدای ته پروت و په خواستونو
ټـــولي شـــپې يـــې تېرولـــې پـــه نفلونـــو
کـــه هـــر څـــو د ښـــار پـــر خلکـــو باندي ګـــران و
دی لـــه خلکـــو راګونـــه پـــه غـــم د ځـــان و
دوولـــس میاشـــتي بـــه يـــې تـــل روژې نيـــولې
يـــوه ورځ يـــې چـــا ډوډۍ نـــه وه ليـــدلې
يـــا پـــه ذکـــر يـــا پـــه فکـــر بـــه مـــشغول و
پيـــر پـــر هـــر چا باندي ګران ورتـــه مقبـــول و
نـــه يـــې وړلـــې شـــکراني نـــه خيراتونـــه
نـــه يـــې چـــا تـــه ورليکلـــه تعويذونـــه

د دعـــا دپـــاره خلـــک چـــې ورتللـــه
پيـــر بـــه يـــو ګـــړی حـــضور تـــه وربللـــه
نـــور نـــه شـــيخ د دنيـــا کـــار لـــره وزګـــار و
نـــه لـــه ښـــو نـــه يـــې لـــه بـــد و ســـره کـــار و
يـــوه ورځ يـــوه مـــوږک پـــه حجـــره کـــې
شـــل او ســـل ځلـــه آزار کـــړ پـــه ســـجده کـــې

چي به شيخ کله ورټيټ سو و سجدې ته
د موږک لکۍ به ورغله و خولې ته
شيخ کرار ورڅخه وکړله پوښتنه
ما پر څه آزاروې په بخت پمنه
موږک وويله شيخه ستا قربان سم
د مرګي مخته دي سپر بلاګردان سم
د پيشو له لاسه ډېر يم کړېدلی
شوم نهر يم وږی تږی ژړ زبېښلی
د ظالمو پيشوګانو له ناتاره
يو ګړی وتلای نه سمه له غاره
ته دُعا وکه چي زه غټه پيشو سم
نور به هر ګړی بېغمه له حملو سم
شيخ دُعا وکړه موږک توره پيشو سوه
هغه دم خدای ته د شکر په سجدو سوه
سمدستي يې کړه حمله پر موږکانو
مرګ يې ګډ کړ په خپل کور کي په خپلوانو
نه يې مخ وکوت د خپلو ګاونډيانو
نه د ورونو، د زامنو، اکاګانو
خپله مور او پلار يې څيري په منګول کړل
مېلمانه يې خويندي ورونه د اجل کړل
راوتلای موږکان نه سوای له غاره
سپوڼ په کور کي هيچا نه واهه له ډاره

یو څو ورځي یې پر خپل کلي مبله وه
د پیشو برېتونه غوړ منګول یې سره وه
بیا خلوت ته سو دننه ویل پیره
ستا قربان سم د خوارانو دستګیره
د ښار سپیو مي تریخ کړی خوږ ژوندون دی
ښکار له بېري نه سم کړای وچ مي لړمون دی
راته غاپي په کورو کي پر بامونو
ګرځېدای نه سم پر جګو دېوالونو
په دُعا دي یو لوی سپی راځخه جوړ که
په دې سپیو په کوتریانو مي زړه سوړ که
شیخ پر چوف کړه پیشو ځای پر ځای خدل سو
هغه دم د پیشو ګانو په تکل سو
په ځغستا به یې ایستې له کلي کوره
نه یې خړه پیشو پرېښوده نه توره
که پیشو به پیدا نه سوه د کورونو
واړه سپي به یې دارلې په غاښونو
لاروي یې دارولې په ګواښونو
ماشومان یې ځغلول تر خپلو خونو
و هر چا ته یې ښودلې خپلي داړي
څوک تر خلاص نه وه په ناستي په ولاړي
خو څو ورځي وروسته بیا ولاړی حجرې ته
شیخ یې نه خوشي کاوه خپلي سجدې ته

ویل شیخه زه په کومه خوله ګویان سم
ستا تر پښو دي صدقه سمه قربان سم
په عذاب کړم په کوڅو کي ماشومانو
کانې ویښم په لاسو کي د لویانو
نه کورو کي مي پرېږدي ډلي د سپیانو
نه په ښار کي پرده وکان د قصابانو
دا یوزه په ټوله ښار کي خوار و زار یم
ته وا زه د ښمن د هر سړي د پلار یم
شیخه ماته دعا وکړه چي لېوه سم
کوڅې پرېږدم او سپدونکی د ځنګله سم
شیخ پر چوف کړه سپی هغه ګړی لېوه سو
پر سجده سو او روان پر لور د غره سو
یو څو ورځي یې کړې تېري په ښکارونو
ګرځېدی پر لویو غرونو پر دښتونو
دواړي زامي به یې سرې وې تر غوږونو
په ځیرلو د اوزګړو د پسونو
انګولا یې خوب حرام کړ د کوچیانو
سرګردانه یې کړې ورځي د شپونیانو
ډاریې واچاوه د دښت پر ماشومانو
تر ګودر پوري په لارکي د پېغلانو
یوه شپه په نیمه شپه کي را روان سو
بیا د پیرد بېرې ته ورغی نالان سو

ویل شیخه په دې غرونو کې پرانګان دي
د ځنګله په هغه بل سر کې زمریان دي
له هیبته یې په ښکار وتلای نه سم
له ستمه یې خپل ښکار خوړلای نه سم
ځغلوي راځخه زما کړي ښکارونه
که څه وایم راته وښیي غابنونه
ته دعا و ماته وکه چې زمری سم
هم په ځغاسته هم څیرلو ګړندی سم
چې د چا نه وي ترما تپره غابنونه
تر مرګي پوري ونه وینم ظلمونه
بیا به نه راځمه پیره ستا ترکوره
له لمونځونو به دي نه باسم په زوره
پیر پر چوف کړه لبوه ځای پر ځای زمری سو
انګولا ورځخه هپره سوه غړومبی سو
شوریې ګډ کړ د ځنګله په حیواناتو
سمه، غر، ځنګل یې اور کړ د هوسیانو
چا لیدای نه سوای تولې د ګیدړانو
په غارو کې آرام نه و د خوارانو
که به وږی و که نه و ده وژل کړل
له سهاره تر مابنامه یې دا ړل کړل
له ځنګله څخه کوچ و کړ چغالانو
تخم ورک سو د هوسیانو د سویانو

ګـــوره څرنګـــه دا فکـــر ور پيـــدا ســـو
چې د شپې روان د شيخ د کـور پـر خـوا سـو
شـيخ چـې ولـيـدی زمـری، ويـل يـې وايـه
څـه مـشکل يـې راوسـتلی تـر دې ځايـه
اوس بـه چـا يـې پـر دې سـيمه کړولـی
پـه ځنګلـه کـي خـو تـر تـا نـسته بنـاغلی
زمـــري وويـــل دا نـــن ځکـــه غړومبـــړم
چـې يـو بـل مـوږک زمـری نـه کـې ډارېـږم
بـل مـي بنـکار مينـدلی نـه دی پـه ځنګلـه کـي
ګونـدي سـتا غوښـي د زړه سـوده را وکـي
چـې زمـري کړې شـيخ تـه سـپيني خپلـي داړي
شـيخ يـې تـو کړلـې لـه قهـره پـر مـخ نـاړي
ويـل ځغلـه زمـا لـه کـوره څخـه ورک سـه
نـه لېـوه يـې نـه زمـری بيرتـه مـوږک سـه
زمـــري وکتـــل و ځانتـــه چـــي مـــوږک ســـو
پـښېمانۍ څـه ګټـه نـه کـول هـک پـک سـو
د خپـل غـار پـر لـوريـې پورتـه کـړل ګامونـه
ږېرد بدلـــه يـــې لکـــۍ، اوربـــوز، غوږونـــه
خـو پـه غـار کـي نـه ملګـري نـه خپلـوان وه
ده وژلـــي وه کـــه ورونـــه کـــه ســـيالان وه
چـې پـه شـاوخوا کـي پاتـه مـوږکـان وه
ټـــول د ده د وينـــو تـــږي دښـــمنان وه

په هر پوست کي يې وژلي حيوانان وه
مورکان وه که پسونه که لپوان وه
چي د بل په متو غټ سي يا زمري سي
په هغه ګړي له قام څخه پرديسي
اول غوښي خوري د خپلو قريبانو
ښخوي داړي په خپلو په يارانو
دا يې هېره وي چي نن ته تېربدل سته
چي هسکېږي يوه ورځ کښته کېدل سته
چي يې عقل خدای مورک غوندي کوچنی کي
يوه ورځ پر خپل باندي غورځی کي

٦-٢-٢٠٠٠

سرچپه قضاوت

يو بډای په يو لوی ښار کې هستوګن و
نعمتونه يې پرېمانه وه شته من و
خدای ورکړې وه کورونه جايدادونه
له نيکونو ورته پاته وه باغونه
همېشه يې وه په کور کې مجلسونه
د رندانو د مستانو محفلونه
پرې راتول به تل ساقيان او مطربان وه
په وينا او په صفت به يې ګويان وه
همېشه يې مېلمانه پر دسترخوان وه
هم رندان، هم ملايان هم سرکاريان وه
غوړه مالو پکښې ژبې تکولې
حاسدانو په غابنو شوندې چيچلې

يوه شپه يې کور کې نوې ننداره وه
په لکونو يې اخيستې منظره وه
د عصري هنر يو ښکلې نمونه وه
د رنګونو او خطونو تنسته وه
رابللې يې پوهان او هوښيار ان وه

شاعران وه استادان، هنرمندان وه
هر یوه د منظرې صفت بیان کړ
پکښې هر یوه پیدا ځانته جهان کړ
هر یوه ته ښکارېدې خپلې خبرې
مرغلرې او خوږې لکه شکرې
یو بډای چې تر دې نورو ډېر هوښیارو
پړسېدلی خېټور په غوښو بارو
ډېر شته من و مصاحب د شهریارو
همېشه په هر مجلس کې په ګفتارو
په ښې لاس یې و ځنځیر ښکلی د زرو
په کېڼ لاس یې وې ګوتمۍ د جواهرو
په غرور سو د تابلو خوا ته ورو ړاندې
تر نظر یې کړله تېره لاندې باندې
یو څو ګامه را پر شا بیا ورنژدې سو
په ستایلو په تحسین د منظرې سو
ویل څه ښکلې بېړۍ دې څه بندر دی
څو مره ښکلی ترسیم سوی په هنر دی
د بندر له څنګه وګورئ لوی ښار دی
سوداګر دې ګارګر دې کار و بار دی
څه عجب یې ترسیم کړې انسانان دې
د حیرت ګوته په غاښ هنرمندان دې
د تاریخ استاد را وړاندې سو میدان ته

د شاباس ګوته يې ونيول مېزبان ته
ويل ستا هنري ذوق دی د ستايلو
ګوهر نه دی د هر چا د پېژندلو
دې تابلو کې ما ته ښکاري قلاګاني
د قدرت او عظمتونو شاهداني
پکښې پټ دي د پېړيو داستانونه
د تورزنو جنګيالیو تصويرونه
هر يوه کونج کې يې جلا ښخ دي نکلونه
هر يو نکل يې راسپړي تاريخونه
لوی ملا چې رابللی و جرګې ته
په ځير ځير به يې کتله منظرې ته
ده هم ورکړله تابلو ته خپله رايه
وې د ليري يو معبد وينم له ورايه
راته ښکاري يو ټولې د انسانانو
عبادت ته به روانه وي يارانو
ببله شکه دا نقاش خالق پرست دی
پر څښتن باندي عاشق د مينې مست دی
چې يې هېر نه دی څښتن په دې تابلو کې
ور په زړه يې دی يو رنګ سلو رنګو کې
دې مجلس ته چا شاعر و رابللی
په ثنا او په صفت کې و منلی
يوه لويه قصيده يې کړه آغازه

د کوربه د زړه له خوښي سره سازه
وې يې څه ښکلي موجونه څه څپې دي
په تابلو کې د رنګونو قافلې دي
سمندر دی د توپان پکښې ناڅې دي
د آسمان پر سينه لړي راخوړې دي
له افقه د لمر وړانګې رابښکاريږي
د روښانې آينده پر لور ځليږي
دې تابلو کې تاسي وينئ سيمبولونه
ترسيم سوي نن سبا او تېر وختونه
تاريخي قلا يې نقل د پرون دی
نن توپان دی لمر نښان د سبا وون دی
د ګلبوټو پر ښاخونو چې زوزان دي
د يارانو په محفل کې غمازان دي
يو نقاش هم دې محفل ته ور راغلی
يوه کونج کې چيرته ناست و اسکېرلی
کوربه ږغ په لوړ آواز کړله نقاشه !
ته هم ورکه خپل نظر تصوير تراشه !
دا خو ته يې چې تابلو به دي ستايلای
يو په يو به دي رنګونه راسپړلای
ته پوهېږې په اسرار د تصويرونو
ستا به زده وي ګونګه ژبه د رنګونو
په قدم قدم نقاش راغی نيژدې سو

په ځیر ځیر په ننداره د منظرې سو
پر څېره یې د حیرت نښې بنکاره سوه
پر شوندې انو یې نرۍ مُسکا خوره سوه
وې بېشکه د لکونو منظره ده
خو افسوس چې ځړېدلې سرچپه ده

ویرجینیا
۱۸-۱۲-۱۹۹۹

شیخ نصرالدین

ډېر پخوا په یوه کلي کې یو ځوان و
هم غښتلی هم په عقل پهلوان و
خو هر ګوره هم بېکسه هم نېستمن و
له نصیب څخه په زړه کې ګیله من و
نصرالدین وراندي نوم ایښی خپل پلار و
نصروګی خلکو باله ځکه چې خوار و
نه یې ژمی نه یې دوبی په راحت و
له یخنیه له ګرمیه په زحمت و
زړه یې تور سو له خپل ملکه له خپل ښاره
له لویانو کشرانو سو بېزاره
ویل ځمه په سفر هر څه چې کېږي
له نصیبه له قسمته به پېښېږي

په خواری پسې یې لېځي وغړلي
په ملکونو ګرځېدی کلي په کلي
یوه ورځ پر نصروګي باندي تیاره سوه
په زیارت کې یې د شیخ پر لنګر شپه سوه
دا زیارت او دا لنګر د شیخ قادر و
په پیرانو کې منلی معتبر و

د زیارت هره ګوښه کې څو کوټې وې
پکښې ناست وه مېلمانه کیسې تودې وې
له لنګره راوتلې کاسې ډکې
مېلمنو پکښې وهلې ګولې کلکې
په لنګر کې نصرو ګی ورته دېره سو
په ټولې د تیارخورو کې مېلمه سو
چې کیسې د مېلمنو یې اوربدلې
د خپل هوښ په ترازو کې یې تللې
د دروغو یې سل واوربدل نکلونه
ورځرګند سول د لنګر او پیر رازونه
نصرو ګی هم په خلوت کې پر سجدو سو
له سهاره تر مابنامه په نفلو سو
نه خوراک ته یې و پام نه و کیسو ته
کړې ورځ یې وه ورکړې و سجدو ته
په خبر چې ملنګان او درویشان سول
په ثنا او په صفت ورته ګویان سول
شیخه کله یې راغلې له کوم ښاره
موږ دې ټول سو قربانې پر هغه لاره
نصرو ګې چا ته ورنه کړل جوابونه
ملنګانو پر زړه یوو رله داغونه
یو مرید چې په دې نورو کې هوښیارو
د لنګر په لغو پټو خبردارو

سمدستي يې شيخ قادر ته ويل پيره
ستا قربان سم د شيخانو لويه ميره
زمونږ لنګر لره راغلی مسافر دی
کړی شپه پر سجده پروت دی بختور دی
له سهاره تر مابنامه کړي نفلونه
په سجدو يې سترې کړي محرابونه
نه دا ټوله ورځ له چا سره ږغږي
نه خبرو نه کيسو ته وزګارږي
نيمه شپه پيرد خلوت پر لور روان سو
پټ په غوږ کي نصروګي لره ګويان سو
ويل ژر دي د مطلب خبره وايه
همدا نن شپه روانيږه له دې ځايه
نصروګي ويله پيره ستا قربان سم
ستا په امر به په نيمه شپه روان سم
په خواری پسي له ښاره يم وتلی
مسافر د بل وطن په زړه نتلی
خپل نصيب کړم برابر پرد غه لاره
اوس کومک غواړم له تا او له باداره
پيرر ا وايستې يو څو پيسې دباندي
په نرمي يې نصروګي ته کړې ور وړاندي
ويل ځه دغه پيسې دي هغه خر دی
نازوه يې ډبر غښتلی ځناور دی

نصروګي پيسې راواخيستې حيران سوګ
پرخره سپور سو د نصيب پر لور روان سو
يو څو شپې يې مزل وکړ د ښتونو
خريې زوړ و ژر ناروغ سو له مزلونو
نيمه ورځ يې ساه شړل پروت و پرلاري
له دوو ستړګو يې راتلې د اوښکو داري
تر مانښامه نصروګی بيرته تنها سو
خريې مړه زړه زخمي په واويلا سو
خريې ښخ کړيو لوی قبر يې ور جوړ کړ
کری شپه يې اوښکي توی کړې زړه يې سوړ
کړ
په سبا يې ورته راوړه له بازاره
يوه سره او زرغونه جنډۍ تياره
ويل دا د غيبانه بابا زيارت دی
ما ميندلی د کلونو په زحمت دی
شپه او ورځ مي ورته کړي وظيفې دي
په نفلو مي سپيني کړي ورته شپې دي
لس پنځلس ځله خوب کي دی راغلی
په خپل لاس يې ما ته خپل قبر ښودلی
دا زيارت دی د زړه ماتو رنځورانو
د نېستمنو کونډو رنډو پردېسانو
د زيارت خبري تلې تر وطنونو

غيبانه بابا مشهور سو پر ملکونو
چا غوايي ورته راوړله چا پسونه
چا پيسې ورته راوړې چا خيراتونه
که سپاهي و که کوټوال که حکمران و
غيبانه بابا ته هر څوک ور روان و
په لږ وخت کي نصروګی شيخ نصرالدين سو
هم شته من سو هم ولي سو آس يې زين سو
اوازې يې سوې خپرې پر هيوادونو
ترنيژدې، ليري، وړو، لويو ښارونو
درې څلورې په نکاح کړلې عورتي
ښايستې وې لکه زرکي لکه بتي
شيخ قادر ته احوال ورکړ مريدانو
په لنګر کي تيار خورو ملنګيانو
چې يو شيخ دی پيدا سوی له شيخانو
وايي پيريم د خوارانو بې وزلانو
پښې لاسونه يې جوړ کړي د شلانو
بينا کړي يې دي سترګي د رندیانو
هنګامه يې په ملکونو کي خپره ده
تر هر کونج پوري يې تللې اوازه ده
دې کيسو د شيخ قادر زړګوتی شين کړ
نوي شيخ د ده په خونه جوړ ناورين کړ
هم يې شيخ هم يې هوښيار مريد غمګين کړ

نیمه شپه وه را روان سو آس یې زین کړ
په زیارت کې یې د شیخ وکړه پوښتنه
هغه نه مانه خلوت کې څوک دننه
خو چې نوم د شیخ قادریې ترغوږو سو
سمدستي په خپل خلوت کې په ټوپو سو
ویل مه رائځ مجلس ته مریدانو
راز و نیاز دی په خلوت کې د پیرانو
چې یوازي په خلوت کې دوه شیخان سول
یوه بل ته یې کتل سره ګویان سول
د دې نوي زیارت نکل یې بیان کړ
حقیقت یې شیخ قادر لره عیان کړ
شیخ قادر ویل پر تا دي آفرین وي
ستا پر ټولو غلیمانو دي ناورین وي
زما او ستا حقیقت ځکه نن پنهان دی
چې په دواړو مو ملګری یو شیطان دی
چې پر خره باندې بیرغ دی درولی
د شیطان دي لاس تر شا دی اړولی
ښه یې وساته بچیه دا نسلي دی
پلار یې زما څخه جوړ کړی پیر ولي دی
د نیکه سر یې لا ښخ دی په بل ښار کې
زر درویشه یې پراته ورته په لار کې
د هر چا د زړه حاجت په روا کېږي

رسېنده دی د هر چا په داد رسېږي
زرغونې او سرې جنډۍ باندې رپېږي
د کلونو رنځورانو پکښې رغېږي
په رمو ورته را درومې د وږو نه
ساده ګانې پر زیارت کړي طوافونه
د پښتون قام دی کهول د جاهلانو
پکښې غوړي دي مبلې د دروېشانو
پکښې تل ګرځي فوجونه د پیرانو
کچکول نه پرېږدي خالي د ملنګانو
لېونی په دې وطن کې قلندر دی
د هر ټک او د ټګمار یو تود لنګر دی
چې هر څوک سي باوله خیرنې څونې
وربخښې خلک پیسې خویندي او لونې
پرون ډم ورته راغلی نن آغا دی
هم سید دی هم بزرګ دی هم ملا دی
چې اوږده ږیره یې پرېښوده پېشوا دی
هر یو سترګی د ړندو د ښار پاچا دی
که پر دې دنیا دي خوښ وي جنتونه
ښایستې حوري غلمان او شرابونه
یو څو ورځې درته بویه خلوتونه
جوړوه په لویه لار کې زیارتونه
په میراث پرېږده ټبر ته لنګرونه

پـــاچهي کـــوه نـــسلونه پـــر نـــسلونه

واشنګټن

۹-۴-۲۰۰۰

مهار کړي اوښان

سره غرمه سوځنده لمر و سور بيابان
کمکۍ اوښه وه په پای کي د کاروان
دروند يې بار ورباندي ايښی د سامان و
غوټه کړی يې په مور پسي پيزوان و
چي هر څو يې پی کوله رباتونه
نه مزلونه خلاصيدله نه دښتونه
په ژړا ژړا يې ږغ کړل خپلي مورته
خدايه څه مهال به ورسيږو کورته
راته نه ښکاري دا لار د ختميدلو
توان مي نسته په وجود کي د ځغستلو
لږ په ورو اخله قدم ګرندۍ موري
ترسږمو مي وزي نتيه پوري ووري

دومره ولي په تلوار اخلې ګامونه
يو په يو مي ټول خوږيږي اندامونه
موريې شنه د ژړا ولاړه ويل لوري
زما په پزه کي نتکۍ ده بختوري
په بل اوښ پوري مهار مي دی ترلی
د هغه مهار بل اوښ ته غځيدلی

لا په مخ کې لس يو ولس نور اوښان دي
ګړندي په دې دښتو نو کې روان دي
زمونږ په مخ کې يو لوی اوښ دی زور ور دی
نازولی د بادار دی زمونږ افسر دی
د هغه مهار په لاس کې د انسان دی
د بادار له سروانانو يو سروان دی
ځي په امر د بادار او د لويانو
هغه نه ګوري خاطر د حيوانانو
زه پخپله يمه ستړي له مزلونو
زګړوی اورمه د خپلو اندامونو
په کلونو دې دښتو کې يم روانه
ستا په شان مي واک پردی دی له خپل ځانه
بند پر بند مي تول وجود راته ژړږي
هر هډوکی مي جلا جلا خوږږي
له ناکامه ورم بارونه پر دې لاري
انسانان مي هره ورځ ګامونه څاري
هره ورځ که سو را پام د سروانانو
سمدستي مي خرڅوي پر قصابانو
وښل کږي به مي غوښي پر کورونو
د پښتيو، د لاسونو، د ورنونو
هغه لوی بختور اوښ چې نن غړومږي
يوه ورځ د ده نوبت هم رارسږي

دی به هم سي د قصاب تر چې لاندي
يو بل اوښ به سي افسر تر نورو وړاندي
له ازله مو نصيب راغلی خوار دی
چي لوبدلی مو د بل په لاس مهار دی

ویرجینیا
۸-۱۹-۲۰۰۰

د ابليس پندونه

يو کيسه مي اوربدلې ده يارانو
د ابليس د اولادونو شيطانانو
يوه ورځ ابليس راټول کړل اولادونه
د چا سل وه د چا زر کاله عمرونه
تړې يې وپوښتې کيسې د عملونو
د خاورين بنده د کړو ګناهونو
څه تخمونه د فساد مو دي شيندلي
څه بدۍ مو دي په مځکه کي کرلي
مشر زوی چې يې په عمر زر کلن و
مخ يې تور په ونه جګ په اوږو پلن و
سمدستي سو د خپل پلار مخ ته ورواندي
شيطاني پانې يې کړلې لاندي باندي

ويل پلاره يوه ډله ماشومان وه
په خوښۍ د مدرسې پرلور روان وه
مايې لاره کړه بدله و بازار ته
له مکتبه مي رهي کړله قمار ته
تله جومات ته بله ډله د زلميانو
ما روان کړله پرلار د فسادیانو

سل او څو پرهېزګاران مي شرابيان کړل
له خلوته مي پربده لار روان کړل
ابليس ورکړله پرمخ څپېړه کلکه
ويل يې چې سه بېخبره بې درکه
لا اوس هم نه يې ترغايه رسېدلی
ته وا نه يې له ابليس څخه زوولی
تا ته اوس هم شرابونه قمارونه
لا ښکارېږي جنايت او فسادونه
هی افسوس چې پرتا تپر سول زرکلونه
له خپل پلاره دي وانه خيستل پندونه
دوهم زوی سو را دمخه ويل پلاره
کښېنستلی پرغای نه يمه بېکاره
پرې به نه ږدمه چې يو سړی پرلاروي
چې ژوندی يم همېشه به مي داکاروي
ډلې ډلې مي له لاري دي ايستلي
څوک مي غلا څوک مي زنا ته هڅولي
سل مي ښځې له مېرونو جلاکړي
نېکمرغيو ته مي ساندي دي وروړي
يو په بل مي انسانان دي قتل کړي
بې ګناه مي په ناحقه تورنيولي
ابليس وواهه پرمخ باندي په زوره
ويل کشکي ته پيدا نه وای له موره

ته لا اوس هم خبر نه يې فساد څه دی
د نېکيو او بديو بنياد څه دی
چې انسان خدای له ازله پيدا کړی
په خمير کې يې فساد دی ور اخښلی
پر دنيا چې خدای کرلي دي قومونه
د انسان په وينه ګډ دي فسادونه
که پر مځکه شيطانان وي او که نه وي
که دامونه د شيطان وي او که نه وي
انسانان به وي اختيار په بد و چارو
دا دنيا به مالامال وي له بدلارو
خبردار چې نوم د قتل څوک ياد نه کړي
په نامه د قاتلانو زړه ښاد نه کړي
ما د قتل نوم دنيا ته دی راوړی
ما د ورور په چاړه ورور دی حلال کړی
ما هابيل دی په قابيل باندي وژلی
ما د خون او قتل تخم دی کرلی
چې پر مځکه انسانان وي دا به کبړي
له تېغونو به سرې وينې راڅڅېړي
هغه زوی چې يې تر تولو کشری و
هم خوارځواکی هم په ونه تيت ګردی و
خو په کور کې د شيطان لکه زمری و
هم په عقل هم په ژبه ګرندی و

ویل پلاره ما ټول کال زحمت ایستلی
شپه او ورځ مي په خواري دی ځان وژلی
کښېنستلی کرار نه یم له چالونو
یو ګړی نه یم بېغمه له دامونو
هلته لیري یوه ښار کي حکمران و
هم هوښیار و هم عادل پر خلکو ګران و
پر وطن یې جوړه کړې کراري وه
شپه او ورځ یې په کورونو کي ښادي وه
ما راپورته یو نا اهله کړ ښاره
د قدرت مي ورته جوړه کړله لاره
اوس په ښار کي دا نا اهله حکمران دی
یو ناپوه دی په ګونګی ژبه ګویان دی
په وطن کي عدالت نسته ستم دی
خو ښي نسته واویلا ده تور ماتم دی
نه مېلې سته نه سازونه نه جشنونه
نه زلمي او پېغلي ګډ کوي رقصونه
نه هوسیو غوندي ښکلي نجوني غورځي
نه خندا د چا پر شونډو باندي ګرځي
چې هوښیار دي نن سبا ورنه کوچېږي
د حاکم له لاسه مېنه سپېره کېږي
له خو ښیه ابلیس وکړله چیغاره
اخ تر خوله دي سم قربان زویه هوښیاره

زوی دا ستا په شاني ښايي ابليس پلار ته
شرمنده دي مشران وي ستا کردار ته
چي نا اهله په وطن کي پر قدرت وي
تباهي به يې ليکلې په قسمت وي
اوس پخپله يو د بل په لاس قتلېږي
اوس پخپله د انصاف تله ورکېږي
نه تميز د ښو او بدو به اوس کېږي
نه په شرم نه ګناه به څوک پوهېږي
نه به لاس د چا ګرېوان ته ور رسېږي
نه ظالم به له مظلوم څخه بېلېږي
نه په داد به څوک رسېږي د خوارانو
نه به اوري څوک فرياد د مظلومانو
قاتلان به ګرځي سرې ستر ګي په ښار کي
بېګناه به قصاصېږي په بازار کي
چي د چا په سر کي ستر ګي د ليدو وي
ورته مخ به د ناورين او جنازو وي
د چا عقل چي انسان غوندي پرلار وي
يا په دار لکه منصور يا به سنګسار وي
چي نا اهله واکداران چيرې پيدا سي
د تيارو سي ورته مخ د ورځو شا سي
که مونه سېږي زړه په انسانانو
که تباه غواړئ نړۍ د بندګانو

کـــه اورونـــه ابـــدي غـــواړئ بچيـــانو
کـــه دوبۍ مـــو وي مطلـــب د دې خاکيـــانو
کـــه تـــل غـــواړئ پـــاچهي د شـــيطانانو
واک ضـــــرور دی د نـــــا اهلو حاکمـــــانو

ویرجینیا
۱۹۹۹- ۴- ٦

اصیل میراث

یـــوه ورځ کـــاروان روان و پـــه دښـــتو کـــي
پـــه اغـــزو کـــي د اهـــاړ پـــه ســـرو غرمـــو کـــي
لـــه تونـــد بـــاده ســـره دوړي بادپـــدلې
زنګـــولې پـــه قافلـــه کـــي شـــرنګېدلې
خـــولې او پـــزي وې پېچلـــي ســـاروانانو
لاري ورکـــي وې پـــه دوړو کـــي لـــه ســـپيانو
غرغـــړې بـــه کـــړې پـــه دوړو کـــي اوښـــانو
هـــم رمبـــاړي بـــه ســـوې پورتـــه لـــه جونګيـــانو
پـــه دې ترڅ کـــي يـــو جونګۍ پلار تـــه نيژدې ســـو
تـــرې يـــې وکړلـــه پوښـــتنه پـــه ګيلـــې ســـو
ويـــل پـــلاره زمـــا پـــه زړه کـــي ده پوښـــتنه
انديښـــنه مـــي دا څـــو ورځـــي خـــوري دنـــه

ســـتا پـــه مـــخ کـــي زه بـــل اوښ ګـــورم روان دی
نـــازولی د صـــاحب او د ســـاروان دی
ســـاروان تـــل کـــوي خبـــري د ماريـــانو
مـــاري اوښ وايـــي اصـــيل دی د اوښـــانو
زه چـــي ګـــورم اصـــيل نـــه را معلـــومېږي
خـــوراک ډېـــر کـــوي لـــه بـــار څخـــه بېرېـــږي

چي تر بار لاندي يې لږ اوږې درنې سي
هم غړو مبېږي هم يې پورته غرغړې سي
د ماريانو وي اکثر بدرنګي غاړي
لا په لار کي بېهوده وهي رمباړي
پر هر ځای چي اغزي ويني پر حمله کي
هر ګړی به غاړه شپږ ګزه اوږده کي
هم په ونه تر ده جګ هم زورور يې
هم په ځغاسته کي چابک يې هم زړه ور يې
هم درانه درباندي بار وي تل بارونه
هم دښتونو کي اوږده وهې مزلونه
نه تمامه ورځ په غم کي د خوراک يې
نه کمزوری يې تر هر يوه چالاک يې
ماري څرنګه اصيل وي په کتار کي
څوک به وي چي په دې سُر مي خبردار کي
پلار يې غاړه کړه اوږده بيا يې کږه کړه
ورته لنډه يې د ژوند اوږده کيسه کړه
ويل دا قانون دا زر کاله جاري دی
د هر اوښ لکۍ چي وتړې ماري دی
له ماري اوښه هر اوښ چي پيدا کېږي
د ماريانو په کتار کي حسابېږي
چي پيدا سو له ماري هغه دي ښه خوري
د کاروان مخ کي روان کمه دي نه خوري

هم اصيل هم نازولی د اوښانو
هم منلی د ساروان هم صاحبانو
خو چې زموږ په څېر نه اصل نه ماري وي
نه په مخکې يې ساروان رهي کاري وي
هم به ځي تر قصابانو هم باري وي
په قسمت يې رسېدلې تل خواري وي
تل يې نته وي په پزه درد په ځان کې
د ماريانو تر شا درومي په کاروان کې
کله کله ساروان ورکړي ګوزارونه
له وهلو يې خوږېږي اندامونه
تل حساب وي د کم اصلو په حساب کې
نوم يې نه وي د ماريانو په کتاب کې
چې خبري د کاروان سي يا د بار سي
زموږ په ډله کې يې لس اوښه په کار سي
او چې وخت يې د خوراک او د اغزو سي
هلته هر څه پر ماري باندې پېرزو سي

۲۰۰۱-۹-۱۶

چرګ او باز

یوه ملک کې هستوګن چې برته لوی خان و
خان لا څه چې په تربرونو کې سلطان و
په سلګونو یې جوړ کړي وه باغونه
بهبدل یې په شنو مځکو کې سیندونه
ډېر شوقي و د ښکارونو د بازانو
په بازانو کې پاچا و د سیالانو
ډلې ډلې یې درلودې د مرغانو
د کوترو د سیسیو د چرګانو
یوه ورځ د چرګ او باز سره جرګه سوه
د جرګې خبر کرار کرار ترخه سوه
کلنګې چرګ ته باز وویل مغروره
کبر جنه بې وفا یې لکه توره

له سهاره تر مابنامه په نس موړ یې
پر بامونو باندې ګرځې په زړه سوړ یې
کړی، ورځ در ته رسېږي نعمتونه
د جوارو در ته ډک دي ګودامونه
نه مې وړی یوه ورځ یې ته لیدلی
نه په کار پسې باداري یې استولی

نه له تا کوي څوک تمه د کارونو
نه وزر لرې د لويو پروازونو
ورځ دي تېره په خوښۍ سي په سيلونو
د مستيه باسي زور تر آذانونو
خو چي کله نوکر ځغلي چرګان نيسي
دوی دوې خپلي کړي دوې پور کړي دوې
رانيسي
که کمکي دي که لويان دي په نارو سي
څوک په منډو سي څوک پورته پر بامو سي
ته هم ګډ سې په ټولۍ کي د چرګانو
خلاصوې يې په ځغستا له انسانانو
زه چي بازيم خدای راکړي شهپرونه
تر ياغي وزر مي لاندي دي لوی غرونه
د آسمان پر لور کومه پروازونه
کښته ويښم سمندر خوني موجونه
له هيبته مي پر مځکه مرغان ورک سي
په سينه کي د آسمان تيت او پرک سي
له مشوکي له منګولي مي لړزېږي
د سرو سترګو له هيبته مي ببرېږي
زه راوړم له هسکو غرو څخه ښکارونه
زما له وهمه په هوا کي چوي زړونه
خو چي کله مي بادار و بولي ځانته

لـــه آســـمانه يـــې رالوړمـــه ګرېـــوان تـــه
يـــا يـــې کـــښېنم پـــر اوړو يـــا پـــر لاســـونو
منتظـــــر د اشـــــارو يـــــم د امرونـــــو
کلنګـــي چـــرګ ويـــل غـــوړ ونيـــسه بـــازه
زه او تـــــه دواړه مرغـــــان دواړه همـــــرازه
ســـتا خبـــري د شـــهپر مـــي اوربـــدلي
د تېـــره منګـــول کيـــسې مـــي دي منلـــي
مګـــر تـــا کلـــه پـــوخ کـــړی بـــاز ليـــدلی
تـــــا کبـــــاب دی د بـــــازانو اوربـــــدلی
کلـــه بـــاز دی چـــا خـــوراک لـــره وژلـــی
تـــا ليـــدلی دی پـــه ســـيخ چېرتـــه پېيلـــی
زمـــا پـــه مـــخ کـــي زمـــا چرګـــوړي حلالېـــږي
زه يـــې ويـــنم زمـــا همزولـــي کبـــابېږي
چـــي د خـــان پـــه کـــور کـــي ږغ د مېلمـــستيا ســـي
د چرګـــانو پـــه کـــور ګـــډه واويـــلا ســـي
هـــر يـــو چـــرګ خپلـــه چـــاړه وينـــي اوبـــو کـــي
د ســـينې ورنونـــو غوښـــي پـــه دېګـــو کـــي
د جـــوار چـــي مـــوږ تـــه ډک لـــري لاســـونه
زمـــوږ پـــر غوښـــو هـــره شـــپه باســـي تېښونـــه
او چـــي تـــا کـــړې د شـــهپر لاپـــي آغـــازي
نـــو در واخلـــه دا يـــو څـــو خبـــري ســـازي
تـــه ښـــاغلی يـــې پـــه کـــور کـــي د خانـــانو

چې په بنکار وزې د خپلو همنوعانو
ځان پاچا ګڼې په کور کې د مرغانو
خو په لاس کې يې غلام د انسانانو
تر هغو به يې خانانو ته منلی
چې د بنکار له زوره نه يې لالو بدلی
چې تېره دي وي منګول تېز دي شهپر وي
په آسمان او سمندر کې دي لاس بر وي
يوه ورځ چې دي منګول کې ختم زور سي
په هغه ورځ به دي ژوند درته پېغور سي
يو کم اصل درته وايي بل بد ذاته
د ناز کور به دي سي بل ظالم ته پاته
چې تر تا په زړه کې سخت او ګرانديوي
په نيولو او ځيرلو کې زمری وي
لټوي چې غرا و سمه لاندي باندي
په منګول ځيري نسونه وروسته وړاندي
ستا په شان به هغه هم اخته په بنکار وي
نازولی به د مير او د بادار وي
ته به هېريې د بادار د نوکرانو
مسخره به يې د ډلې د چرګانو

ويرجينيا
۲۰۰۰-۸-۱۸

د پيشو توبه

ډېر پخوا وه په کلا کې يوه خونه
پکښې جوړه وه ګدامونه انبارونه
هم د وريجو هم جوارو پرېمانې وه
هم شکري هم غنم وه جوالونه
مورۍ کانو جوړه کړې ورته لاره
په دې خونه کې يې کړې وه غارونه
چې پيشو به رابنکاره سوه دوی به ورک سول
له غارونو به يې نه راتلل ډغونه
يو څو ورځې پيشو پاته سوه دننه
هره ورځ به يې څارل د دوی کارونه
ګوندې نن يا سبا وړې سې راووزي
مورۍ کان په وجود خوار وړي نسونه

ورځ به خواره وي د دوی زما به مبله وي
د هفتو مياشتو به واخلم کساتونه
په لکيو په برېتو به يې کړم لوبي
په پنجو به يې څيرم نازک پوستونه
نازوي به مې بادار او بې بې دواړه
د مورۍ غريب څوک اوري فريادونه

یوه ورځ د یوه غار په خوله کي ناست و
یو موږک اوږده برېتونه بوڅ غوږونه
د پیشو چي ورته پام سو پر سجده سوه
څو یې پرله پسې وکړله نفلونه
لاس یې پورته کړو خدای ته په دعا سوه
ویل ته مي را معاف کړې ګناهونه
ما وژلي بې آزاره موږکان دي
په دنیا کي مي ډېر وکړل آزارونه
څه عاجز څه ښکلي ښکلي بندګان دي
بې ګناه مي ولي وکړله خونونه
دا توبه مي کړې قبوله لویه خدایه
ما ته مه کړې را نصیب ستا عذابونه
موږک واورېده توبه د پیشو جاني
استغفار او ډول ډول قسمونه
د پیشو ژړا یې ولیده په سترګو
چي کول یې د قبلې پر لور خواستونه
وروسته ورو سوه د موږک خوا ته روانه
ویل واوره ما خوړلي سوګندونه
باقي ژوند به مي طاعت او عبادت کړم
په پرهېز به تېروم پاته کلونه
که چا غوښي په خیرات کي راکړې خورم یې
نور پر ما باندي حرام ژوندي ښکارونه

نور له غار څخه راووزه موږک جانه
د کندو په مخ کې جوړ کړه اتنونه
مبارک دي د کندو غوړي مبلې سه
ځه خوښې کوه نڅا کوه رقصونه
پر دنیا درته څوک څه ویلای نه سي
دې جهان کې ځانته جوړ که جنتونه
موږک واورېدې خوږې خوږې خبري
نه یې پښې په حرکت سوې نه لاسونه
د پیشو د نصیحت اثر ونه سو
و موږک ته یې معلوم زاړه مکرونه
نور پیشو سوله له غاره څخه لیري
ویل ګوره زه پر شا اخلم ګامونه
که له دې تر هغه غاره پورې ولاړ سې
در کومه تا ته لوی لوی انعامونه
یو به در کم د کندو اختیار په لاس کې
بل در ښیمه د وریجو ګودامونه
د غوړیو ذخیرې ته به دي بوزم
تر قیامته به در غوړ کمه برېتونه
تر خپل غار پورې به دونه بوره یوسې
چې بسیا دي اولادونه سي نسلونه
د موږک تر خولې اوبه راتوییدلې
تصور ته یې راتلل تول نعمتونه

مګر تېره يې پيشو کړه له نظره
ژړي سترګي سپين تېره تېره غابنونه
ويل ما له د غار قناعت بس دی
خدای دي تا ته کړي په برخه جنتونه
فاصله ده ډېره کمه انعام زيات دی
په دې کار کې راته بنکاري حکمتونه
هسي نه چې زه له غار څخه درووزم
ته مې بښخ کې په سينه تېره نوکونه
دښمني مو پخوانۍ ده زړ کلنه
زما نيکونو ازمېلي ستا نيکونه
ستا نيکونو داسي ډيري توبې وکښې
داسي ډېرې ننګولي محرابونه
داسي ډيري توبې ماتي سوې نيمګړي
نيمه خوا سوله قولونه پرهېزونه
خو ګناه نه د توبې نه د سجدې ده
ستا په ختمه کې اخښلي دي ظلمونه

٦-٣-٢٠٠٠

جنګ پر پوستین دی

یـوه ورځ مـلا پـه خپـل کـور کـي بیـده و
پـه خـوږو خوبونـو مـست لکـه مینـده و
سـپیني غونـي یـې خـوړلي تـر سـږمو وې
ښـوروا ګاني یـې څټلـي د کاسـو وې
خورهـاریـې رسـېدی تـر ګاونـډیانو
حـرام کـړی یـې و خـوب د ماشـومانو
چـي پـراړخ بـه راواړاوه مېرمنـي
بیـا بـه ستوني ستغ سـو لانـدي تـر بړستني
تـر پخـوا بـه یـې پـه لـوړ اواز خـورکی سـو
لا پـه منځ کـي بـه زګېروی کلـه شـپېلکی سـو
لـه ناکامـه بـه یـې ښـځه پـه ژړا سـوه
خپـل مېـړه یـې خـوارږه خـوب لـره بـلا سـوه

نیمـه شـپه یـې د کـور مخـي تـه غوغـا سـوه
څـه سـړي وه څـه د سـپیو هـم غپـا سـوه
وارپـه وارپورتـه کېدلـه آوازونـه
د مـلا مېرمنـي ونیـول غوږونـه
پنځـه شـپږ ځلـه یـې خپـل مېـړه ټپلـه کـړ
بیـا یـې کـش یـو ځل تـر لاس بیـا تـر سـږمه کـړ

ویـــل کـــښېنه د کـــور مخـــي تـــه جنجـــال دی
هـــم د ســـپیو هـــم ســـړیو غالمغـــال دی
زمـــوږ کـــوڅې تـــه بـــه حتماً وي غلـــه راغلـــي
یـــا بـــه څـــوک وي چـــا وهلـــي یـــا وژلـــي
مـــلا غـــاړي کـــړې تـــازه یـــو څـــه حیـــران ســـو
پـــر اوږو یـــې کـــړ پوســـتین پـــسي روان ســـو
پـــه کوڅـــه کـــي څـــراغ نـــه و تـــوره شـــپه وه
شـــپه د ژمـــي هـــم ســـړه وه هـــم تیـــاره وه
څـــو کـــسان وه پـــه کوڅـــه کـــي یـــې دعـــوه وه
یـــو لـــه بلـــه یـــې وهلـــي وه جګـــړه وه
ملا جـــان تـــه پتـــه نـــه وه چـــي د چـــا ســـي
چـــي د کـــوم یـــوه دښـــمن د چـــا پـــر خـــوا ســـي
یـــو او بـــل تـــه پـــه خبـــرو پـــه کیـــسو ســـو
پـــه تیـــاره کـــي د جګـــړې پـــه خلاصـــېدو ســـو
چـــي مـــلا کـــړ ځـــان تیـــار د جګـــړې لـــور تـــه
چـــا پوســـتین کـــړ لـــه اوږو ورڅخـــه پورتـــه
چـــي هـــر څـــه یـــې شـــاوخوا پـــسي نـــاړې کـــړې
چـــي یـــې جـــوړې ســـوي ســـوي غلبلـــې کـــړې
مځکه چاک سوه پکښې ورک د ده پوستین سو
د مـــلا مـــسکین پـــر کـــور بانـــدي نـــاورین ســـو
خلـــک ســـتړي جګـــړه خلاصـــه کـــراري ســـوه
پـــه تیـــاره کوڅـــه کـــي بیرتـــه خاموشـــي ســـوه

چې مېرمنې يې آغازي کړې پوښتنې
د ملا تر زړه وتلې د غم ستنې
ویل مه کوه پوښتنه د وګړو
زما پر خوار پوستین جګړه وه د زوی مړو
چې پوستین له منځه ووتی جنګ سوړ سو
بدي ولاړه هر سړی له جنګه مور سو
په پردي جنګ کې بایللی مي پوستین دی
پر لړمون مي چړې ګرځي زړه مي شین دی
چې ناحقه پردي جنګ ته ورګډ ېږي
خپل پوستین به یې د غلو په لاس کي لوېږي
له ملا څخه خوابدې سوه عورته
اوس ګیله وکړي له غلو که له قسمته

ویرجینیا
۱۳-۳-۲۰۰۲

څو چرسیان سره راټول وه هریو سر و په کیسو
په دا منځ کې یوه ږغ کړه کوردي وران سي د شلومبو
که زه هره ورځ پاچا سوم زه به منع کړم شلومبې
لوی دښمن به تر دې نه وي په دنیا کې د نشې
هغه بل باندي را ږغ کړل چې شلومبې له کومه کیږي
زمونږ د سر دښمن مستې دي چې شلومبې ځینې جوړیږي
له مستو که مو خالي کړل په دنیا کې وطنونه
نو به سر پر سر نشې وي پوچوو به چلمونه
ها دریم چرسي را ږغ کړه ویل ټول نشه ښکاریږئ
له مستو او له غړکي او شلومبو څخه بېربیږئ
که شیدي پر دنیا نه وي نه مستې نه به شلومبې وي
نه غړکه به څوک شاربي نه دښمن به د نشې وي

علت ما درته پیدا کړ فکر وکړئ هو ښیارانو
د شیدو چاره په کار ده که نشه نه یاست یارانو
د مجلس په یوه کونج کې بل چرسي و غزېدلی
دې کیسې ته یې تر پایه غوږ نیولی چرت وهلی
ویل اوس راته معلوم سو است چې نشه یاست بې عقلانو
دا څه کډې وډې وایاست بې خبرو سودایانو

نه شيدې دي نه مستې دي را روانې له آسمانه
نه ويالې له شلومبو ډکه چا ليدلې ده روانه
له غړکي به خلاص نه سئ پر دنيا چې ژوندی غوا ده
دا د هري بدی سر دی دغه زمونږ په ځان بلا ده

۹-۱-۲۰۰۱

د خلکو خولې نه تړلي کیږي

یـــو ســـړی و خپلـــه ښـــځه ورســـره وه
دی پیـــاده ښـــځه پـــر خـــره بانـــدې ســـپره وه
د مېـــــړه او د مېرمنـــــې مرکـــــه وه
څـــه غیبـــت و څـــه صـــفت کیـــسه تـــوده وه
څـــه لـــه یوښـــو څـــه لـــه خوا ښـــې پـــه ګیلـــه وه
څـــه یـــې نـــوري کیـــسې کـــړې لاره اوږده وه
پـــر ســـړي بانـــدې مېـــرمن وه ډېـــره ګرانـــه
یـــوه ورځ یـــې ســـتړی نـــه ســـو لـــه بیانـــه
چیرتـــه ناســـته وه ټـــولې د بېکـــارانو
مـــسافرتـــه یـــې ســـو پـــام د ظالمـــانو
ویـــل ګـــورئ دا بـــې شـــرمه بـــې غیرتـــه
دی پیـــاده ځـــي پـــر خـــره ناســـته ده عورتـــه

دا وطـــن بـــه لـــه بـــې ننګـــو خرابیـــږي
نـــه لـــه خلکـــو نـــه لـــه قـــوم څخـــه شـــرمیږي
نـــه معلـــوم دی ورتـــه قـــدر د مېړونـــو
نـــه بېرېـــږي د عـــالم لـــه پېغورونـــو
د مېـــړه مقـــام کتـــاب دی ذکـــر کـــړی
خـــدای پخپلـــه پـــه قـــران کـــې پېژنـــدلی

کموي د مړو قدر بې ننګان دي
دا بې قومه دا بې پلاره ناکسان دي
سړي واوريدې د ډلي سپکي سپوري
لا تر غوږ يې سوې يو څو خبري نوري
ويل ښځي ته پياده سه زه سپرېږم
د دې خلګو له پېغور څخه بېريږم
چي له کلي څخه ووتو دباندي
زه پياده ځم ته سپره له ما د وړاندي
چي پياده ښځه روانه سړی سپور سو
په يوه ګړي کي جوړ ورته پېغور سو

ويل وګورئ ظالم چي پر خره سپور دی
په مزلو يې ښځه مړه کړه مخ يې تور دی

جګه ونه سور يې مخ دی اوږې پلني
په مړانه کي کمزوری تر مېرمني
مور او پلار دا خېټور دی نازولی
په خواري يې د لمر مخ نه دی ليدلی
دا له خدايه نه شرمېږی ظالمان دي
په بيابان کي ګيدړان د کور زمريان دي
چي په کور کي وي لوی سوي نازولي
دوی سپاره ښځي پياده ورسره ځغلي

همېشه د بل په لاس په نس مارې دي
نه د جنګ دي نه د ننګ تيار خواره دي
چې سړي خبري واوريدې حيران سو
سمدستي له خره راکښته سو روان سو
خر دمخه دوی تر شا وهل مزلونه
ويل ګوندي اوس به کم سی پېغورونه
لا يې شل قدمه نه وه اخيستلي
لا د کلی منځ ته نه وه رسېدلي
چې تر غوږيې سول د خلګو آوازونه
د هلکانو د لويانو ريشخندونه
دا سړی او ښځه دواړه لېونيان دي
خر دمخه دوی پياده پسي روان دي
که پر پښو يې دی دا اوږد مزل وهلی
نو يې خر د څه دپاره رانيولی
په خندا يوه را ږغ کړله ځوانانو
له عالمه بې خبره هلکانو
دغه خريې هم ملګری هم رهبر دی
په دښتو کې لار ښوونکی د سفر دی
دوی له خره سره روان ورسره مله دي
که دا خر ورسره نه وي دوی ړانده دي
هم مېړه هم يې مېرمن پر دې سلا سول
له ناکام څخه سپاره د خره پر شا سول

بیا له سره یې شروع خپلي کیسې کړې
ورپه زړه یې تیري تیري خاطرې کړې
ورپه یاد یې کړل د خلګو ریشخندونه
پر هر مور باندی ښکنځل او پیغورونه
چې ناڅاپه یوې ډلې د ځوانانو
له عالمه بې خبره بې کارانو

ویل وګورئ دا څونه ظالمان دي
پریوه خره سپاره دوه تنه لویان دي

نه زړه سوی لري دا خلګ نه زوربري
نه له خدای نه له عذاب څخه بېربري
نه یې شرم له مخلوقه د دنیا سته
نه په زړه کې یې څه ویره د عقبی سته
که هر څو یې ځان له مور څخه پردی دی
که حیوان دی ژبه نه لری ګونګی دی
خو د خدای له قهره هم بېره په کار ده
یوه ورځ د ټولو خلګو ګورته لار ده
پر حیوان باندې چا ایښی دومره بار دی
خدای ته وګورئ یو څه انصاف په کار دی
په قیامت به را ژوندی دغه حیوان سې
سمدستي به د خاوند پر لور روان سې

دی به ځغلي خر به جګ وربانديسپوروي
په اوبو به ساه شړی مخ به يې توروي
له مېړه له بنځي ورکه سوله لاره
هم له خره هم سفره سوه بېزاره
مېړه بيا پر پښو روان بنځه سپره سوه
بيا له سره هغه نوې نندارهسوه
دروازی د بنار بند پرې په قلفونو
څوک ترلای نه سي خولې د عالمونو

ويرجينيا
۲۰۰۲/۳/۱۵

شيطاني دعا

دوه يـــاران ســـره ملګـــري وه کلونـــه
يـو يـې ژونـد يـو دسـترخوان و يـوه خونـه
يـو يـې تينـګ پـر عبـادت مـسلماني و
تـل پـر وخـت بـه يـې کـول پنځـه لمونځونـه
د کـال ښـې ورځـي بـه تـل روژه پـه خولـه و
کلـه کلـه يـې د شـپې کـول نفلونـه
د پيرانـو د شـيخانو اخـلاص منـد و
پـه هـر ښـار کـي ور معلـوم وه زيارتونـه
يـوه ورځ سـهار وختـي لاس پـه دُعـا و
لـوی څښتن تـه يـې زاری کړلـې خواستونه
ويـل خدايـه ګناهونـه مـي مهـاف کـې
مـا تـه را مـه کـړې پـه برخـه دوزخونـه

دروازې دي د کـرم کـړه راتـه خلاصـي
د ښـمنانو تـه نـصيب کـړه دوزخونـه
پـه طاعـت مـي سـپيني کـړي درتـه شـپې دي
شـپه پـه ورځ درتـه کـوم عبادتونـه
دې وطـن کـي دلتـه داسـي بنـدګان دي
چـي يـې خـوښ دي د لمانځـه پـر وخـت خوبونـه

نه زما چيغي نه آذان د ملا اوري
ستا پر نوم باندي کانړه کي دوه غوږونه
په بستر کي يې اوږدې پښې غځولي
دوی به هم د جنت غواړي نعمتونه
پر ځای پروت کړ سر راپورته ویل خوارسې
له خپل خدایه درته غواړه جنتونه
ځه مبلې کوه د حورو په لښکر کي
دربخ ښلي مي قصرونه کوثرونه
شل جنته او زر حوري دي نصیب سه
خدای ته ولي کوې زمونږ شیطانتونه

ویرجینیا
۹-۸-۲۰۰۱

تړلی خورجین

یوه ورځ صحرایي ګرځېدی په ښار کي
کرۍ ورځ یې تېره کړې وه بازار کي
چي څه شیان یې په بازار کي رانیوله
سمدستي یې په خورجین کي قلفوله
تر ماښامه یې ځان ستړی په سودا کړ
دروند خورجین ډک له مالونو یې په شا کړ
ستړی سوی کرۍ ورځ و په مزلونو
په ملا کړوپ سو بوج یې زیات و د مالونو
د بازار له شورماشوره چي ګوښه سو
په اوږو یې سا شړل یو ځای دمه سو
ستړی ځان یې هغه دم خوله خوله سو
صحرایي په خرهاري سو بیده سو

غل ظالم تمامه ورځ په ده پسې و
چي هر ځای و صحرایي دی به هورې و
په کراره یې ترې پورته کړل مالونه
صحرایي ته یې ور پرېښوول خوبونه
نیمه شپه وه چي راویښ سو له خوبونو
ویې نه لیدی خورجین ډک له مالونو

په خوارېو چې ګټلې يې پېسې وې
په تنهاکي يې لاسونه غبرګې پښې وې
هر څه تللي وه د ده په خوله ايرې وې
ورته پاته د غم پېټي اندې ښنې وې
په ژړا سو په نارو سو په بغارو
چوکيدارې هم خبر سو په چيغارو
يو ناڅاپه ورنه هېر سول ټول غمونه
په خورجين کې يې په ياد سول دوه قلفونه
چې يې وليدې کيلۍ او خپل جبونه
په خندا يې سره ټک وهل لاسونه
ويل خلک مې ساده بولي هوښيارېم
زه په عقل کې د غلو د مشر پلارېم
چې کيلي راسره ګرځوم تياره
غل به څنګه کې پيدا خورجين ته لاره
د هغه وطن پر مال به د غلو شپه وي
پر ميدان چې يې پرې ايښې خزانه وي
په ميراث کيلۍ پاتې بڼې تر نسلونو
نه درک د خزانو وي نه قلفونو

ويرجينيا
۹-۸-۲۰۰۱

د قدرت نشه

پخوانيو زمانو کي يو لوی ښار و
چېرته ليري په شنو غرونو کي ايسار و
له نړۍ څخه يې بېل وه عادتونه
له مخلوقه يې جلا وه رواجونه
يو يې دا و له سلګونو رواجونو
پاچهي به هيچا نه کړل په کلونو
نه له پلاره پاتېده پاچهي زوی ته
نه هوس د ميراث پاته کم او لوی ته
په دې ښار کي يې جوړ کړی يو ميدان و
د ښار ټولو اوسېدونکو ته عيان و
هري دري مياشتي ميدان کي غونډ ېدله
د قاضي مخي ته ټول حاضر ېدله

لوی قاضي به ګيندرا خوشي پر ميدان کړ
او جارچي به په هغه ګړي اعلان کړ
که هر چا کړ دا ګيند پورته زمور پاچا دی
پوره دري مياشتي امير دی زمور پېشوا دی
چي يې دري مياشتي د قدرت پر تخت تېر ېږي
په هغه ورځ به يو لاس ورنه پرې کېږي

شاهدان که د چا ډېروه د ظلمونو
تري به سترګه ایستل کېږي په سیخونو
نه دعوه نه بهانه سي څوک منلای
نه یوه ورځ پاچهي سي اوږدېدلای
په دې ښارکي د قدرت لپونې ډېروه
پاچهۍ لره ترلاس ترسترګه تېروه
د دوی مخي ته لاسونه پرې کېدله
لا د چا سترګه په سیخ ایستل کېدله
د قدرت ګیندچي به خوشي پرمیدان سو
د نیولو په تکل به زوړاو ځوان سو
د قدرت دپاره هریو ترلاس تېرو
هم د لاس هم یې د سترګي نعمت هېرو
چي په برخه به د هر سړي قدرت سو
چي به پورته څوک پر تخت د سلطنت سو
په غوغا به یې په ښارکي ځوان او زوړ کړ
په دریو میاشتو به یې زړه په خلکو سوړ کړ
پس له وخته به روان و کېږه غاړه
چا او چا بایللی لاس او سترګه دواړه
یوه ورځ چي ګیندرا خوشي سو میدان ته
جارچي خوله وه سمه کړې و اعلان ته
چي راتوپ کړله میدان ته یو وګړي
نه یې لاس و نه یې سترګه د زوی مړي

چـــا پوښـــتنه ورنـــه وکړلـــه نادانـــه
تـــه پـــه څـــه منـــډي وهـــې مـــوړيـــې لـــه ځانـــه
پـــه دريـــو مياشـــتو کـــي بـــه لاس درنـــه اره کـــړي
يـــا دي ښـــايي بلـــه ســـترګه درڼـــده کـــړي
ويـــل درې مياشـــتي چـــي کـــړې مـــي نـــشه ده
لا پـــه زړه کـــي مـــي هغـــه نـــشه تـــازه ده
لا هنـــوز لـــرم يـــو لاس او يـــوه ســـترګه
د قـــدرت نـــشه مـــي نـــه پرېـــږدي تـــر مرګـــه
کـــه لاســـونه مـــي پـــرې کېـــږي ســـترګي نـــه وي
د دريـــو مياشـــتو پـــاچهي بـــه مـــي پـــه ښـــه وي
پـــه دريـــو مياشـــتو کـــي بـــه ډېـــر کـــم بـــې لاســـونو
ډېـــري ســـترګي بـــه کـــم کمـــي لـــه ســـرونو
چـــي قاضـــي وي چـــي دا ګينـــد او دا ميـــدان وي
پـــه دې ښـــار کـــي داســـي ډېـــر بـــه لېونيـــان وي

ويرجينيا
۹-۱-۲۰۰۱

یارانه

پخوانیو زمانو کي یو لوی خانو
پر باغونو یې ولاړ نیمی آسمانو
هم سخي و هم باتور هم ښکلی ځوانو
د زړه ډک لکه زمری و پهلوانو
مهربان پریتیمانو پرخوارانو
پرپوښتنه و حاضرد رنځورانو
په پاللي همېشه مړه او ژوندي وه
په روزلي وه که غم و که ښادي وه
هره شپه یې مجلس تود و د یارانو
له قلایې و ږغ پورته د سازیانو
چي سندري چا ویلې د ده مل و
چي په ښار کي رابي و د ده خپل و

د چا غوړي وې چمبې په خیراتونو
چایې وکړلې مبلې پر ذکاتونو
ډلي ډلي ورته ناست غوړه مالان وه
تر څپلیو ترګامونو یې قربان وه
شل او دېرش یې نوکران او مزدوران وه
په سل ګونو یې د مځکو بزګران وه

په دعا يې هم کوچنيان وه هم لويان وه
په پلټنو يې ياران او مخلصان وه
خو هر ګوره نه يې ورور و نه يې پلار و
نه يې زوی په نصيب کړی کړ ګار و
دړې څلور يې واده کړي ارتينې وې
د ګلونو تر ګډيو ښايستې وې
هره ښځه يې ښايسته وه بې سينګاره
لکه سرو زرغونه وه بې بهاره
خدای نور هر څه وه ورکړي بې اولاده
زړه يې ډک و لکه زخم له فريياده
خيرات کړي يې پسونه او غوايان وه
نازولي يې پيران او دروبشان وه
په دوا يې ستړي کړي طبيبان وه
ننګولي يې په ښار کې کوډګران وه
په قسمت کې يې زوی نه و رسېدلی
له اولاد سره خدای نه خندولی
غم او فکر وار په وار وربانديزور سو
خان رنځور سو پر کور پربوتی نسکور سو
لا يې تبې وې ملګري د دردونو
چې يې واورېدل د لويو تاوانونو
په درياب کې يې ډوب سوي وه مالونه
په تاوان کې ورنه ولاړل جايداد ونه

څو يې خرڅي کړلې مځکې شنه فصلونه
قلاګاني اورشوګاني لوی باغونه
د تاوان له غمه لا پسې رنځور سو
د مرګي په انتظار يې هر تربور سو
ورځ تر بلې يې زور زيات سو د دردونو
طبيبان يې سول عاجز له درملونو
نه اثر کاوه ملا او تعويذونو
نه اميد له لويو لويو زيارتونو
آوازه سوه خان له رنځه نه جوړيږي
يا به نن وي يا سبا کار يې خلاصيږي
ناجوړې ته يې عاجزه طبيبان دي
په تعويذ يې ستړي سوي ملايان دي
پر ځواني يې د مرګي لاري سپړې دي
پر فاني دنيا يې پاته يو څو شپې دي
په قلا کې يې نور نه وه هوسونه
نه ياران وه نه مستي نه پايکوبونه
نه له هري خوني پورته آوازونه
نه خوښي وه نه نغمې وې نه رقصونه
نه د خان په کور کې هره ورځ ياران وه
نه په ورځ کې تر ده سل ځله قربان وه
يو اشنای چې تر دا ټولو پر ده ګران و
دا د خان دپاره ځان و هم جهان و

لـــه ســـهاره تـــر مابنـــامه پـــر مېلمـــه و
لکـــه ســـيوری همېـــشه بـــه ورســـره و
ده بـه تـل ويـل کـه مـال دی کـه مـي ځـان دی
تـر وېـښته مـي قربـان کـړی د خپـل خـان دی
چـي ژونـدی بـه يـم يـوه ورځ بـې لـه خانـه
خدايـه مـرګ مـي کـړې پـه برخـه لـه آسـمانه
خدايـه تـه مـي د خپـل يـار د بـلا سـپر کـړې
د اجـل غـشی يـې مـا تـه برابـر کـړې
خـو چـي ږغ سـو د طبيـب چـي نـه جـوړېږي
خـان کـه ژر وي او کـه وروسـته روانېـږي
نـو اول ورځخـه ليـري هغـه يـار سـو
لـه تربـور سـره ملګـری سـو اغيـار سـو
بيـا يـې نـه وکـړه د خـان د رنـځ پوښـتنه
نـه يـې پـل هغـې کـوڅې تـه کـړ دننـه
پـه کوڅـه کـي يـې د يـار قـدم پـردی سـو
د خـان سيوری يـې پـه سـترګو کـي اغـزی سـو
خـو د خـان اجـل لا نـه و رسـېدلی
پـه تنـدي کـي يـې لا مـرګ نـه و ليکلـی
لا يـې پاتـه پـر نـابوده دنيـا شـپې وې
لا پـه برخـه يـې يـو ځـو خـوږې ترخـې وې
لـه بـستر ځخـه راپورتـه سـو روان سـو
بيـا پـه کلـي پـه مالـت کـي ږغ د خـان سـو

بیا یې شاته ورپسې خپل نوکران وه
بیا یې خلک په ثنا صفت ګویان وه
زوړ اشنای چې برته له لیري را پیدا سو
خان یې ولیدی له ورایه په خندا سو
ښه سو خدایه چې دي بیرته خان را جوړ کی
په دښمن او رقیبانو مي زړه سوړ کی
خان له یاره په ګیله وکړه پوښتنه
نن دي څرنګه په یاد سوم درواغجنه
زه دا دوه کاله رنځور وم ناتوانه
ستا په زړه کي یو ځل تېر نه سوم نا ځوانه
یاریې خوله کړه ورته خلاصه ویل خانه
په پېغور پېغور مي مه شړه له ځانه
دا دنیا د مړو نه ده د ژوندو ده
چې ژوندي ورباندي ګرځي د هغو ده
طبیبانو ته ژوندی نه وې بللی
ملایانو هدیرې ته وې سپارلی
موږ هم نه وې حسابلی په ژوندو کي
ژریا وروسته مو کتلې هدیرو کي
چې له مړو سره یاري کوي نادان دی
بېخبره له قانونه د جهان دی
اوس چې بیرته ژوندی سوی یې زموږ خان یې

په ژوندو کي تر هر چا راباندي ګران يې

ويرجينيا

۲۰۰۰- ۳- ۲۰

پای

Ketabona | **کتابونه**
WWW.KETABONA.COM

له کتابونه ډاټ کام انلاین کتابتون څخه په وړیا ډول
په ډېره آسانه بڼه صفاء هرارخیز کتابونه ډاونلوډ کړئ!

www.ketabona.com



@Ketabona www.ketabona.com info@ketabona.com

TALK TO US

+93 767 616767
info@Ketabona.com